

# د افغانستان په اساسي قانون کې د قواوو جلاوالی: یوه موضوعي مطالعه

فرید حمیدي او اروني جیاکودی

وري ۱۳۹۴

UNITED STATES INSTITUTE OF PEACE

FORMIN.FINLAND.FI
EMBASSY OF FINLAND
KABUL

۱۳ کاله
باکیفیته څېړنه

څېړنې د ښه افغانستان لپاره
AREU

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد

د موضوعي څېړونولړۍ

# د افغانستان په اساسي قانون کې د قواوو جلاوالې: يوه موضوعي مطالعه

فريد حميدي او اروني جياکودي

وري ۱۳۹۴

UNITED STATES INSTITUTE OF PEACE

FORMIN.FINLAND.FI

EMBASSY OF FINLAND
KABUL

دغه څېړنه د امريکا د متحده اياالتودسولی د انستيتيوت او د فنلند د سفارت په مالی مرسته تر سره شوی ده.

د پښتۍ انځور: د پارلمان د غونډې په جریان کې د پارلمان غړي رایه ورکوي. (د پښتۍ انځور له ګلبدین الهام څخه).

ژباړن: محمد کاظم ملوان

د خپرونې کود: ۱۵۰۷P

© ۱۳۹۴ د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد سره ټینې حقوق محفوظ دي. کیدای شي دغه خپرونه تکثیر او بیا چاپ شی او یا دبیا لاسرسی په دستګاه کې زېرمه او یا په هره بڼه او هره وسیله لکه: برقي ضبطی او نورو وسایلو سره انتقال شی، په دې شرط چې د لیکوال او د افغانستان د څېړنې او ارزونی د واحد د مشخصاتو یادونه په کې وشی. د هغې پلورل او پیرودل او له هغې څخه هر ډول سوداګریزه استفاده منع ده. که چیرې دغه خپرونه بیا خپره او یا د بریښنایي بڼه په واک کې ورکړل شی، باید دافغانستان د څېړنې او ارزونې واحد انترنتی کرښه www.areu.org.af په هغه کې چاپ او یا په انترنتی صفحه ولیکل شي. د هر ډول ګټې اخیستنې لپاره چې پورته یې یادونه ده شوې باید مخکې له مخکې د خپرونکي دافغانستان د څېړنې او ارزونې واحد لیکلې اجازه له انټرنیټي سایټ www.areu.org.af او یا له ۷۹۹۲۰۸۵۴۸ (۰) ۰۰۹۳ شمېرې سره د تماس له لارې ترلاسه کړی

## د لیکونکو په اړه

فرید حمیدي د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون مرستیال او کمیشنر دی. نوموړی په ټولو قانوني او په اساسي قانون پورې تړلو موضوعاتو کې د ولسمشر لوی سلاکار دی او د ولسمشرۍ د ټاکنو په موده کې د ټاکنو د نظارت د مرکزي څېړې په توګه دنده ترسره کوي. ښاغلي حمیدي پخوا د حکومت د لوړ پوړو چارواکو په ګومارلو کې د جمهوري ریاست د سلاکارانو د ډلې د ریېس، د ټاکنو د شکایتونو د خپلواک کمیسیون د کمیشنر او د اضطراري لویې جرګې د جوړولو د خپلواک کمیسیون د کمیشنر په توګه دندې ترسره کړې دي. نوموړی په کابل کې له آزاد پوهنتون څخه د جزا په حقوقو او کریمینولوژۍ (جرم پیژندنې) کې ماسټرۍ؛ په حقوقو او جنایي علومو کې د ملي پولیسو له اکادمۍ څخه د لیسانس او د کابل له پوهنتون څخه په حقوقو او سیاسي علومو کې د لیسانس درجې لاس ته راوړې دي.

اروني جیاکودی د افغانستان در څېړنی او ارزونی په واحد کې د ښه حکومت کولو د پروګرام آمره ده او د اساسي قانون په اړه د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې (AREU) د څېړنو په شمول په حاکمیت پورې د تړلو څېړنو د پروګرام مدیریت او اداره په غاړه لري. نوموړې د کوینسلند له پوهنتون څخه په حقوقو او همدا ډول په علومو کې د لیسانس درجې ترلاسه کړې دي. آغلې اروني په آسترالیا کې د دعوا د وکیلې په توګه منل شوې ده، او د فلیچر له ښوونځۍ څخه یې په حقوقو او او دیپلوماسي کې د ماسټرۍ درجه ترلاسه کړې ده. په افغانستان کې له دندې څخه پخوا، نوموړې د اساسي قانون د سمون او بشري حقونو په ساحې کې د سریلانکا په کولمبو کې دنده ترسره کړې ده. هغې پخوا له روهان ادریسنها سره یوځای د اساسي قانون اتلسم تعدیل: مفهوم او جریان لیکلی ده (کولمبو: د پالیسي د بدیلونو مرکز، ۲۰۱۱).

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په کابل کې میشته یوه خپلواکه څېړنیزه موسسه ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالې درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څېړنو له لارې پرپالیسۍ او چارومثبتې اغیزې دي، او همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه، د څېړنې پایلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسیدو لپاره له خپلو څېړنو او کتابتون څخه د ګټې اخیستنې دترویج په موخه له پالیسي جوړوونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کوونکو سره ددوی د څېړنېزې وړتیا د پیاوړي کولو په موخه ښکیل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد (AREU) په ۲۰۰۲ کال کې په افغانستان کې د نړیوالې مرستندویې ټولنې په همکارۍ جوړ شو. دغه بنسټ د مشرتابه یو بورد لري چې د مرستندویو ادارو، لکه: ملګرو ملتونو او نورو ګڼ اړخیزو ادارو او نادولتي ټولنو استازي پکې ګډون لري.

په ۲۰۱۵ کال کې د دغه بنسټ د ځانګړو پروژو ملاتړ د اروپایي کمېسیون (EC)، د سویډن د بهرنۍ پرمختیا د مرستندویه ادارې (SIDA)، د نړیوال پرمختګ انستیټیوټ (ODI)، نړیوال بانک، د امریکا د سولې انستیټیوټ (USIP)، د نړیوالې همکارۍ لپاره آلماني ټولنې (Gmbh(GIZ-GOPA، د افغانستان لپاره د سویډن کمیټه (SCA)، د ختیځ او افریقایي مطالعاتو لپاره د لندن پوهنتون (SOAS)، د امریکې د متحده ایالاتونو د نړیوال پرمختیا سازمان (USAID)او د فیلینډ د سفارت لخوا تر سره کېږي.

# مننه

لیکونکي له ټولو هغو کسانو څخه چې د ښیړنې د مرکو لپاره یې خپل وخت په سخاوت سره زمونږ په واک کې کېښود ، مننه کوي. لیکونکي په عین حال کې د ښیړنې مرسته کوونکو قمرالدین صدیقی او علیشاه حسن زاده ته چې په مختلفو وختونو کې یې د اړوند موادو په راټولولو او ژباړې کې مرسته کړې ، کور ودانی وایي.

لیکونکي غواړي له ښاغلي نادر نادري او آغلې غزال حارس څخه چې د دې لیکنې د پخوانیو متنونو په اړه یې خپلې نظریې وړاندې کړې دي، مننه وکړي.

فرید حمیدی او اروني جیاکودی

وری **۲۰۱۵**

# د موضوعاتو لیکلړ


د مطلب لنډیز ۱
۱. سریزه ۱
۲. میتودولوژي ۲
۳. د قواوو جلاوالی ۳
۳.۱ د افغانستان په اساسي قانون کې د قواوو جلاوالی ۳
۳.۲ اجراییه قوه ۳
۳.۳ د ولسمشر د مرستیالانو دنده ۴
۳.۴ د ولسمشر واکونه او دندې ۴
۳.۵ قضاییه قوه ۱۱
۴. موضوعي مطالعه: د وزیر سپنتا پرضد د نه باور رایه ۱۷
لومړی جدول: د پېښو مهال وېش ۱۷
۴.۱ د نه باور رایې لنډ تاریخ ۱۷
۴.۲ د نه باور رایې په اړه د سترې محکمې پرېکړه ۱۹
۴.۲.۱ څرګند او قانع کوونکي دلیلونه ۱۹
۴.۲.۲ د مې د ۱۰مې نېټې د رایې قانونیت ۱۹
۴.۲.۳ د مې د ۱۲مې نېټې د رایې قانونیت ۱۹
۵. د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون ۲۱
۶. د اساسي قانون د تفسیر واک ۲۳
۷. د نه باور رایې صادرول ۲۴
۸. پایله ۲۸
۹. وړاندیزونه ۳۰


# انځورونه


۱ انځور: جمهور رئیس کرزی د کابینې نوو غړو ته په یوه محفل کې لوړه ورکوي ۵
۲ انځور: محمد یونس قانونی، د ۲۰۰۵-۲۰۱۰ کلونو په جریان کې د ولسي جرګې رئیس ۸
۳ انځور: د افغانستان قضائیه اداره د یوې محکمې په غونډه کې ۱۲


# جدول


لومړی جدول: د پېښو مهال وېش ۱۷

# اصطلاحات

| | |
|---|---|
| لویه جرګه | لویه شورا ، د اساسي قانون شورا |
| مشرانو جرګه | د اعیانو شورا ، د پارلمان لوړه خونه |
| ولسي جرګه | د خلکو شورا ، د پارلمان کښته |

# لنډ نومونه

| | |
|---|---|
| AIHRC | د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون |
| ICOIC | د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون |
| IEC | د ټاکنو خپلواک کمیسیون |
| L J | لویه جرګه |
| MJ | مشرانو جرګه |
| NUG | د ملي یووالي حکومت |
| WJ | ولسي جرګه |
| SNTV | واحده نه لیږدیدونکې رایه |

# د مطلب لنډيز

د افغانستان په اساسي قانون کې د قواوو جلاوالی هم د کاغذ پرمخ او هم په تطبيق او عمل کې نيمګړتياوې لري. قدرت په ټينګه توګه د قضاييه او مقننه قواوو په ضرر او د اجراييه قوې په ګټه تعريف شوی ده. د وخت د بهرنيو چارو وزير، ډاکتر رنګين سپنتا ، په وړاندې د نه باور رايه د اساسي قانون ابهام او پيچلتوب ښکاره او همدا ډول د دولت د هرې څانګې د کړنو کمزورتيا يې وښودله . راتلونکو سياسي بحرانونو څوڅو وارې د اوسني قانون جوړښت بربنډ کړ، او دا خبره يې جوته کړه چې په ډېرو سختو حالاتوکې د دولت هيڅ څانګه نه غواړي چې د اساسې قانون پراساس د نورو څانګو دندې او صلاحيتونه ومني. اوسنۍ موضوعي مطالعه معلوموي چې د افغانستان په اساسي قانون کې قواوې څنګه سره جلا شوي دي، او د ډاکتر سپنتا په اړه د نه باور رايې ته په پاملرنې سره، ارزونه کوي چې د قواوو جلاوالی په عمل کې څرنګه عملي شوي ده .

په لومړۍ برخه کې د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون پربنسټ د دولت درې څانګو ته د واکونو او دندو ويش څېړل شوي، او د کاغذ پرمخ د قواوو د جلاوالی د قوت او کمزورتيا ټکي څرګند شوي دي. دويمه برخه د ډاکتر سپنتا په وړاندې د نه باور په رايې رڼا اچوي او هغه سياسي عوامل سپړي چې د پيښنو پايلې او تسلسل او همدا ډول د پيښنو حقوقي او د اساسي قانون پراساس مفاهيم او تعبيرونه يې رامينځ ته کړل. د دې ليکنې لپاره څېړنه د اړوندو علمي سرچينو او ليکنو، د رسنيو مقالو او حقوقي سندونو ته دبيا کتنې په بڼه ترسره شوې ده. همدا ډول له اړوندو ځانګړو شخصيتونو سره چې له نږدې څخه يې د نه باور د رايې د پيښنو څارنه کوله ډيرې مرکې وشوي، او له دغو مرکو څخه راټول شوي مالومات د موضوعي مطالعي لپاره د بنسټيزو مالوماتو په توګه وکارول شول.

د اوسني اساسي قانون پراساس ولسمشر د قوانينو په عملي کولو کې د پام وړ واک، او د قضاييه قوې په ټولو کچو کې د ګومارنو د څارنې او کنترول صلاحيت په لاس کې لري. دې موضوع د اساسي قانون پربنسټ د قدرت جلاوالي او انډول ته زيان رسولي ده. ددې ترڅنګ د ټاکنو د واحد نه ليږديدونکې رايې سيستم يو ټوټې ټوټې پارلمان را مينځ ته کړي، چې ددې وس نه لري ترڅو د کار وړ داسې سياسي اتحادونه جوړ کړي چې په يوه غږ اجراييه قوه حساب ورکولو ته اړه کړي. په همدې توګه قضاييه قوې هڅه نه ده کړې چې د يوې خپلواکې څانګې په توګه د اساسي قانون د يوه کمزوري جوړښت او همدا ډول په قضاييه قوې کې د تاريخي جوړښتيز ظرفيت د نه شتون په شرايطو کې، خپل ځان تثبيت کړي.

هغه پيښې چې د ډاکتر سپنتا په وړاندې د نه باور رايې څخه وروسته را مينځ ته شوې، د يوه اوږد سياسي او اساسي قانون بحران سبب شوې چې دا خبره يې تر آزماېښت لاندې راوسته چې په اساسي قانون کې قواوې څنګه سره جلا شوي دي. د بحران په جريان کې اجراييه قوې د اساسي قانون له ابهاماتو او تشو څخه بده ګټه واخيسته او هڅه يې وکړه چې له اساسي قانون څخه هر عمل وکړي. پارلمان چې ويشل شوی وو، هڅه وکړه له ولسمشر څخه د ځانګړو وزيرانو د هدف ګرځولو له لياري غچ واخلي.قضاييه قوې، چې د اجراييه قوې تر احسان لاندې وه،خپلو هڅو ته دوام ورکړ ترڅو داسې پريکړې وکړي چې د اجراييه قوې رضايت لاس ته راوړي.

داسې ويل کيږي چې د اساسي قانون دا جګړې مازې د يوې نوې دموکراسۍ "ودې کوونکي دردونو " دي. همدا ډول دا انګيرنه شتون لري چې د اجراييه قوې او مقننه قوې ترمينځ اختلاف، او د نه باور رايې په وار وار عملي کيدل، په حقيقت کې ددې ثبوت ده چې د څانګو ترمينځ څار او کنترول په واقعي توګه کار کوي. که چيرې د اساسي قانون دغه اختلافونه مازې د نوي زيږيدونکې، خوعملي دموکراسۍ، نښې وګڼل شي، داسې څرګنديږي چه په خورا لوړې بيې تمامې شوي دي. په ډېرو مواردو کې د اساسي قانون دا جګړې او مخالفتونه د دې لامل شول چې پر دولتي جوړښتونو باندې د خلکو باور له مينځه ولاړ شي.

د ملي يووالي د حکومت (NUG) په محتوي کې، د قواوو د جلاوالي پوښتنې ځانګړې اهميت پيدا کوي. اوس مهال د اجراييه رييس CEO او ولسمشر ترمينځ د اختلاف او مناقشې په صورت کې، کوم سياسي يا قانوني عام توافق نشته چې د اساسي قانون د تعبير او تفسير صلاحيت په کوم جوړښت پورې اړه لري. داسې ستونزې لکه د نه باور رايه او همدا ډول د هغه جوړښت نشتوالی چې د تفسير واک ولري او د اعتبار خاوند وي، کولای شي مهمې سياسي پايلې رامينځ ته کړي، او په پاي کې د ملي يووالي د حکومت ترمينځ توافق ته زيان ورسوي او هغه کمزوری کړي.

ددې لپاره چه د قواوو جلاوالی د اساسي قانون پراساس غښتلي او قوي شي، د دولت د هرې څانګې له خوا بايد هرومرو ډيرې هڅې ترسره شي ترڅو خپل واکونه او دندې د اساسي قانون پربنسټ په قانوني توګه ترسره کړي:

- د اجراييه قوې د پراخ واک محدودول: اجراييه قوه بايد په ټينګه سره د اساسي قانون پراساس خپل واکونه ترسره کړي. دبيلګې په توګه، له تقنيني فرمانونو څخه يوازې د « بيړنيو اړتياوو»په واقعي مواردو کې ګټه واخيستل شي.او ټول داسې فرمانونه بايد د اساسي قانون له احکامو سره سم پخپل وخت پارلمان ته وړاندې شي. اجراييه قوه بايد په فعاله توګه په قضاييه قوې کې د خپلواکۍ لپاره آسانتياوې برابرې کړي، او سترې محکمې ته د قاضيانو په ګومارلو کې واک ور کړي.

- د قضاييه قوی غښتلي کول: اجراييه قوه بايد په ستري محکمې کې خالي کرسيو ته د قاضيانو په ګومارلو کې بيړني اقدامات وکړي او نورې ستونزې لکه د اساسي قانون له اصولو سره سم، د دوه زړه کيدلو شرايط له مينځه يوسي او نورې ستونزې لکه ټکني شرايط د اساسي قانون له اصولو سره سم حل کړي، د قاضيانو د معاشونو موضوع سمه کړي او محکموته د خپلې بودجې په جوړولو کې ډيره خپلواکی ورکړي. همدا ډول قضاييه قوه بايد په ټولو کچو کې د قاضيانو د وړتيا او ظرفيتونو په لوړولو کې چټک ګامونه پورته کړي، او د قضا د خپلواکۍ فرهنګ ته وده ورکړي.
- د پارلمان د کړنو اصلاح کول: پارلمان بايد د خپل نظارت واک، د بيلګې په توګه، د اساسي قانون د ۸۹ مادې پربنسټ د حکومت د کړنو په هکله غښتلی کړي. همدا ډول ، پارلمان اړ دی چې خپل تقنيني کارونه، په تيره بيا د قوانينو د تسويد او بيا کتنې په اړه خپله وړتيا اصلاح او سمه کړي.

# ۱. سریزه

د افغانستان له اساسي قانون سره سم قدرت د اجراییه، ملي شورا او قضاییه قواوو ترمینځ ویشل شوی دی. خو د کاغذ پرمخ او همدا ډول په عملي تطبیق کې د قواوو تفکیک له یو شمیر ستونزو سره مخامخ ده. په ډېرو مواردو کې واک د قضاییه قوې او پارلمان په ضرر، د اجراییه قوې په ګټه د دې ځواک په لاس کې تمرکز لري. ولسمشر د قوانینو د تطبیق ، او همدا ډول د قضاء په ټولو کچو کې د ګومارلو په اړه مهم کنترول په لاس کې لري. دغه موضوعي مطالعه د دولت د هرې څانګې واکونه او دندې، او دا چې په عمل کې کنترول او انډول څنګه ترسره کیږي، ترڅېړنې لاندې نیسي.

پارلمان د اجراییه قوې د کړنو د څار مهم واک لري، د بیلګې په توګه پارلمان د خپلو واکونو له لارې تقنیني فرمانونه تربیا کتنې لاندې نیسي او هغو ته رایه ورکوي؛ د حکومت له خوا د مالي لګښتونو تفتیش کوي؛ او پارلمان ته د حکومت وزیران راغواړي او له هغوی څخه پوښتنې کوي. ځینې دغه واکونه لکه په بودجې باندې پوره غور اوڅار ؛ که څه هم په بې نظمه توګه، عملي شوي هم دي. په داسې حال کې چې ځینې نور واکونه لکه د حکومت د کړنو د ځېرلو او ارزونې لپاره د ځانګړو کمیسیونونو جوړول تر اوسه عملي شوي نه دي[1] د تقنیني قوې ډېرې ناوړتیا وې  چې باید د اساسي قانون د اصولو پراساس خپله ونډه  ترسره کړي د واحد نه لیږدیدونکي رایې د سیستم زیږنده ده، چې څوڅو واره یې ټوټې ټوټې شوي  پارلمانونه رامینځ ته کړي دي. د سیاسي ګوندونو په نه شتون کې، د افغانستان مقننه قوې هڅه کړې چې داسې کارورکوونکې سیاسي اتحادیې جوړې کړې چې د حکومت د کړنو په وړاندې په یوه غږ عمل وکړي.

قضاییه قوه د جوړښتیزو نیمګړتیاوو او ابهامونو له امله په بنسټیزه توګه د دولت د یوې خپلواکې څانګې په توګه پخپلو کړنو کې له ستونزو سره مخامخ ده. لکه چې پورته وویل شو، ولسمشر د قضاء د ټولو کچو په ګومارلو باندې پوره کنترول لري. اساسي قانون هم د قضایي بیاکتنې په اجراء کې د قضاییه قوې واک محدودوي، چې په جدي توګه  د نورو څانګو په وړاندې د انډول یا کنترول د عملي کولو په لار کې د هغې وړتیا له ستونزو سره مخامخ کوي. په تیره بیا چې اساسي قانون یوازې داسې صراحت لري چې حکومت یا محکمې کولای شي له سترې محکمې څخه  د قضایي بیا کتنې غوښتنه  وکړي. په دې توګه، اوسنی اساسي قانون هیڅ چاته چې له ولسمشر سره سیاسي مخالفت ولري(د بېلګې په توګه د ملي شورا غړي، د اپوزیسیون یا سیاسي ګوندونو غړي) اجازه نه ورکوي له سترې محکمې څخه د قضایي بیاکتنې او غورغوښتنه وکړي.

د دولت د درې څانګو ترمینځ د قدرت د ویش دغه ذاتي کمزورتیا او پیچلتوب د بهرنیو چارو د پخواني وزیر، ډاکتر سپنتا، په وړاندې د نه باور رایې څخه وروسته راڅرګند شول. د ۲۰۰۷ کال د مې په میاشت کې د کډوالو او راستیدونکو چارو وزیر اکبر اکبر او د بهرنیو چارو وزیر ډاکتر سپنتا پارلمان ته وغوښتل شول او له ایران څخه د افغان کډوالو او کارګرانو د ډله ییز اخراج  په هکله ورڅخه پوښتنې وشوې. دواړو ته د نه باور رایه ورکړل شوه. ولسمشر په غبرګون کې د اکبر اکبر په اړه پریکړه ومنله، خو د سپنتا په وړاندې رایه او پریکړه یې سترې محکمې ته واستوله، او د پارلمان له خوا هغه طرز العمل یې تر پوښتنې لاندې ونیو چې پارلمان یې د نه باور د رایې له لارې د یوه وزیر د موقوفولو لپاره په کار اچوي. راتلونکو پیښو د دولت په ټولو درې څانګو کې یو اوږد د اساسي قانون سیاسي بحران رامینځ ته کړ.

د دغو بحرانونو او اختلافونو د لید وړ ځانګړتیا په دې کې وه چې د موضوع د سیاسي او قانوني اړخ په هکله د اختلاف پرځای، د دولت هرې څانګې هڅه کوله د اساسي قانون پربنسټ د نورو څانګو واکونه او دندې تر پوښتنې لاندې راولي. لکه چې تمه او اټکل کیده، سترې محکمې نظر ورکړ چې د ډاکتر سپنتا د ګوښه کولو په اړه رایه د اساسي قانون له حکمونو سره تناقص لري. ولسي جرګې (WJ) د ولسمشر له خوا سترې محکمې ته د موضوع په لیږلو باندې اعتراض وکړ، او هڅه یې وکړه چې د سترې محکمې له خوا د اساسي قانون د تفسیر صلاحیت د اساسي قانون پرتطبیق باندې د څارد خپلواک کمیسیون قانون د تصویب له لارې چې د اساسي قانون د تفسیر موازي واکونه په لاس کې لري، تر پوښتنې لاندې راولي. ولسمشر په لومړي سرکې د پارلمان له خوا وړاندېز شوي قانون رد کړ، خو پارلمان په غبرګون کې د اساسي قانون په تطبیق باندې د څار د خپلواک کمیسیون قانون په دوه دریمې اکثریت سره تصویب کړ. ولسمشر غبرګون وښود او نوموړي قانون یې سترې محکمې ته واستاوه چې د سترې محکمې له خوا له اساسي قانون سره په تناقص کې وګڼل شو. له دغې پریکړې سره سره، د اساسي قانون پرتطبیق د څار خپلواک کمیسیون له همغې مودې څخه جوړ شوی ده، او اوس مهال افغانستان د اساسي قانون د تفسیر لپاره دوه صلاحیت لرونکې اداري لري.

د سپنتا له ګوښه کولو راوروسته،  برخې برخې شوي پارلمان د حکومت وزیرانو ته د نه باور رایې ورکولو په هکله څوځلې سره یو ځای شوی دی. د لوی څارنوال او د سترې محکمې د قاضیانو په شمول ګڼ شمیر وزیران او د حکومت لوړ پوړي چارواکي، پارلمان ته احضار او د یو لړ دلیلونو پراساس له کار څخه ګوښه شوي دي. د اجراییه قوې غبرګونونه ډول ډول وو. ځینې وختونه د نه باور رایې منل شوې، په داسې حال کې چې نور وختونه ولسمشر په ظاهر کې پریکړې منلې خو وزیران یې د "سرپرست وزیرانو" په توګه ساتلي دي. ځینې وختونه یې د یوه وزیر په وړاندې د نه باور رایه منلې ده، خو له لنډې مودې وروسته یې هماغه وزیر په یو بل ډیر ورته مقام کې د وزیر په توګه ګومارلی ده.

---

۱ د ۲۰۱۱ کال د اګست په میاشت کې پارلمان یو ځانګړی کمیسیون د ځمکو د غصب د تحقیق لپاره جوړ کړ. خو په هر صورت، د دغه کمیسیون دریځ او دا چې آیا نوموړی کمیسیون د ۸۹ مې مادې پراساس جوړ شوی وو، مالوم نشو. د ښځو د سولې او امنیت انستیتوت لیکنه، د ولسي جرګې د دندو او روڼوالي او د افغانستان له قوانینو سره د هغې د تطابق په اړه تحلیلي ریپوټ، ۲۰۱۰ - ۲۰۱۳، "۲۰۱۴"، ۱۵ http://www.riwps-afghanistan.org/site_files/13783111101.pdf(لاسرسی ۲۰۱۵ کال د جنوري میاشت).

# ۲. میتودولوژي

د دې لیکنې لپاره د څېړنې عمده برخه د میز ترشا ترسره شوې ده. د میز ترشا څېړنه کې کتابونه، ریپوټونه، د مجلو مقالې، آنلاین منابع او د غونډو غیر رسمي یادښتونه او د ورځپاڼو مقالې شاملې وې چې د اساسي قانون، او دهغه د تطبیق په هکله لیکل شوي دي.

برسیره پردې، له لږ شمیر کارپوهانو سره مرکې شوي دي چې په هغو کې د قدرت په جلاوالي پورې تړلي تیوریک مفاهیم او پوښتنې او د افغانستان له اوسنیو شرایطو سره اړوند پوښتنې تربحث لاندې نیول شوي دي. له مرکو څخه راټول شوي معلومات ددې لیکنې د بشپړولو لپاره د اساسي معلوماتو په توګه استفاده شوې ده. نورې مرکې له هغو کارپوهانو سره تر سره شوې چې د نه باور د رایې جریان او د پارلمان او اجراییه قوې تر منځ یې سیاسی او د اساسي قانون بحران له نږدې څخه څارلی وو.

## ۳. د قواوو جلاوالی

د افغانستان د اساسي قوانینو په تاریخ کې، د قواوو د جلاوالي مفهوم لومړی ځل د ۱۹۳۱ کال په اساسي قانون کې استعمال شوی دی. په هرصورت، د قواوو جلاوالی په واقعي توګه یوازې د ۱۹۲۴ کال په اساسي قانون کې ځای پیدا کړ.[۲] هغه بنسټیز اصل چې د قواوو په تفکیک کې څرګندیږي دا ده چې هغه جوړښت چې د قوانینو د تطبیق، اجراء او عملي کولو مسئولیت په غاړه لري، کیدای شي پخپله د استبداد خواته ولاړ شي. فرانسوي فیلسوف مونتسکیو، د نوموړي مفهوم په هکله پخپله لیکنه کې داسې وایي:

"کله چې مقننه او اجراییه قوه د عین شخص، یا عین ادارې په لاس کې وي، نو هلته آزادي شتون نه لري؛ ځکه چې کیدای شي داسې انځورمینځ ته راشي چې عین پاچا یا سنا بنایي استبدادي قوانین، په استبدادی بڼه اجراء کړي."[۳]

په عملي توګه نوموړي مفهوم په دې معنا ده چې مقننه قوه قانون جوړوي، اجراییه قوه د قوانینو د عملي کولو مسئولیت په غاړه لري، او قضاییه قوه د قوانینو د انطباق او تفسیر مسئولیت په غاړه لري. د تیوري پراساس مختلفو څانګو ته د قواوو ویش او جلاوالی ګڼ شمیر ښیګڼې لري. لومړی، د قواوو تفکیک کولای شي یوازې پخپله ګټه یا د اکثریت په ګټه، د حکومت د کړنو مخنیوی وکړي (ځکه چې د نورو څانګو له خوا یې څارنه کیږي)، او دویم دا چې د دولت ادارې او څانګې به یو بل ته "په متقابله توګه حساب ورکولو ته اړ وي"، ځکه چې یوه یا ډیرې څانګې کولای شي د بلې څانګې د کړنو کنترول او انډول تر سره کړي چې غواړي د اساسي قانون د اصولو پر اساس له خپلې ټاکل شوې ونډې، څخه تیری وکړي.[۴]

په اساسي قوانینو کې کومه معیاري او یوازنی صحیح لاره د قواوو د جلاوالي لپاره شتون نه لري. کیدای شي قدرت په افقي توګه (د چارواکو ترمینځ په ملي کچه) یا عمودي توګه (په ملي او ولایتي کچه د چارواکو ترمینځ) جلا او وویشل شي. دا لیکنه په افغانستان کې د قواوو عمودي جلاوالی تر څېړنې لاندې نیسي. په ډول ډول شرایطو کې کیدای شي د قواوو ډیر ټینګ یا عادي جلاوالی وجود ولري. په عمومي توګه، په ریاستي سیستمونو کې د پارلماني سیستمونو په پرتله د قواوو جلاوالی ډیر ټینګ دی، ځکه چې په پارلماني سیستمونو کې صدراعظم (لومړی وزیر) او کابینه د مقننه قوې یوه برخه ده او صدراعظم (لومړی وزیر) د حکومت د مشر په څیر، ډیر واکونه لري چې په دودیزه توګه په اجراییه قوې پورې اړه لري. په افغانستان کې، قدرت په لږ ټینګه بڼه ویشل شوی ده، ځکه چې د هیواد اساسي قانون یوه قوي او پیاوړې اجراییه قوه منلي ده چې د قدرت داسې پراخه واکې یې په لاس کې دي چې اکثره په هغو ساحو کې ځای لري چې په دودیزه توګه په مقننه او قضاییه قوې پورې اړه لري.

### ۳.۱ دافغانستان په اساسي قانون کې د قواوو جلاوالی

د افغانستان د اساسي قانون پراساس د دولت د درې څانګو قدرت د اجراییه، پارلمان او قضاییه قواوو ترمینځ ویشل شوي ده. د قواوو اغیزمن جلاوالی باید هرومرو نه یوازې د کاغذ پرمخ بلکې په عمل کې هم څرګند وي. په لاندې برخه کې لومړی د هرې څانګې واکونه او دندې روښانه شوي، او وروسته په دې موضوع بحث شوي چې واکونه او دندې په عمل کې څرنګه پلي کیږي. د افغانستان په اساسي قانون کې د کاغذ پرمخ د قواوو د ویش په هکله یو شمیر ستونزې وجود لري. په ځانګړي توګه، قدرت د حکومت په ګټه د اجراییه په لاس کې، اکثره د قضاییه او مقننه قوې په ضرر، تمرکز پیدا کړي ده. د بیلګې په توګه هغه واکونه چې په رسمي توګه قضاییه قوې ته سپارل شوی ترڅو اجرایوي او تقنیني احکام او فرمانونه ترقضایي غور او ارزونې لاندې ونیسي، لاتر اوسه ډیر لږ په اغیزمنه توګه تطبیق شوي چې د اجراییه قوې تیری کنترول کړي.

### ۳.۲ اجراییه قوه

اجراییه قوه له ولسمشر، د ولسمشر له دوو مرستیالانو او کابینې څخه جوړه ده. ولسمشر د خلکو له خوا په مستقیم ډول ټاکل کیږي او باید له ۵۰ سلنې څخه ډیری رایې لاس ته راوړي.[۵] داساسي قانون د تسوید په مهال داسې ویل کیدل چې افغانستان تر ټولو وړومبی ثبات او د دولت قوي او غښتلو جوړښتونو ته اړتیا لري. د دې ډول نظریو ملاتړ د هغو تاریخي تجربو له خوا کیده چې افغانانو لږ تر لږه د دوو لسیزو ګډوډیو، بې قانونیو او ولایتي او سیمه ییزو جاګیرداریو (ملوک الطوایفیو) کې لیدلې وې چې د جګړه سالارانو له خوا رامینځ ته شوي وې. په دې توګه، د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون د دې څرګندې ارادې ښکارندوبې کوي چې په هیواد کې د حکومت کولو لپاره باید یوه غښتلې اجراییه قوه له پراخو واکونو سره رامینځ ته شي.[۶] ولسمشر د دولت او حکومت دواړو مشرتوب په غاړه لري. ولسمشر د بهرنۍ پالیسۍ د اجراء، د داخلي کړنلارې د جوړولو، او د ملي پالیسیو د تطبیق د آسانتیا لپاره د قوانینو د توشیح پراخ واکونه په لاس کې لري. مقننه او قضاییه قوه داسې محدود مکانیزمونه په اختیار کې لري چې نشي کولای ولسمشر حساب ورکولو ته اړ کړي.

---

۲ رانبیر ګروت، "د افغانستان په نوی اساسي قانون کې د قواوو جلاوالي"، ۲۴ ۲۹۹ ،(۲۰۰۴) ۹۱۳ ، ۸۹۷ *zaoRV* که څه هم د ۱۹۳۱ کال اساسي قانون دوه جرګه ییز پارلمان رامینځ ته کړ، خو د "قواوو واقعی جلاوالی "چې خپلواکه قصاء، او پارلمان چې د قانون جوړولو پوره واک ئې درلود، د ۱۹۲۴ کال په اساسي قانون کې رامینځ ته شو.

۳ مانتیسکیو بارون دی، [چارلز لوئیس دي سیکندات] د لیکنو کلیات، لومړی ټوک (*د قوانینو روح* (روح القوانین) (۱۷۴۸)، شپږم فصل، ۱۹۹، http://oll.libertyfund.org/titles/837 (لاس ته رسیدنه، د ۲۰۱۴ کال د نومبر لومړی نیټه).

۴ ریچارد بیلامي (بامای)؟، "د اساسي قانون (قوانینو) سیاسی بڼه: د قواوو جلاوالی، حقوق او استازې دموکراسي "*د قانون حاکمیت او د قواوو جلاوالی*، ریچارد بلامای، ۲۵۳-۲۷۴ (لندن: اسغاتی Asghate ۲۰۰۵)، ۲۵۳.

۵ *د افغانستان اساسي قانون*، (۲۰۰۴)، ۲۰ مه او ۲۱ مه ماده.

۶ رینر ګروت، "د افغانستان په نوي اساسي قانون کې د قواوو جلاوالی" *ZaoRV* ۲۴ (۲۰۰۴): ۸۹۷-۹۱۵، ۹۰۵.

ولسي جرګه د غړو د دوه دریېمي رایې له لارې کولای شي د خیانت او جنایت په تور د ولسمشر په وړاندې د جرم اعلان وکړي.[۷] منسوب شوي اتهام وروسته لویې جرګې (LJ) ته وړاندې کیږي، او د لویې جرګې د رای په دوه دریېمه، ولسمشر د ځانګړې محکمې له خوا تر محاکمې لاندې نیول کیږي. په ځانګړې محکمه کې سیاسي شخصیتونه او د سترې محکمې درې قاضیان شامل دي.

## ۳.۳ د ولسمشر د مرستیالانو دنده

د ولسمشر دواړه مرستیالان د ولسمشر د کاندیدلو له "تکت سره یوځای "ټاکل کیږي[۸] په اساسي قانون کی دواړو مرستیالانو ته لږ دندې ورکړل شوې دي. لومړی مرستیال د ولسمشر د مستقیم ځای نیوونکي په توګه پیژندل شوی دی.[۹] دویم مرستیال ته هیڅ ډول ځرګنده قانوني دنده سپارل شوې نه ده. ماتیدونکي امنیتي چاپیریال ته په پام داسې انګیرل شوې وه چې د حکومت د دوام د ډاډمن کیدلو لپاره د دوو مرستیالانو شتون لازمي وو[۱۰] په دی توګه دا موضوع منل شوې ښکاري چې د لومړي مرستیال په غیاب کی به دویم مرستیال د هغه ځای ناست وي.

د دوو مرستیالانو شتون په عین حال کې قومي لړکیو ته دا امکان برابروي چې په حکومت په لوړو پوړو کې د هغوي استازیتوب وشي. په ۲۰۰۴ کال کې ولسمشر کرزي احمد ضیاء مسعود، د اسلامي جمعیت غړی او د احمدشاه مسعود ورور، چې په شمال کې یې د طالبانو په وړاندې د جګړې لارښوونه کړې وه، د لومړي مرستیال په توګه او کریم خلیلی د وحدت اسلامي د ګوند یو مشر د دویم مرستیال په توګه وټاکل ترڅو د تاجیکانو او هزاره ګانو رایه ترلاسه کړي. د ۲۰۰۹ کال په ټاکنو کې، ولسمشر کرزي، مارشال محمد قسیم فهیم، د نظار د شورا یو پیاوړی قوماندان او د پخواني احمد شاه مسعود یو مرستندوی د ضیاء مسعود پرځای د لومړي مرستیال په توګه غوره کړ.

په عملي توګه هر مرستیال ته د حکومت د مختلفو برخو مشرۍ او څارنه سپارل کیږي. لومړی مرستیال اکثره د وزیرانو د شورا د اقتصادي پرمختیا د کمیټې مشري کوي، او دویم مرستیال ته د تقنیني کمیټې او د ناوړه پیښو د مخنیوي لپاره د چمتووالي کمیټې او نورو لنډ مهاله کمیټو مشرتوب سپارل کیږي چې د اجراییه قوې له خوا جوړیږي.

دواړه مرستیالان په اجراییه ځانګې کې د واکونو له مختلفو کچو څخه برخمن او په عمومي توګه د پارلمان له لید څخه بهر پاته وو. د وزیرانو او په اجراییه ځانګه کې د نورو چارواکو په ګومارلو کې د مرستیالانو ونډه د لید وړ وه، خو داسې مکانیزم شتون نه درلود چې پراساس یې هغوي د پارلمان په وړاندې حساب ورکوونکي وي.

## ۳.۴ د ولسمشر واکونه او دندې

ولسمشر ته دا واک ورکړل شوی دی چې د دولت او حکومت مشري په غاړه ولري. د اساسي قانون د تسوید په جریان کې د اساسي قانون د بیاکتنې کمیسیون یوه مسوده وړاندې کړه چې په هغې کې د نیمه ریاستي سیستم وړاندوینه شوې وه او په هغه کې هم لومړي وزیر او هم ولسمشر شتون درلود. د نومړي وړاندیز پربنیاد ولسمشرپه مستقیمه توګه د خلکو په رایو، او صدراعظم د ولسي جرګې له خوا ټاکل کیده. د یاد وړاندیز پربنسټ، د ۱۹۲۴ کال د اساسي قانون په څیر، د دولت رییس دا واک درلود چې د سترې محکمې قاضیان او د مشرانو جرګې (MJ) دریېمه برخه غړي وټاکي. د یادې شوې مسودې په رڼا کې لومړي وزیر د " قانون جاري کولو، د افغانستان د خپلواکۍ د ساتنې، له ملي ګټو څخه دفاع، د مالي مسئلو اداره، او ملي شورا ته د راپور وړاندې کولو "مسئولیتونه په غاړه درلودل."[۱۱] په هر حال، دغه وړاندیز، او په پراخه توګه د لومړي وزیر د درلودلو مفکوره په دې دلیل رد شوه چې د دوو اجراء کوونکو رامینځ ته کول به "د واک پر سر له سیالۍ "سره( یو د خلکو او بل د پارلمان له ملاتړ سره) په داسې یوه هیواد کې چې لاپخوا ماتیدونکي ده او همدا اوس وسله وال اختلافونه تجربه کوي، لاډیر بی ثباته کړي.[۱۲]

د تسوید په مرحلو کې داسې فکر کیده چې د افغانستان لپاره لومړی لومړیتوب د غښتلو او پیاوړو دولتي جوړښتونو جوړول دي. د مرکز او اطرافو ترمینځ د کنترول پر سر مبارزې ته په کتلو سره، او په ځانګړې توګه په محلونو کې د وسله والو او جګړه سالارانو حضور ته په پاملرنې سره، د قدرت مرکزي کول اړین وو. په دې توګه ولایتي چارواکو ته د قدرت سپارل رد شو، ځکه چې دا ویره کیده چې داسي جوړښت به "د واک غیر قانوني درلودونکو "ته لاډیره زمینه برابره کړي. "[۱۳]

---

۷ *د افغانستان اساسي قانون*، ۲۹مه ماده.

۸ د افغانستان اساسي قانون، ۲۰مه ماده؛ ګروت "د افغانستان په نوي اساسی قانون کې د قواوو جلا والی»، **۹۰۵**.

۹ *د افغانستان اساسي قانون*، ۲۷مه ماده.

۱۰ ګروت، "د افغانستان په نوي اساسي قانون کې د قواوو جلاوالی»، **۹۰۵**.

۱۱ روز ایلر، الیزابت اسپینوزا، جین فارنیګتون، ګیب لیدن، دانیل لویس، *د افغانستان د اساسی قانون لپاره یوه سریزه* (ستانفورد: په افغانستان کې د قانوني زده کړو پروژه، ۲۰۱۳)، **۱۰۵**؛ د نړیوال بحران ډله، "په افغانستان کې د اساسي قانون جرګه"، http://www.crisisgroup.org/~/media/Files/asia/south-asia/afghanistan/B029%20Afghanistan%20The%20Constitutional%20Loya%20Jirga.pdf. (د ۲۰۰۳ کال د دسمبر ۱۲مه).

۱۲ په هغه سیاست باندې د بحث لپاره چې ریاستي سیستم ته ئې نیمه ریاستي سیستم څخه اوښتون وهڅاوه، د برنت روبن لیکنه "د افغانستان لپاره د اساسي قانون جوړول "د دموکراسۍ په ژورنال **۳۱۵** مې ګڼې (۲۰۰۴) کې وګورئ: **۵**–۱۲، ۱۹- ۱۳. روبین وایي چې کله هغه وخت راورسیده چې د پارلماني سیستم په مقابل کې ریاستي سیستم ته رایه ورکړل شي، پښتنو استازو له ریاستي سیستم څخه ملاتړ وکړ. د پښتنو لپاره ځرګنده وه چې د هغوی یو خپل (ولسمشر کرزی) به لومړنی ولسمشر شي. متحده ایالاتو هم له ریاستی سیستم څخه ملاتړ وکړ، ځکه چې دې سیستم "یو روښانه پیژندل شوی افغان شریک ملګری "دولت رامینځ ته کاوه. خو نورو قومي ډلو پارلماني سیستم ته لومړیتوب ورکاوه ځکه چې د هغوی په نظر ئې د یوه ائتلافي حکومت لپاره آسانتیا برابروله چی لاډیرپراخ بنسټه او استازی خو لږ متمایل اجرائیه قوت یې رامینځ ته کاوه. ددې نظر په غبرګون کې داسې استدلال کیده چې په جګړو ځپلو هیوادونو کې څو ډله ییز قومی ټاکنیزې حوزې او پارلمانونه کیدای شي د قومي کرښو پر اساس قطبی بڼه ونیسي.

۱۳ روبین، "د افغانستان لپاره د اساسی قانون جوړول۱۲-۱۳..

د اساسي قانون دریم فصل وایي چې ولسمشر صلاحیت لري خپل واکونه "په اجراییه، مقننه او قضاییه برخو کې "عملي کړي. "[۱۴] په دې توګه د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون په څرګنده توګه د ۱۹۲۴ کال له اساسي قانون څخه څرګند انحراف ده ځکه چې دواړه واکونه یې ولسمشر ته ورکړي دي.[۱۵] پوهان یادونه کوي چې ولسمشر ته د ۲۰ مې مادې پر اساس د دولت د درې ګونو قواو د واک سپارل "ولسمشر ته د پاچا د صلاحیتونو "د ورکولو په معنا ده.[۱۶] په حقیقت کې د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون په ۲۴ مې مادې کې لیست شوی واکونه کټ مټ د ۱۹۲۴ کال د اساسي قانون د ۹ مې مادې په شان دي چې د "پاچا واکونه او دندې "[۱۷] څرګندوي.

هغه واکونه چې ولسمشر ته ورکول شوي دي پخپل وار په درې ډلو ویشل کېږي: هغه واکونه چې ولسمشر یې په خپلواکه توګه عملي کوي، هغه واکونه چې د پارلمان په تایید یې ترسره کوي، او هغه واکونه چې ولسمشر یې نورو ته سپارلی شي.[۱۸] ولسمشر کولای شي دا لاندې واکونه په اجراییه برخه کې پخپل صلاحیت عملي کړي: د اساسي قانون د اجراء څارل[۱۹]؛ د وسله والو ځواکونو مشرتوب[۲۰]؛ د ځمکنۍ بشپړتیا او د ملي خپلواکۍ د ساتنې لپاره لازم اقدامونه[۲۱]؛ د لویې جرګې دایرول[۲۲]؛ ټول پوښتنې او ریفراندم ته مراجعه کول.[۲۳] ولسمشر په عین حال کې د بهرنیو چارو په برخه کې یو لړ واکونه لري چې کولای شي هغه په خپلواکه توګه ترسره کړي: بهرنیو هیوادونو او ادارو ته د افغانستان د استازو ټاکل؛[۲۴] په افغانستان کې د بهرنیو استازو د باور لیکونو منل؛[۲۵] او د نړیوالو تړونونو تصدیقول.[۲۶]

او ولسمشر ته د ځینو نورو سپارل شوو واکونو اجراء باید هرومرو د ملي شورا تایید له ځان سره ولري. د بیلګې په توګه، په لاندې برخو کې، ولسمشر باید هرو مرو د مقننه قوې تایید ترلاسه کړي: د جګړې یا سولې اعلانول؛ بهرته د وسله والو ځواکونو لیږل؛ د اضطراري حالت اعلان یا د هغه پای ته رسول.[۲۷] د نورو ګډو واکونو په توضیح کې ځیني ابهامات او پیچلتوبونه شتون لري. د مثال په توګه، که څه هم ولسمشر اړ ده چې د جګړې په اعلانولو کې د پارلمان تایید ترلاسه کړي، خو د افغانستان له ځمکنۍ بشپړتیا او خپلواکۍ په ساتنه کې د پارلمان تایید ته اړ نه دی.[۲۸]



۱ انځور: جمهور رئیس کرزی د کابینې نوو غړو ته په یوه محفل کې لوړه ورکوي

۱۴ *دافغانستان اساسي قانون*، ۲۰ مه ماده.

۱۵ اهلر او نور، *دافغانستان اساسي قانون*، ۴۲؛ ګروت، "د افغانستان په نوي اساسي قانون کې د قواوو جلاوالی"، ۹۰۴.

۱۶ ګروت، "د افغانستان په نوی اساسي قانون کې د قواوو جلاوالی، ۹۰۴-۵.

۱۷ *اهلر او نور*، *دافغانستان اساسي قانون*، ۱۰۷.

۱۸ ستیفن دایکس، ارتور برني، ویلیام سی. بانکس، پیتر راوین- هنسن، *د ملی امنیت قانون*(والترز کلیور، ۲۰۰۷).

۱۹ *دافغانستان اساسي قانون*، ۲۴ مه ماده (۱).

۲۰ *دافغانستان اساسي قانون*، ۲۴ مه ماده (۳) –(۲).

۲۱ *دافغانستان اساسي قانون*، ۲۴ مه ماده (۵).

۲۲ *دافغانستان اساسي قانون*، ۲۴ مه ماده (۹).

۲۳ *دافغانستان اساسي قانون*، ۲۵ مه ماده.

۲۴ *دافغانستان اساسي قانون*، ۲۴ مه ماده (۱۴).

۲۵ *دافغانستان اساسي قانون*، ۲۴ مه ماده (۱۵).

۲۶ *دافغانستان اساسي قانون*، ۲۴ مه ماده (۱۲).

۲۷ *دافغانستان اساسي قانون* ۲۰۰۴ ، ۲۴ مه ماده (۳) ، (۴) ، (۲).

۲۸ *دافغانستان اساسي قانون* ، ۲۴ مه ماده (۵).

په هر حال، ځکه چې ولسمشر د دولت مشرتوب هم په غاړه لري، په عمل کې په مقننه قوې باندې د خورا ډېر اغیز خاوند دی. وزیران د ولسي جرګې په تایېد د ولسمشر له خوا ټاکل کېږي [۲۹] او د ولسمشر په "مشرتوب "خپلې دندې ترسره کوي [۳۰] د وزیرانو شمیر، او همدا ډول د هغوي دندې د قانون پر بنسټ تنظیمېږي[۳۱]. حکومت دا لاندې دندې پرغاړه لري: د اساسي قانون او نورو قوانینو د احکامو، او همدا ډول د محکمو د نهایي پریکړو عملي کول؛ د هیواد د خپلواکۍ ساتنه او له ځمکنۍ بشپړتیا څخه دفاع؛ د عامه نظم او امن ټینګول؛ د بودجې جوړول، د هر راز اداري فساد له مینځه وړل؛ د ټولنېزو، فرهنګي او اقتصادي پرمختیایي پروګرامونو طرح او تطبیق. [۳۲]حکومت ته دا صلاحیت هم ورکول شوی ده چې داسې مقررات جوړ او تصویب کړي چې د هیڅ قانون له متن او روحیې سره په تناقض کې نه وي. [۳۳]

برسیره پر دې، کله چې پارلمان تعطیل وي، په "بیړنیو اړتیاوو "کې حکومت کولای شي تقنیني فرمانونه ترتیب کړي. [۳۴] تقنیني فرمانونه باید د ملي شورا له تعطیل وروسته د دیرش ورځو په اوږدو کې ملي شورا ته وړاندې شي، او که چیرې د ملي شورا له خوا رد شي باطل شمیرل کېږي. د تقنیني فرمانونو په اړه دا ډول نفی کوونکی مخنیوي بې اغیزې ثابت شوی دی. د حکومت د واک په هکله دا ډول کنترول به ډېر قوی او غښتلی وو که چیرې اساسي قانون د دغو تقنیني فرمانونو وروستی تصویب له پارلمان څخه غوښتی وای. په عمل کې، تقنیني فرمانونه ډېر لږ د مقننه قوې له خوا تر غور لاندې نیول شوي دي. په تیري شوي لسیزه کې حکومت د "بیړنۍ اړتیا " په پلمه په ډېرو مواردو کې د خپلې هوسایي او سیاسي ګټو لپاره تقنیني فرمانونه ترتیب کړي دي. د بیلګې په توګه، ولسمشر په ۲۰۱۰ کال کې په تلوار سره د ټاکنیزو ادارو د صلاحیت د محدودولو لپاره د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو تقنیني فرمان صادر کړ چې په هغه کې د کاندیدانو له خوا خپلې نوماندۍ د صلاحیت نه لرلو په اړه د اعتراض د حق نه درلودلو په هکله، مبهمې او پیچلې مادې ځای شوې دي. [۳۵] ولسي جرګې د دغه فرمان په هکله قوی غبرګون وښود، او هغه یې رد کړ. ولسمشر په دې دلیل چې اساسي قانون، پارلمان د تقنینیه دورې په وروستي یو کال کې د انتخاباتو د قانون له بدلیدو څخه منع کړي دی، مخالفت څرګند کړ. [۳۶] د ولسي جرګې بیا غبرګون دا وو چې د اساسي قانون متن په ربښتیا سره پارلمان د ټاکنو په قانون کې له تعدیل څخه منع کړي دی، خو ټینګار یې وکړ چې ولسي جرګه د تقنیني فرمان له ردولو څخه منع شوي نه ده. [۳۷] په پای کې ولسمشر کرزی بریالی شو چې په مشرانو جرګې کې له خپل نفوذ څخه په ګټې اخستنې سره شرایط داسې جوړ کړي چې مشرانو جرګې د ټاکنو تقنیني فرمان هیڅکه په خپله آجنداء کې شامل نه کړ. په دې توګه نوموړی تقنیني فرمان چې د یوې جرګې له خوا رد شوی وو، نافذ پاتې شو.

د قضاییه قوې په برخه کې، ولسمشر دا واک لري چې د ولسي جرګې په تایېد د سترې محکمې قاضیان وټاکي. [۳۸] په دې ډول ولسمشر کولای شي په خپلواکه توګه د ابتداییه محکمې قاضیان هم وټاکي او هم یې عزل کړي[۳۹]، تقنیني فرمانونه توشیح کړي[۴۰]، د اعدام حکمونه تصویب او جریمې لږ کړي[۴۱]. که چیرې د حکومت وزیران "په بشری ضد جرمونو، ملي خیانت یا نورو جرمونو " متهم شي، نو قضاییه قوې ته نه سپارل کیږي، بلکې د هغه پرځای "ځانګړې محکمې " ته سپارل کیږي. [۴۲]

مقننه قوه د اجراییه قوې د څار په اړه ځینې واکونه لري. وزیران هم د ولسمشر او هم د پارلمان په وړاندې مسئول دي، او اړ دي چې د هر مالي کال په پای کې ولسي جرګې ته د خپلو فعالیتونو په هکله ریپوټ ورکړي. [۴۳] ولسي جرګه صلاحیت لري د ولسمشر له خوا د حکومت د وزیرانو ټاکل تایېد یا رد کړي. [۴۴] ټاکل شوي وزیران د ولسي جرګې له خوا د نه باور د رایې تابع دي[۴۵]. په عمل کې، لکه څنګه چې په لاندې کې به بحث ورباندې وشي، مقننه قوې په واروار د وزیرانو په وړاندې له خپل نه باور واک او صلاحیت څخه کار اخیستی دی. په هر صورت، حتی وروسته له هغه چې د نه باور رایه په بریالیتوب سره په کار وړل شوي ده، ډېرو وزیرانو د سرپرستو وزیرانو په توګه په حکومت کې خپلو دندو ته دوام ورکړي او یا په بل وزارت کې په کار ګومارل شوي دي.

---

۲۹ *دافغانستان اساسي قانون*، ۲۴مه ماده (۱۱).

۳۰ *دافغانستان اساسي قانون*، ۷۱مه ماده.

۳۱ *دافغانست*ان اساسي *قانون*، ۷۱مه ماده، *د حکومت د جوړښت قانون* (۲۰۱۲).

۳۲ *دافغانستان اساسي قانون*، ۷۵مه ماده.

۳۳ *دافغانستان اساسي قانون*، ۷۲مه ماده.

۳۴ *دافغانستان اساسي قانون*، ۷۹. یوه استثناء دا ده چې د ۷۹ مادې سره سم تقنیني فرمانونه نشي کیدای په بودجې او مالي چارو پورې اړه ولري. هغه تقنیني فرمانونه چې باید د ملی شورا د کار له پیل وروسته د ۳۰ ورځو په اوږدو کې پارلمان ته وړاندې شي، که چیرې د پارلمان له خوا رد شي نو باطل شمیرل کیږي.

۳۵ د نړیوال بحران د ډلې له خوا، "په افغانستان کې له ستونزو سره د ټاکنو د مخامخ کیدلو په اړه نوی لنډیز"، (کابل: ایشیا ریپوټ ۱۱۷ ګنه، ۲۰۱۱) http://www.crisisgroup.org/~/media/Files/asia/south-asia/afghanistan/B117%20Afghanistans%20 Elections%20Stalemate.pdf. (لاسرسی د ۲۰۱۴ کال د نومبر ۷).

۳۶ *دافغانستان اساسي قانون*، ۱۰۹مه ماده.

۳۷ کارول وانګ، "په افغانستان کې د قانون ونډه: د محلي حساب ورکولو لپاره د اساسي قانون چوکاټ ته وړتیا ورکول" *د نړیوال قانون هاروارد ژورنال* **۵۵**، شمیره ۱ (۲۰۱۴): ۲۱۱: ۲۴۹، ۲۲۹)

۳۸ *دافغانستان اساسي قانون*، ۲۴مه ماده (۱۲).

۳۹ *دافغانستان اساسي قانون*، ۱۳۲مه ماده.

۴۰ *دافغانستان اساسي قانون*، ۲۴مه ماده (۱۲).

۴۱ *دافغانستان اساسي قانون*، ۱۲۹مه ماده.

۴۲ *دافغانستان اساسي قانون*، ۷۸مه ماده.

۴۳ *دافغانستان اساسي قانون*، ۷۷مه ماده (۲).

۴۴ *دافغانستان اساسي قانون*، ۹۲مه ماده.

۴۵ *دافغانستان اساسي قانون*، ۶۹مه ماده.

د ۲۹ مادې پر بنسټ ولسمشر ملت او ولسي جرګې ته مسئول ګڼل کیږي. خو په هر صورت ولسي جرګه یوازې هغه وخت د ولسمشر په مقابل کې اقدام کولای شي چې ولسمشر په بشري ضد جرمونو، خیانت او داسې نورو جرمونو متهم شوی وي. ولسي جرګه کولای شي د اتهام د څېړنې لپاره د غړو له دریوو څخه د دوو برخو په تایید لویه جرګه دایروي. که چیرې لویه جرګه اتهام تایید کړي نو ولسمشر له دندې څخه ګوښه او موضوع ځانګړې محکمې ته سپارل کیږي.[42] ځانګړې محکمه کومه بشپړه قضایي محکمه نه ده، ځکه چې له دواړو سیاسي او قضایې شخصیتونو څخه جوړه ده.[47]

تر اوسه کومې جدي هڅې د ولسمشر د متهم کولو لپاره ترسره شوي نه دي. په ۲۰۱۲ کال کې، د اپوزیسیون یو غړي، حفیظ منصور، د ولسمشر په وړاندې د اساسي قانون د نقض کولو په دلیل په خیانت متهم کړ. د مدني ټولنې یو فعال وایي چې "هغه نظریې او تومتونه چې په پارلمان کې د ولسمشر په وړاندې د تورن کولو لپاره راپورته شوي وو، د کمزورو دلایلو او شواهدو درلودونکي وو، شتون یې مفهوم نه درلود، او ثابتول یې د متهم کولو لپاره د یو مهم خوځښت په توګه ستونزمن کار وو."[48] نوموړی باور لري چې په پارلمان کې دغه څرګندونې د احساساتو له مخې وې او د شواهدو پراساس ولاړې نه وې او داسې اسناد نه وړاندې کیدل چې د ولسمشر کومو کړنو اساسي قانون تقض کړي او د ولسمشر په وړاندې ولې باید د جرم اعلان وشي. دې حقیقت چې د پارلمان غړو ددې پرځای چې د ډلو په توګه عمل وکړي تل د ځانګړو کسانو په څیر عمل کړی دی، د ولسمشر د استیضاح په لار کې هڅې لا ډیرې کمزورې کړې دي. وړاندېز شوې هڅې، مخکې له دې چې عمومي غونډې ته وړاندې شي، هیڅکله په ښه توګه سمبال شوې نه وې، د پارلمان غړي قانع شوي نه وو، او ددې کار لپاره حتی کومې قانوني ستراتژۍ وجود نه درلود. په دې توګه، هر وار چې د پارلمان غړو د متهم کولو نظریه وړاندې کړې ده، یوازې یوه خبره پاتې شوې او هیڅکله د یوه جدي ګوابښ په توګه تر غور لاندې نه ده نیول شوي.

یو بل لامل چې ولسمشرد پارلمان له خوا د اتهام په هکله خبرې د یوه ګوابښ په توګه ؤ نه ګڼلې د اساسي قانون شرایط وو چې د هغو پراساس دی ولسمشر په وړاندې د جرم اعلان یا محاکمه په هغه صورت کې عملي ده چې د بیلګې په توګه باید لویه جرګه دایره شي. لویه جرګه د مقننه قوې له ټولو غړو (ولسي جرګه او مشرانو جرګه)، د ولایتي شوراګانو او ولسوالي شوراګانو د ریيسانو څخه جوړه ده[49]. په داسې حال کې چې ملي شورا او ولایتي شوراګانو د تیرو لسو کلونو په مهال کې فعالیت درلود؛ د افغانستان حکومت او د ټاکنو خپلواک کمیسیون (IEC) ترنن ورځې پورې د ولسوالیو د شوراګانو ټاکنې عملي نه کړې نو له دې کبله د لویې جرګې د دایریدلو لپاره یوه اساسي برخې شتون نه درلود.

په هرحال، د اساسي قانون پراساس د لویې جرګې د دایریدلو له نه وړتیا سره سره، ولسمشر د پالیسۍ د نوښتونو د ملاتړ د لاس ته راوړلو لپاره د پارلمان د ونډې په کمزوري کولو (پرته له دې چې د پارلمان ونډې ته پاملرنه وکړي) سره، یو شمیر "مشورتي" لویې جرګې راوبللې. اساسي قانون وایي چې لویه جرګه "د افغانستان د خلکو د ارادې تر ټولو ستر مظهر دی" او په خپلواکۍ، ملي حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا او همدا ډول په عالي ملي ګټو پورې تړلو مسئلو په هکله د پریکړې کولو لپاره؛ د اساسي قانون د حکمونو د تعدیل، او د ولسمشر د محاکمې لپاره دایریږي[50]. ولسمشر په درې مهمو وختونو کې په لویې جرګو باندې تکیه کړې ده: لمړی په ۲۰۱۰ کال کې له طالبانو سره د سولې د نوښت د جریان لپاره، او دویم او دریېم ځل په ۲۰۱۰ او ۲۰۱۳ کلونو کې له متحده ایلاتونو سره د ستراتژیک ګډون د تړون او د دوه اړخیز امنیتي تړون د لاسلیک کولو لپاره. نوموړې "مشورتي" لویې جرګې چې د ولسمشر کرزي له خوا جوړې شوې له اساسي قانون سره مطابقت نه لري. د دغو لویو جرګو غړي اکثره غوره شوي کسان وو. او د جرګې جریان په ټینګه څارل کیده، او تربحث لاندې موضوع باندې لږ بحث ترسره شو. پارلمان یادې لویې جرګې تر نیوکې لاندې ونیولې او هغه یې غیر قانوني او له اساسي قانون سره په تناقص کې وګڼلې. همدا ډول، مبصرنیو هم نوموړې جرګې "یوازې سیاسي ننداري" ؤشمیرلې چې په نهایتې د شته اساسي قانون کمزوري کول ګڼل کیدای شي.[51]

## پارلمان

د افغانستان پارلمان له مشرانو جرګې او ولسي جرګې جوړ دی. د ولسي جرګې غړي د "آزادو، عمومي، پټو او مستقیمو انتخاباتو" له لیارې ټاکل کیږي[52]. د مشرانو جرګې غړي هم انتخابي او هم انتصابي دي. هره ولایتي شورا یو استازی د څلورو کلونو لپاره، او د هر ولایت د ولسوالیو د جرګو له غړو څخه یو استازی د درې کلونو لپاره انتخابوي[53]. ځکه چې د ولسوالۍ شوراګانې جوړې نه وې، نو سترې محکمې پریکړه وکړه چې هره ولایتي شورا باید مشرانو جرګې ته دوه استازي ولیږي. د مشرانو جرګې پاته درییمه برخه غړي د معلولینو او معیوبونو د دوو تنو په شمول او د کوچیانو د دوو تنو استازو په ګډون د

---

۴۲ هماغه ځای.

۴۷ د ولسمشر په وړاندې د جرم د اعلان لپاره ځانګړې محکمه د ولسي جرګې له درې غړو او د سترې محکمې له درې غړو څخه جوړیږي. *د افغانستان اساسي قانون*، ۲۹ مه ماده.

۴۸ نادر نادري، شخصي نظریه، د ۲۰۱۴ اکتوبر ۲ مه.

۴۹ *د افغانستان اساسي قانون*، ۱۱۰ مه ماده.

۵۰ *د افغانستان اساسي قانون*، ۱۱۱ مه ماده.

۵۱ بنجامین بچلوز (Benjamin Buchloz)، "د ملت غږ؟ د افغانستان لویې جرګې د تاریخ په رڼا کې». (کابل: د افغانستان د شننونکو شبکه. https://www.afghanistan-analysts.org/the-nations-voice-afghanistans-loya-jirgas-in-the-historical-context/، د ۲۰۱۳ کال د نومبر ۱۹ مه (د لاس موندنی ورځ د ۲۰۱۴ کال د نومبر لومړۍ نیټه)؛ کیت کلرک، "دودیزه لویه جرګه ۴: سیاسي ننداره (تعدیل شوي)" د افغان شننونکو شبکه. https://www.afghanistan-analysts.org/traditional-loya-jirga-4-lacklustre-political-theatre-amended/ د ۲۰۱۱ کال د نومبر ۱۹ مه (لاسرسی د ۲۰۱۴ کال د نومبر لومړۍ نیټه)

۵۲ *د افغانستان اساسي قانون*، ۸۳ مه ماده.

۵۳ *د افغانستان اساسي قانون*، ۸۴ مه ماده (۱)،(۲).

ولسمشر له خوا ټاکل کیږي[54]. د ولسمشر له خوا د ټاکل شوو کسانو پنځوس سلنه ښځې دي. د ولسمشر له خوا ټاکل شوي غړي د اوږدې مودې (پنځه کلونو) لپاره دي نو ځکه په جرګې کې د یوې اندازې ورانديز والي احساس کوي[55].

د پارلمان د جوړښت طريقې نوموړي ارګان ته د اساسي قانون په جوړولو کې د طبيعي کنټرول حق ورکړی دی. ولسمشر ټول هيواد له خوا ټاکل کيږي نو ځکه په مستقيمه توګه ټول هيواد، يا په ولسي جرګې کې د خلکو استازو ته مسئول او حساب ورکونکی دی. د ولسي جرګې غړي په ولايتونو کې د خپلو انتخاباتي حوزو په وړاندې مسئول دي. په دې توګه د ولسي جرګې هر غړی د ځانګړو، سيمه ييزو ګټو په اړه ځواب ورکوونکی دی. په همدې ډول دې موضوع ته په پاملرنې سره چې د مشرانو جرګې دوه درييمه برخه غړي د محلي ارګانونو (ولايتي او ولسوالی شوراګانو)، [56] له خوا ټاکل کيږي، نو ځکه ځانګړو محلي انتخاباتی حوزو ته ځواب ورکوونکي دي. په تيوري کې، دغه حقيقت چې ولسمشر او ملي شورا د هيواد د راز راز برخو په وړاندي مسئول دي ددې معنا لري چې د دولت په ادارو کې د پراخو ګټو استازيتوب او بالاخره ښې حکومتولۍ او قانون جوړولو لپاره آسانتياوې برابروي.

د ملي شورا د غړيتوب لپاره په قانوني معيارونو کې د افغانستان تابعيت، له بشري ضد جرمونو څخه پاکوالی، له مدني حقونو څخه د محروميت څخه خلاصوالی، يا له نورو جرمونو څخه سوچه توب، شامل دی. په ملي شورا کې د غړيتوب لپاره يو بل شرط دا دی چې د ولسي جرګې غړی بايد لږ تر لږه د **۲۵** کلونو عمر او د مشرانو جرګې غړی بايد لږ تر لږه د **۳۵** کلونو عمر ولري[57]. د ملي شورا د غړو باور ليکونه د ټاکنو د خپلواک کميسيون له خوا تر غور لاندې نيول کيږي[58]. په عمل کې، د **۲۰۱۰** کال د پارلماني ټاکنو پر مهال، د ټاکنو د خپلواک کميسيون له خوا د هغو نوماندانو په اړه سترګې پټول چې د نومونو په مقابل کې يې د بشري حقونو تر پښنو لاندې کولو ادعاګانې ليکل شوي وې، تر سختو نيوکو لاندې ونيول شو، او ډيرو نوماندانو ته چې سوابق يې تر پوښتنې لاندې وو، په ټاکنو کې د ګډون اجازه ورکړل شوه.[59]




۲ انځور: محمد يونس قانوني، د ۲۰۱۰-۲۰۰۵ کلونو په جريان کې د ولسي جرګې رئيس

ملي شورا نوموړې دندې په غاړه لري: د قوانينو او تقنيني فرمانو تصويب، تعديل يا لغو کول؛ د ټولنېزو، فرهنګي او اقتصادي پرمختيايي پروګرامونه تصويب، د دولتي بودجې تصويب، د اداري واحدونو رامنځ ته کول، تعديل او لغو کول؛ او د نړيوالو تړونونو تصديقول[60].

ولسي جرګې ته نور ځانګړي واکونه ورکړل شوي دي ترڅو دا وړتيا ولري چې د اجراييه ځانګې د زياتي يا تيري مخه ونيسي، او په عمومي توګه د اجراييه قوې او همدا راز د ځانګړو وزيرانو د نظارت او څار لپاره آسانتياوې برابرې کړي. ولسي جرګه صلاحيت لري چې د خپلو غړو د يوې دريیمې په وړاندېز د

**۵۴** *د افغانستان اساسي قانون*، **۸۴** مه ماده (۳).
**۵۵** *د افغانستان اساسي قانون*، **۸۴** مه ماده.
**۵۶** *د افغانستان اساسي قانون*، **۸۵** مه ماده.
**۵۷** *د افغانستان اساسي قانون*، **۸۵** مه ماده.
**۵۸** *د افغانستان اساسي قانون*، **۸۲** مه ماده.
**۵۹** غزال حارس، "ټاکنيزو شکايتونو ته رسېدنه: افغانستان او د قانون د نه پلی کېدو ګواښونه په ۲۰۱۰ کال کې ځانګړی ټاکنيزی محکمی ته کتنه "(کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد، ۲۰۱۴) ۹، ۱۸. د فاطمه ايوب، انتونلا دليدا او پاتريسا ګوسمن، "په افغانستان کې د ۲۰۰۹-۲۰۱۰ کلونو د ټاکنو درسونه "هم وګورئ (نيويارک: د انتقالی عدالت نړيوال مرکز، ۲۰۰۹).
**۶۰** *د افغانستان اساسي قانون*، ۹۰ مه ماده.

حکومت د کړنو د کتنې او تحقیق لپاره ځانګړي کمیسیونونه جوړ کړي[۶۱]. ولسي جرګه په ځانګړې توګه دا لاندې اختصاصي واکونه لري: د وزیرانو د کړنو په هکله د هغوی استیضاح؛ د پرمختیایي پروګرامونو او دولتي بودجې په اړه تصمیم نیول؛ د اساسي قانون پر بنسټ د ګومارلو تایید یا ردول[۶۲]. د حکومت د وزیرانو استیضاح د اساسي قانون په ۹۲ مه ماده کې داسې تصریح شوی ده: ولسي جرګه د غړیو د شل سلنې په وړاندېز کولای شي د حکومت وزیران را وغواړي او له هغوی څخه پوښتنې وکړي. که چیرې د وزیرانو ځوابونو د قناعت وړ نه وي، ولسی جرګه کولای شي د نه باور رایه وڅېړي. دا ډول رایه باید صریحه، مستقیمه او د پخو دلایلو په اساس ولاړه وي او هرو مرو د ولسي جرګې د غړو د اکثریت له خوا تایید شي[۶۳]. ددې ترڅنګ د پارلمان د دواړو جرګو هر کمیسیون کولای شي هر وزیر په ټاکلو موضوعاتو کې استجواب کړي، او وزیر کولای شي شفاهی یا لیکلی ځواب ورکړي[۶۴].

د نوموړو موادو سره سره، اجراییه قوه پر تقنیني جریان او تقنیني آجندا باندې ژور نفوذ لري. د حکومت د غوښتنې پراساس، ولسي جرګه باید هرو مرو هغو قوانینو ته لومړیتوب ورکړي چې د حکومت له خوا معرفي کیږي؛ په همدې ډول حکومت صلاحیت لري چې د ولسي جرګې له تصویب پرته مقررات جوړ کړي، په دې شرط چې له جاري قوانینو سره تناقض ؤ نه لري. کله چې حکومت تصمیم ونیسي د "مقننه قوې بیړنۍ غونډه" جوړه کړي، کولای شي له خپلې خوا تقنیني فرمان صادر، او مقننه قوه څنډۍ ته کړي[۶۵]. داسې تقنیني فرمانونه کله چې د ولسمشرۍ له خوا لاسلیک شي نافذ شمیرل کیږي. په هر حال، دا ډول تقنیني فرمانونه باید د پارلمان له تعطیل وروسته د دیرش ورځو په مهال کې پارلمان ته وړاندې شي. خو په عمل کې دا راز فرمانونه په منظمه توګه پارلمان ته نه وړاندې کیږي. په دې برسیره، په ځانګړو ساحو لکه د هغو قوانینو وړاندېزونه چې د قضاییه قوې او سترې محکمې د چارو په تنظیم پورې اړه ولري، یا هغه وړاندېزونو چې د بودجې او مالي چارو د تسوید په هکله وي، یوازې د حکومت له خوا وړاندې کیږي.

د اجراییه قوې د څار او کنترول لپاره یوه هغه مهمه او غټه دنده چې مقننه قوې ته ورکړل شوې ده د بودجې په اړه د هغې صلاحیتونه او واکونه دي. خو په هر حال، په عمل کې د دغو څارنو او انډولونو اغیزمني له یو بل سره ګډې شوې دي. د اساسي قانون پراساس حکومت صلاحیت لري چې بودجه جوړه او مالي چارې تنظیم کړي[۶۶]. ټول هغه قوانین چې په دغو ساحو پورې اړه ولري یوازې د حکومت له خوا جوړیږي[۶۷]. د ولسي جرګې د رخصتیو په مهال کې د حکومت له خوا د قوانینو د جوړولو صلاحیت بودجې او مالي چارو ته نه غزیږي، په دې توګه، بودجه باید هرو مرو د عادي تقنیني پړاو تابع وي [۶۸]. د مقننه قوې ونډه په څرګند ډول دا ده چې بودجه یا تصویب او یا یې رد کړي[۶۹]. دا خبره په ځانګړې توګه دې موضوع ته په پاملرنې سره اهمیت لري چې اجراییه قوه د بیلګې په توګه د جګړې د اعلان، او د دولت د ځمکنۍ بشپړتیا په اړه د خورا غټ صلاحیت خاونده ده. بودجه مشرانو جرګې ته معرفي کیږي او وروسته د مشرانو جرګې له مشورتي نظریاتو سره یوځای ولسي جرګې ته سپارل کیږي[۷۰]. مهمه ده یادونه وشي چې مشرانو جرګه د بودجې په اړه ډیره برخه نه لري؛ مشرانو جرګه باید د حکومت وړاندېز شوي ماده ولسي جرګې ته وسپاري. نهایي فیصله د ولسي جرګې په لاس کې ده چې بودجه یا تصویب او یا رد کړي[۷۱].

که چیرې بودجه د هر لامل په سبب د نوي مالي کال له پیل څخه پخوا تصویب نه شي، د پخواني کال بودجه د تطبیق وړ ده. ولسي جرګه نشي کولای د بودجې تصویب له یوې میاشتې څخه ډیره وځنډوي. په دې ډول، د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون پر اساس، مقننه قوه محدود امکانات په لاس کې لري چې پر حکومت باندې د پراخې پالیسۍ یا پروګرام د غوره کولو لپاره بودجه د فشار د وسیلې په توګه وکاروي. فعالیتونه ولسي جرګه نشي کولای، د بېلګې په توګه د متحده آیالاتو یا آسترالیا په شان، د بودجې د نه تصویبولو له لارې ټول حکومت په ټپه ودروي.

یو شمیر نور مکانیزمونه شتون لري چې اجراییه قوه د مقننه قوې په وړاندې حساب ورکولو ته اړه کړي. د هر مالي کال په وروستۍ څلوریزه کې حکومت باید هرو مرو د راتلونکي کال بودجه د جاري کال د بودجې له لنډ او اجمالي حساب سره یوځای، وړاندې کړي.[۷۲] د تیر کال د بودجې دقیق حساب، هغه څه چې په اصطلاح د "قطعیه ریپوټ "په نوم یادیږي باید هرو مرو د راتلونکي کال د شپږو میاشتو په موده کې وړاندې شي.[۷۳] سربیره پردې، حکومت اړ دی چې د هر مالي کال په پای کې د "هغو دندو په اړه چې سرته یې رسولي دي او همدا راز د نوي مالي کال د مهمو پروګرامونو په هکله "مقننه قوې ته ریپوټ ورکړي. [۷۴] د نوموړو مادو مجموعه د پارلمان د څار او نظارت د دندو په اړه چې د حکومت لګښتونه، پروګرامونه او راتلونکې پلان شوې کړنې په ځیر سره تر کتنې لاندې ونیسي، یو روښانه او څرګند انځور وړاندې کوي. د څو تیر شوو کلونو په جریان کې، پارلمان هڅه کړې چې د حکومت مالي پالیسۍ په لیوالتیا سره تر کتنې لاندې ونیسي. د بیلګې په توګه، د ۲۰۱۲- ۲۰۱۳ کال بودجه یوازې په دربیم ځل تصویب شوه. لمړی دوه ځلي حکومت یوه بودجه وړاندې کړله، چې

۶۱ *د افغانستان اساسي قانون*، ۸۹ مه ماده.

۶۲ *د افغانستان اساسي قانون*، ۹۱ مه ماده.

۶۳ *د افغانستان اساسي قانون*، ۹۲ مه ماده.

۶۴ *د افغانستان اساسي قانون*، ۹۳ مه ماده.

۶۵ *د افغانستان اساسي قانون*، ۸۲ مه، ۷۹ مه او ۹۷ مه ماده.

۶۶ *د افغانستان اساسي قانون*، ۷۵ مه ماده (۱)، ۹۵.

۶۷ هماغه ځای.

۶۸ *د افغانستان اساسي قانون*، ۷۹ مه ماده.

۶۹ *د افغانستان اساسي قانون*، ۹۰ مه ماده.

۷۰ *د افغانستان اساسي قانون*، ۹۸ مه ماده.

۷۱ *د افغانستان اساسي قانون*، ۹۱ مه ماده.

۷۲ *د افغانستان اساسي قانون*، ۹۸ مه، ۷۵ مه ماده (۲).

۷۳ هماغه ځای.

۷۴ *د افغانستان اساسي قانون*، ۷۵ مه ماده (۲).

ولسي جرګې هغه په دې دليل رد کړه چې د ډېرو بيرته پاتو ولايتونو لپاره يې کافي مالي وجوه نه وو تخصيص کړي او د دندو د ايجاد او بنسټيزو پروژو لپاره يې د ډير لږ مالي سرچينو د اختصاص په اړه خپله ژوره اندېښنه ونبوده. [۷۵] د پارلمان غړو په عين حال کې د ماليي ورکوونکو په لګښت کابل بانک ته د ۷۰ مليون ډالرو په مالي مرستې باندې ټينګ اعتراض وکړ. [۷۶] برسيره پر دې د حکومت له خوا د قطعيه ريپوټ له رسيدلو سره سم، ولسي جرګې يوولس وزيران د استجواب لپاره راوغوښتل چې ولي يې د خپلو پرمختيا يي بودجو لويه برخه مصرف کړي نه ده. [۷۷] د مثال په توګه د دفاع وزارت او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په ترتيب سره ۹ او ۱۲ سلنه پرمختيايي بودجه مصرف کړي وه؛ ولسي جرګې له ۷۰ سلنې څخه کښته مصرف د نه منلو وړ وګاڼه[۷۸]. د پارلمان له خوا د حکومت د استجواب او له هغه سره د بحث جريان " په ناوړه توګه مديريت"او "ګډوډ "وو او د بډو اخيستلو او فساد په اړه پراخ اتهامونه وارد شول؛ او په نهايي روغه جوړه کې د ولسي جرګې ټولي غوښتنې ترسره نه شوي. [۷۹] په ولسي جرګې کې د يوغړې د نه شتون لويه برخه د سياسي ګوندونو او په پارلمان کې د سياسي اتحاد نشتوالی ګڼل کيږي.

برسيره پر دې، په اړوند قانوني چوکاټ کې د تشو موجوديت او د وضاحت نشتوالي هم د مقننه قوې له خوا د بودجې پرجريان باندې د څار مهمه دنده محدودوي. لومړی دا چې د اساسي قانون پراساس مالومه نه ده چې وروسته تر دې چې بودجه د ولسي جرګې له خوا تصويب او د ولسمشر له خوا تاييد شي د بودجې په کرښو کې بدلون د تقنيني فرمان يا پارلمان له خوا عملي کيدای شي که څنګه. په ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ کال کې د بودجې په ځانګړو کرښو او سقف (چت) کې بدلون پرته له دې چې تقنيني جريان ته ولاړ شي، د مقننه قوې د ډيرو اعتراضونو سبب شوه، او نږدې وو چه د وخت د ماليې وزير په ولسي جرګې کې د نه باور له رايې سره مخامخ شي.[۸۰] اساسي قانون ددې تشې د حل لپاره د حل ځانګړي لار نه لري. په هر صورت، داسې ويل کيږي چې د اساسي قانون ۹۷ مې مادې پراساس بايد له بودجی سره لکه هر بل قانون چلند ؤشی؛ او د ۷۹ مې مادې پربنسټ بودجه د تقنيني فرمان له لیارې بدلون نشي موندلای.[۸۱]

اجراييه قوې دا وړتيا درلودلې ده چې پرقضاييه قوې باندې د تکيې له لیارې د پارلمان له خوا د قانون جوړونې په صلاحيتونو باندې تيری وکړي. د اساسي قانون د ۱۲۱ مادې په رڼا کې، ستره محکمه کولای شي د حکومت په غوښتنه له اساسي قانون سره د قوانينو او تقنيني فرمانونو انطباق ترکتنې لاندې ونيسي. په تيره لسيزه کې ولسمشر د پارلمان له خوا جوړ شوي قوانين له ۱۲۱ مې مادې څخه په ګټې اخيستنې سره د قضايي کتنې لپاره سترې محکمې ته ليږلي دي او په دې توګه يې د قانون په جوړولو کې د پارلمان ونډه کمزورې کړې ده. قضاييه قوې، د اجراييه قوې له خوا نږدې په ټولو استول شوو مواردو کې خپلې نظريې د اجراييه قوې له غوښتنې سره سم بيان کړې دي. داسې کړنو حکومت ته دا امکان ورکړی وو چې قوانين د پارلمان له تصويب يا نه تصويب څخه پرته، په هغه ډول عملي کړي چې غوښتنه يې وه.

لږ تر لږه په درې مواردو کې، حکومت هغه قوانين چې د پارلمان له خوا تصويب شوي وو د بياکتنې لپاره سترې محکمې ته استولي دي. په يوه مورد کې پارلمان د افغانستان د ډپلوماتانو قانون تصويب کړ. کله چې نوموړي قانون پارلمان ته راورسيد ، پارلمان قانون تعديل کړ او داسې مادې يې ور زياتې کړې چې پراساس يې افغان ډيپلوماتان نشي کولای دوه تابعيتونه او بهرنۍ ميرمنې ولري. ولسمشر پر دغو تعديلونو اعتراض وکړ او د قانون اصلاح شوی متن يې د بياکتنې لپاره سترې محکمې ته واستاوه. سترې محکمې د حکومت له نظر څخه ملاتړ وکړ او د پارلمان تعديلونه يې رد کړل. مهمه ده يادونه وشي، کله چې د حکومت له خوا په وړاندېز شوي قانون کې تعديلات راوړي، ولسمشر کولای شي د رد له صلاحيت څخه کار واخلي او تربحث لاندې قانون د رد له دلايلو سره يوځای بيرته پارلمان ته وليږي، په دې ډول قانون خپل تقنيني مراحل بشپړوي. که چيرې مقننه قوه کومې روغې جوړې ته ؤنه رسيږي، او قانون په پخوانۍ بڼه تصويب کړي، په داسې حالت کې اجراييه قوه کولای شي قانون سترې محکمې ته واستوي.

داسې عوامل لکه د جوړښتيزې يادونې نه شتون، د پارلمان د ځانګړو غړو ظرفيت، او د ټاکنو سيستمونو هم د پارلمان په وړتيا باندې تاثير کړي چې د دولت د يوې خپلواکې او له نورو څانګو سره د برابرې څانګې په توګه خپلې دندې ترسره نه کړي. په تيره بيا ، د شخصي او جوړښتيز ظرفيت نه شتون د دې مخنيوی کړي چې پارلمان د قوانينو په جوړولو کې غښتلی او قوي رول ولوبوي[۸۲]. د دو دورو په تاريخ کې، له عمومې بخښنې قانون څخه پرته، پارلمان يوازې هغه قوانين تصويب کړي چې يا يې پخوا شتون درلود او يا د حکومت له خوا وړاندېز شوي دي. برسيره پردې، ترنن ورځې پورې، مقننه قوه بريالۍ شوي نه ده چې د څار او نظارت له غښتلو مکانيزمونو او د ۸۹ مادې پراساس د حکومت د کړنو د تحقيق لپاره د ځانګړي کميسيون له جوړولو څخه ګټه پورته کړي.[۸۳]

---

۷۵ عبيد علي، "بودجه په نا څرګند حالت کې: ولسي جرګه ژمنۍ رخصتۍ ته ولاړه "د افغانستان د شننونکو شبکه د ۲۰۱۳ کال)، -https://www.afghanistan-analysts.org/budget-through-impeachments-pending-wolesi-jirga-went-intowinter-recess/ (لاسرسی د ۲۰۱۴ کال د نومبر ۱ ).

۷۶ هماغه ځای.

۷۷ هماغه ځای.

۷۸ افغان غږونه، "د مرسته کوونکو له خوا د افغانستان بودجې پرجريان د شرايطو د لګولو دلايل" -http://www.afghanvoice.org.uk/avfm1/mypanel/pdfeng/Donor-condionalities-paper-20130705-204625.pdf (لاسرسی د ۲۰۱۴ کال د نومبر په ۱).

۷۹ عبيد "بودجه په نا څرګند حالت کې"(Budget Through, impeach ments pending) .

۸۰ غزال حارس ( په اساسی قوانينو کې د پروفيسور مرستياله، د افغانستان امريکائي پوهنتون) شخصی نظريه د ۲۰۱۴ کال د آګشت ۱۱.

۸۱ هماغه ځای.

۸۲ د ماروين ګ. وينباوم، "ديوه ډير اغيزمن پارلمان په لور؟ "د يوې مداخلې فوري انځور: افغانستان ته د يوې لسيزې مرستي نه زده شوي درسونه، وګورئ دا ليکنه د مارتينا وان بليرت او ساری کوو له خوا تصحيح شوې ده. (کابل: د افغانستان د شننونکو شبکه، ۲۰۱۲ ) ؛ انا لارسن، ولسي جرګه په پرله پسې بدلون کې، د ۲۰۱۰ کال ټاکنې او بی ثباتي يو لنډيز( کابل: د افغانستان د څيړنې او ارزونې واحد ، ۲۰۱۰ )

۸۳ اهلر او نور، *د افغانستان اساسي قانون*، ۹۰، *د افغانستان اساسی قانون*، ۸۹ ماده.

د پارلمان غړي د واحد نه لیږدیدونکی رایو د سیستم پراساس ټاکل کیږي، چې په پارلمان کی د سیاسي ګوندونو او اتحادیو د جوړیدو مخنیوی کوي.[۸۴] د سیاسي ایدلوژۍ په نه شتون کې، د پارلمان غړي د قومي کرښو یا ملاتړو شبکو پراساس سره راټولیږي. دې خبرې ته په پاملرنې سره چې حتی د حکومت وزیران د قوي شخصیتونو او اشخاصو مجموعه ده چې د مختلفو قومي ډلو استازیتوب کوي، " د حکومت ملاتړونکي "په حقیقت کې "د ولسمشر یا بل واکمن وزیر د ملاتړونکو "معنا ورکوي. حتی کله چې د اپوزیسیون ډلو د جوړولو په لار کې قدمونه اخیستل شوي دي، ډیر ژر د ځانګړو وکیلانو د سیالۍ کوونکو ګټو او د مشرۍ او رهبرۍ د نیولو پرسر په شخړو او انشعابونو اخته شوي دي. په پارلمان کې مخالفې ډلې " بې پایښته " ګڼل شوي دي، ځکه چې د پارلمان غړي یوازې تر هغو په اپوزیسیون کې پاتې شوي دي چې شخصي ګټې یې لاس ته ورځي؛ کله چې حکومت هغوي ته ډیرې ګټې وړاندې کړي، نو د پارلمان غړی په خورا شوق خپل دریځونه بدل کړي دي.[۸۵]

له ټاکل کیدو وروسته، د پارلمان غړو ته په حقیقت کې ستړې ګټې شتون لري چې له ولسمشر او د حکومت له وزیرانو سره متحد شي. حکومت ته لاس موندنه او له هغه سره د ښو اړیکو لرل، د پارلمانو ځانګړو غړو، د هغوي کورنیو او ټولنو ته یو لړ ګټې برابر وي. په دغو ګټو کې کیدای شي په ولسوالیو کې د هغوی امنیت "په تیره بیا ټاکنو ته په نږدې وخت کې"، د کمپاین تمویل یا د هغوی له شخصي سوداګرۍ څخه ملاتړ، شامل وي. څېړونکې باور لري چې په تیره بیا د انتخاباتو په مهال کې د پارلمان د غړو او اجراییه قوې ترمینځ خورا ډیر یووالی تر سترګو کیږي، ځکه چې پارلمان ته نوماندان د بیا ټاکل کیدو د کمپاین لپاره پیسو او مالي وجوهو ته اړتیا لري.[۸۶] ځینې کاندیدان بیا پیسې او تمویل له خپلو ټولنو څخه ترلاسه کوي او په دې توګه په انتخاباتو کې د حساب ورکولو په هکله یو بل بار هم اضافه کوي. ځینې نور پخپلو شخصي سوداګریو، ملاتړ کوونکو شبکو، او د حکومت په قراردادونو باندې د تمویل د سرچینې په توګه تکیه کوي، چې دا ټول له اجراییه قوې سره د ټینګو اړیکو له لارې لاس ته ورتلای شي.[۸۷] د حکومت د وزیرانو لپاره هم، یو قوي او څرګند مشوق وجود لري ترڅو د پارلمان له غړو سره نږدې اړیکې ولري. داسې پراخ ریپوټونه وجود لري چې د حکومت وزیران په منظمه توګه د پارلمان د غړو خپل خپلوان مقرروي ترڅو د باور رایو اخیستل ډاډمن کړي[۸۸].

ځینې نورې کړنې لکه په عمومي غونډو کې د داسې اسنادو نه شتون چې د پارلمان غړي څنګه رایې استعمالوي، هم د دریځونو بدلون ته آسانتیا وې برابر وي. اوس مهال، یوازې د "هو" او "نه" رایې شمیرل کیږي، او د پارلمان د ځانګړو غړو د نومونو په مقابل کې نه ثبتیږي چې بیا ورسته مستند شي. نتیجه دا چې په دې هکله چې د پارلمان غړي خپله رایه څه ډول استعمالوي عامه حساب ورکول شتون نه لري. په دې اړه د سمونونو په لار کې هڅې له غبرګون سره مخامخ شوي دي نه یوازې ددې لپاره چې سیاسي اراده وجود نه لري، بلکې ددې لپاره هم چې د پارلمان د ځانګړو غړو د لګښتونو اوخوندیتوب په اړه اندېښنې شتون لري.[۸۹]

که څه هم د افغانستان اساسي قانون په تیوري کې د دغو دوو څانګو ترمنځ د صلاحیت جلاوالی تصریح کړی ده، خو په عمل کې د اجراییه قوې په صلاحیت او کړنو باندې د مقننه قوې د مؤثر څار ظرفیت محدود شوی دی. د پارلمان د نه اغیزمنتوب لپاره ډیر عوامل وجود لري. خو په دې اړه چې پارلمان ولې ټوټې ټوټې پاته شوي و د ځانګړو غړو له ګټو سره سم پرمخ بیول شوي دی مرکزی عامل د واحد او نه لیږدونکی رایې سیستم ده چې د یو ګوند له کړنلارې څخه په پیروی په ټاکنو کې د ګډون مخه نیسي. ددې خبرې په نتیجه کې هیڅ ګوند ددې وړتیا نه ده پیدا کړي چې د پارلماني ډلې یا اغیزمن سیاسي اتحاد لپاره لږ تر لږه غړي پارلمان ته ولیږي چې د اجراییه قوې تیری کنترول کړي.

## ۳.۵ قضاییه قوه

د اساسي قانون پربنسټ قضاییه قوه د دولت یو مستقل ارګان دی[۹۰]. قضاییه قوه له ستري محکمې د استیناف له محکمو او ابتداییه محکمو څخه جوړه ده چې تشکیلات او واکونه یې د قانون له لیاري تنظمیږي.[۹۱] ستره محکمه " د ستر قضایي ارګان په توګه" د دولت " د قضاییه قوی په سرکې " ځای لري[۹۲]. په هر حال، د اساسي قانون یو شمیر حکمونه د قضاییه قوې د خپلواکۍ په اړه لږ صراحت لري. هغه محدود ملاتړي حکمونه چې په اساسي قانون کې ځای لري ډیر لږ د اساسي قانون له غوښتنې سره سم په عمل کې تطبیقیږي. ولسمشر په عمل کې پر قضاییه قوې باندې د پام وړ کنترول لري. په ستره محکمه کې د ګومارنو له ټینګ مکانیزم سره سره، په عمل کې هغه څه چې په اساسي قانون کې ویل شوي دي نه عملي کیږي، او د ګومارل شوو د کار مهال ته پاملرنه شوي نه ده. ولسمشر د ابتداییه محکمو د قاضیانو په مقررولو او د هغوي په عزل کولو باندی د لید وړ کنترول لري، او دا موضوع په دې معنا ده چې ټوله قضاییه قوه د ولسمشر تر واک لاندې ده. برسیره پر دې د محکمو قانوني واک له یو شمیر مهمو لارو څخه محدود شوی ده. د بېلګې په توګه محکمې دا قانوني واک نه لري چې د اجراییه قوې غړي محاکمه کړي[۹۳]. که څه هم د محکمو فیصلې نهایي دي، ډیرې استثناوې وجود لري چې ولسمشر ته یې دا.

۸۴ د اندریو رونالد او جان کری، "د افغانستان د ټاکنو د سیستم د جوړونه د اصلاحاتو لپاره دلایل او اختیارونه"، (کابل، د افغانستان د څیړنی او ارزونې واحد ،۲۰۱۲)

۸۵ انا لارسن، "ولسي جرګه په پرله پسې بدلون کې، د ۲۰۱۰ کال ټاکنې او بی ثباتي ۱ "، (کابل، د افغانستان د څیړنې او ارزونې واحد ، ۲۰۱۰)، ۳۱.

۸۶ انا لارسن ، "ولسي جرګه په پرله پسې بدلون کې، د ۲۰۱۰ کال ټاکنې او بی ثباتي۱ " ، (کابل، د افغانستان د څیړنې او ارزونی واحد ، ۲۰۱۰) ۲۱.

۸۷ نوحا کابرن، "د ولسي جرګې د تمویل د سرچینو سیاسی اقتصاد ، او د افغانستان په پارلمان کې د استازیتوب په اړه د هغوی اغیز"، (کابل، د افغانستان د څیړنې او ارزونې واحد ،۲۰۱۱) ،۷-۸.

۸۸ لارسن، ولسي جرګه په پرله پسې بدلون کې، ۸.

۸۹ لارسن، ولسي جرګه په پرله پسې بدلون کې، ۹.

۹۰ *د افغانستان اساسي قانون*، ۱۱۲ مه ماده.

۹۱ هماغه ځای.

۹۲ هماغه ځای.

۹۳ *د افغانستان اساسی قانون*، ۶۹ ، ۷۸ مادې

صلاحیت ورکړي چې د اعدام جزاء او نورې جزا ګانې لږ یا الغاء کړي.[۹۴] لویه ستونزه هغه مادې دي چې د قضاییه قوې صلاحیت د قضایې کتنې په هکله محدودوي، او په حقیقت کې د قضاییه قوې ظرفیت د نورو دوو څانګو په څارڼو کنترول کې کمزوری کوي.

په سترې محکمې کې ګومارنې د ولسي جرګې په تایید د ولسمشر له خوا ترسره کېږي[۹۵]. د سترې محکمې قاضیان باید لږ تر لږه څلویښت کاله عمر ولري؛ د افغانستان تابعیت ولري؛ په حقوقي یا اسلامي فقهي علومو کې لوړې زده کړې او همدا ډول د افغانستان په قضایي نظام کې پوره تجربې ولري؛ د ښه شخصیت او نیک شهرت لرونکي وي؛ د محکمې له خوا په جرم، له مدني حقوقو څخه په محرومیت یا بشري ضد جرمونو محکوم شوي نه وي؛ د وظیفې په وخت کې په سیاسي ګوند کې غړیتوب ونه لري.[۹۶] په ستره محکمه کې ګومارنې په پیل کې په دې ترتیب صورت مومي: درې غړي د څلورو کلونو لپاره؛ درې غړي د اوو کلونو لپاره؛ او درې غړي د لسو کلونو لپاره. ټولې وروستی ټاکنې د لسو کلونو لپاره دي.[۹۷] نه د پیل ټاکنې او نه ورپیسې ټاکنې د دویم ځل لپاره جواز نه لري.[۹۸] ولسمشر د غړو له جملې څخه یو غړی د سترې محکمې د رییس ( قاضي القضات ) په توګه ټاکي.



۳دانځور: دافغانستان قضائیه اداره د یوې محکمې په غونډه کې

په عمل کې ټاکنې د اساسي قانون د اصولو پراساس ترسره شوي نه دي. د ولسمشر له خوا په ستره محکمه کې د ټاکنو په اړه د پارلمان نظارت او څارمحدود شوی دی. د ټاکنو (ګومارلو ) لومړی دوره د ۲۰۱۱ کال په دسمبر کې هغه وخت وشوه چې لمړی ولسي جرګه لا نه وه جوړه شوی.[۹۹] ولمسشر کرزی فضل الهادی شینواری، یو اسلامیست او د یوې مدرسې پخوانی مشر په سترې محکمې کې وټاکه.[۱۰۰] په ۲۰۰۶ کال کې شینواری د ولسمشر کرزی له خوا د قاضي القضات په توګه مقرر شو. خو ولسي جرګې شینواری له دې کبله په ۱۱۷ مخالفو او ۷۷ موافقو رایو رد کړ چې غیر مذهبی مسلکی حقوقي زده کړې یې نه لرلې او په قضایې پریکړو باندې یې محاقظه کاره مذهبي نظریاتو لوی اغیزه درلوده.[۱۰۱] جمهور رییس ولسمشر وروسته عبدالسلام عظیمي خپل پخوانی حقوقی سلاکار د نوي قاضي القضات په توګه وټاکه او د ولسي جرګې له خوا تایید شو. قاضي عظیمي په هغه وخت کې ډېر پېژندل شوی سړی نه وو او معتدل شخصیت ګڼل کیده.[۱۰۲] کله چې د قاضي عظیمي دوره پوره شوه نو ولسمشر له اساسي قانون څخه په تناقض کې د هغه د کار موده تمدید کړه او عظیمي یې د "سرپرست قاضي القضات "په توګه مقرر کړ چې په اساسي قانون کې یې وجود نه درلود. په داسي کولو سره، ولسمشر د ولسي جرګې تاییدونه غوښت، او ولسي جرګه یې په پوره توګه له نظره وغورزوله او قاضي القضات یې د تقنیني فرمان له لارې مقرر کړ.[۱۰۳]

۹۴ *د افغانستان اساسی قانون*، ۲۴ (۱۸).

۹۵ *د افغانستان اساسی قانون*، ۱۱۷ مه ماده.

۹۶ *د افغانستان اساسی قانون*، ۱۱۸ مه ماده.

۹۷ *د افغانستان اساسی قانون*، ۱۱۷ مه ماده.

۹۸ هماغه ځای.

۹۹ په۲۰۰۱ کال کې، د بن د موافقتنامی او د ۱۹۶۴ کال د اساسی قانون موقتی تنفیذ پر اساس ولسمشر د دولت په ادارو کې د ټاکنو پراخ واکونه درلودل.

۱۰۰ سترې محکمې ته د قاضی شینواری د ټاکنو په وخت کې د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون نافذ شوي نه وو. داسې اندیښنو وجود درلود چې د شینواری تقرر د ۱۹۶۴ کال له اساسي قانون سره تناقص درلود، ځکه چې د نومړي اساسي قانون د ۱۰۵ مې مادې پراساس د سترې محکمې د قاضیانو عمر له شپیتو کلونو څخه لږ منلی وو، او شینواری عمر په هغه وخت کې ۸۰ کلونو ته رسیدلای وو. د نړیوال بحران د ډلی، "د افغانستان د ویجاړ شوي قضائیه قوې بیا سمون" ،۷.

۱۰۱ په حقیقت کې د هغه د دندې په وخت کې سترې محکمې یو شمیر ضد او نقیضی پریکړې وکړې: د مثال په توګه، په ۲۰۰۳ کال کې نومړې په تلویزیون باندې د بندیز یوه برخه وه.

۱۰۲ د نړیوال بحران ډله، "د افغانستان د ماتې شوې او کمزورې قضائیه قوې بیا سمول" ، ۹ ، وګورئ. عظیمی د خپل کار په پیل کې د ابتدائیه محکمو په کچه د فاسدو قاضیانو پرضد مبارزه پیل کړه او هڅه ئې وکړه چې له محافظه کارو قاضیانو څخه ځان خلاص کړي. خو په هر حال، له همهغه وخت څخه نومورې په ډېرو مواردو کې د کرزی د رژیم ملاتړ وکړ او ډېر وختونه یې متضادې پریکړې وکړې. په دغو پریکړو کې د ژورنالیزم د یوه زده کوونکي پرضد چې د اسلامی قانون لاندې د ښځو د حقونو په اړه یې مواد ویشل د سختی جزاء غوښتونکی شو، او هغه دا عمل یې کفر وګاڼه.

۱۰۳ د نړیوال بحران د ډلی، "افغانستان: د ۲۰۱۴ کال د لیږد اوږده او سخته لار. "۱۴.

د سترې محکمې قاضيان مخکې له دې چې دوره يې تکميل شي عزل کېدای نشي، مګر دا چې اساسي قانون بل څه ويلي وي. د اساسي قانون د **۱۲۷** مادې پراساس د سترې محکمې قاضيان يوازې هغه وخت معزول کېدای شي چې د ولسي جرګې د غړو يوه دريمه برخه د "جرم د ارتکاب يا د خپلې دندې په اجراء پورې تړلي جرم "په سبب د يو قاضي د محاکمې غوښتنه وکړي او د ولسي جرګې د غړو دوه دريمه برخه دا غوښتنه تاييد کړي [۱۰۴] کله چې غوښتنه تصويب شوه نو قاضي له خپلې دنده څخه معزول شميرل کيږي او موضوع يوې ځانګړې محکمې ته راجع کيږي.[۱۰۵] لکه چې لاندې به څرګنده شي، ولسي جرګې هڅه وکړه چې د سترې محکمې شپږ قاضيان د ۲۰۱۰ کال د پارلماني ټاکنو د پاتو شوو اغيزو په علت د خپلو دندو څخه ګوښه کړي. په هر حال هغه جريان چې ولسي جرګې مخ ته کړي وو د **۱۲۷** مادې سره يې انتطباق نه درلود، او په تيره بيا، دايې ثابته نه کړه چې دغو قاضيانو "جرم يا د خپلې دندې د اجراء په وخت کې کوم جرم "ترسره کړي وي. په دې توګه، که څه هم د ولسي جرګې دوې دريمې برخې د شپږ قاضيانو پر ضد رايه ورکړه، خو دغه جريان د قاضيانو په وړاندې د نه تاييد رايه بې له يوې ننداري بل څه ؤنه ګڼل شو.

د قضاييه قوې داخلي موضوعات بايد د قانون پراساس تنظيم شي[۱۰۶]. د قضاييه قوې په اړه فصل توضيح کوي چې ستره محکمه بايد د قضاييه قوې د عمومي اداري دفتر جوړ کړي، چې قضايي او همدا ډول اداري موضوعات بايد تنظيم او د محکمو د اداري سمون وړاندېز کړي. [۱۰۷] د قضاييه قوې د اداري موضوعات سترې محکمې، اساسي قانون ته سپارل، په تيوري کې، داسې هڅه وه چې قضاييه قوه د نورو څانګو له مداخلې او اغيزې څخه جلا وساتي.

په هر حال، نوموړو شرايطو او مادو په مالي چارو کې د سترې محکمې د خپلواکۍ په اړه ډېر لږ څه سرته رسولي دي. د قضاييه قوې بودجه بايد د سترې محکمې له خوا بايد "د حکومت له سلا سره سم " جوړه شي او د ملي بودجې د يوې برخې په توګه ملي شورا ته وړاندې شي. [۱۰۸] د سترې محکمې غړې د خدمت د دورې تر پای ته رسيدو وروسته "د تقاعد له ډېر ښه او لوي امتياز څخه په دې شرط برخمن دي چې په دولتي او سياسي چارو بوخت نشي"[۱۰۹] اجراييه قوې ځو ځو ځلی له بودجوي اقداماتو څخه په قضاييه قوې باندې د فشار د وسيلې په توګه کار اخيستی دی[۱۱۰]. د "ډېر ښه تقاعد " له امتياز سره سره چې په اساسي قانون کې ډاډمن شوی ده، قاضيانو ته د خدمت په موده کې لږه تنخواه او امتياز ورکړ شوی ده او له سرپټونی (سرپناه) او خونديتوب څخه برخمن نه دي.[۱۱۱]

د کښته محکمو قاضيان د سترې محکمې په وړاندېز او د ولسمشر په تاييد ټاکل کيږي. [۱۱۲] ولسمشر د کښته محکمو د قاضيانو د تقاعد، د هغوی د استعفاء د منلو او عزلولو واک لري. [۱۱۳] د نتيجې په توګه، ولسمشر په دې اړه چې په کښته محکمو کې څوک مقررېږی لوی صلاحيت په لاس کې لري. دې خبرې ته په پاملرنې سره چې حتی د سترې محکمې په کچه د تقرر جريان ډېر سخت نه دی، ولسمشر په عمل کې د ټولې قضاييه قوې کنترول په لاس کې لري. البته دا موضوع د اجراييه قوې په خپلواکۍ بده منفی اغيزه لري، او په تيره بيا چې هغه پراخوالی ته پام وشي چې پارلمان غواړي د محکمو د دندو قضايې بيا کتنې صلاحيت په غاړه واخلي.

محکمې پر هغو ټولو "دعواوو چې د دولت په شمول د حقيقي يا حکمي اشخاصو له خوا د مدعي يا مدعي عليه په حيث د قانون له حکمونو سره سم محکمې ته وړاندې کېږي»[۱۱۴] قانوني واک لري. د اساسي قانون د **۱۲۱** مادې پراساس د سترې محکمې قانوني صلاحيتونه داسی تعريفيږي[۱۱۵]: "د حکومت يا محکمو په غوښتنه له اساسي قانون سره د قوانينو، تقنيني فرمانونو، بين المللي معاهدو او بين المللی ميثاقونو د مطابقت او د هغو تفسير د قانون له حکمونو سره سم، د سترې محکمې صلاحيت دی»[۱۱۶] د هغو کسانو او ادارو په وړاندې د دريځ درلودلو نه شتون چې د ولسمشر سره مخالفت لري، د بيلګې په توګه ولسي جرګه، د اپوزيسيون غړي يا سياسي ګوندونه، د اجراييه قوې د څار او کنترول ظرفيت په قضاييه قوې کې ډېر کمزوری کړي دی. [۱۱۷]

د **۲۰۰۴** کال د اساسي قانون يوې مسودې د اساسي قانون د محکمې په هکله ځانګړې مادې درلودې چې په هغې کې نوموړې محکمې ته د اساسي قانون د تفسير صلاحيت ورکړ شوی وو. [۱۱۸] د **۱۴۶** مې مادې مسودې د اساسي قانون عالي محکمې ته لاندې صلاحيتونه سپارلي وو: "۱) له اساسي قانون سره د قوانينو، تقنيني فرمانونو او بين المللي موافقت ليکونو او ميثاقونو د مطابقت څېړل. ۲) د اساسي قانون، قوانينو او تقنيني فرمانونو تفسير»[۱۱۹].که څه

---

۱۰۴ د *افغانستان اساسي قانون*، ۱۲۷ ماده.

**۱۰۵** هماغه ځای.

۱۰۶ د *افغانستان اساسي قانون*، ۱۲۳ ماده.

۱۰۷ د *افغانستان اساسي قانون*، ۱۳۲ مه ماده، همدا ډول د *محکمو د تشکيل او صلاحيت قانون*، هم وګورئ، **۲۹** مه ماده (۲) ۴.

۱۰۸ د *افغانستان اساسي قانون*، **۱۲۵** مه ماده.

۱۰۹ د *افغانستان اساسي قانون*، ۱۲۶ ماده.

۱۱۰ لورينزو د سيګوس، يما ترابی، "د بيا جوړونی د ملی بشپړتيا د سروی سيستم " (کابل) د افغانستان د روڼتيا څار، ۲۰۰۷)، **۵۵**.

۱۱۱ حارس، "د ټاکنيزو شکايتونو ته رسېدنه، " ۱۳.

۱۱۲ د *افغانستان اساسی قانون*، ۱۳۲ مه ماده؛ ۲۴ مه ماده (۱۳).

۱۱۳ هماغه ځای.

۱۱۴ د *افغانستان اساسي قانون*، ۱۲۰ مه ماده.

۱۱۵ د *افغانستان اساسي قانون*، ۱۲۱ مه ماده.

۱۱۶ ګروت "د افغانستان په نوی اساسی قانون کې د قواوو جلاوالی»، ۹۱۱.

۱۱۷ ګروت، "د افغانستان په نوي اساسي قانون کې د قواوو جلاوالی "۹۱۱؛ د نړيوال بحران ډله، د افغانستان د ماتی شوې قضائيه قوی سمونه، ۱۲.

۱۱۸ اهلر او نور، د *افغانستان اساسي قانون*، ۱۲۹.

۱۱۹ جان دمپسي او اکلساندر تيير، "د بحران حل کول، " ۱.

هم، په نهايي مسودې كه نوموړې ماده د ولسمشر كرزي د ډلې له خوا حذف شوې وه.[۱۳۰] هغو كسانو چې له دې نظر سره يې مخالفت درلود داسې استدلال كاوه چې له تاريخي اړخه، په سترې محكمې كې هغو قاضيانو تسلط درلود چې په علماوو او په اسلامي قانون پوهنه كې روزل شوي وو، هغوی په اساسي قوانينو كې زده كړې نه وې ترسره كړې. په يوه وخت كې، د اساسي قانون محكمه له اسلامي پوهانو څخه جوړه وه چې د ايران د ساتونكو شورا سره يې ورته والی درلود.[۱۳۱]

د ۲۰۰۴ كال د اساسي قانون نهايي مسودې سترې محكمې ته د وړانديز شوی اساسي قانون محكمې پر بنسټ، د هغې ځانګړې ژبې څخه پرته چې د اساسي قانون د تفسير په اړه په كار وړل شوې وه، ډير لوی صلاحيتونه وركړي وو.[۱۳۲] اوسنی ۱۲۱ ماده داسې وايي: "له اساسي قانون سره د قوانينو، تقنيني فرمانونو، بين الدول معاهدو او بين المللی ميثاقونو د مطابقت څيړل، د حكومت يا محاكمو په غوښتنه او د هغو تفسير د قانون له حكمونو سره سم د سترې محكمې صلاحيت دی."[۱۳۳] خو په هر حال په ۱۲۱ ماده كې د ۱۴۶ مسوده مادې دويمه فقره ځای نه لري چې د وړانديز شوي اساسي قانون عالي محكمې ته يې د اساسي قانون او نورو قوانينو د تفسير خورا روښانه صلاحيت وركړی وو. په دی توګه، دغه بحث ادامه لري چې آيا نوموړی حذف كول كوم سنجول شوي كار وو يا دا چې د اساسي قانون د تفسير موضوع په ضمني توګه په ۱۲۱ مادې كې راغلې ده. لكه چې په لاندې كربنو كې به وليدل شي، د ۲۰۰۴ كال د اساسي قانون ۱۲۱ مه ماده يوه ډيره د بحث او اختلاف څخه ډكه ماده شميرل كيږي. په تيره بيا درې تفسيري پوښتنې د يادې مادې په اړه شتون لري: لومړی، آيا ستره محكمه د اساسي قانون د تفسير صلاحيت لري؟؛ دويم، آيا ستره محكمه كولای شي د اجراييه قوې كړنې تر كتنې لاندې ونيسي؟ او دريم، آيا نورې ځانګې يا جوړښتونه كولای شي د اساسي قانون د تفسير يا كتنې قانوني صلاحيت ترلاسه كړي؟[۱۳۴]

د اساسي قانون ۱۲۲ ماده داسې صراحت لري چې "هيڅ قانون نشي كولای په هيڅ حالت كې، كومه قضيه يا ساحه چې په دې فصل كې تحديد شوې د قضاييه قوې له صلاحيت څخه وباسي او بل مقام ته يې وسپاري"[۱۳۵] په هر حال، دا ماده اضافه كوي چې كيدای شي يو شمير استثنايي قضيې وجود ولري، د بيلګې په توګه هغه قضيې چې د هغو لپاره خاصې محكمې يا نظامي محكمې جوړيږي. لكه چې پورته وويل شو، د ولسمشر محاكمه، د كابينې د غړو محاكمه او د سترې محكمې د قاضيانو محاكمه د "ځانګړو محكمو" له ليارې ترسره كيږي.[۱۳۶] اساسي قانون په دې اړه چې دا ډول محكمې به څنګه خپلې دندې عملي كوي كوم تفصيل نه دی وړاندې كړی او يوازې دومره يې ويلي دي چې دا ډول محكمې بايد د قانون پراساس اجراات وكړي.[۱۳۷]

برسيره پر دې، دې خبرې ته په پاملرنې سره چې ۱۲۱ مه ماده تصريح كوي چې قضايي كتنه بايد "له قانون سره سمه" اجراء شي، كيدای شي دا پوښتنه وشي چې آيا قضاييه قوه دا صلاحيت لري چې ورسپارل شوی قانوني واک د قضايي كتنې لپاره تعديل كړي.[۱۳۸] په هر حال، هغه اندازه چې وركړل شوی قانوني صلاحيت تعديل ومومي په قانون كې وضاحت نه لري. د يادې مادې ساده لوستل دا انتباه رامينځ ته كوي چې لږ تر لږه پارلمان د ۱۲۲ مادې پراساس تحديد كيږي څكه چې ويل شوي دي، د قضاييه قوې له صلاحيت څخه د بل جوړښت په ګټه هيڅ ساحه بهر تللی نشي.[۱۳۹] لكه چې په لاندې برخه كې ويل كيږي چې د اساسي قانون د نظارت خپلواک كميسيون(ICOIC) له تاسيس يا جوړيدو سره سم، ولسي جرګې داسې يو قانون تصويب كړ چې ICOIC ته يې د اساسي قانون د تفسير څرګند واک- هغه واک چې په لمړيو كې د محكمو په صلاحيت ګڼل كيده- وركړی وو.

د محكمو پريكړې نهايي دي او بايد تطبيق شي؛ خو په هر حال، ولسمشر ددې صلاحيت لري چې "جزا ګانې كمې يا يې عفو كړي"، او د اعدام په جزاء كې وروستی فيصله او تاييد د ولسمشر په لاس كې ده.[۱۳۰] تر نن پورې ولسمشر، د هرډول قانوني لاربنوونو پرته، دغه واكونه يوازې پخپل اختيار كې ساتلي دي. د ولسمشر له خوا له خپل واک څخه په ګټې اخيستنی سره د مرتكبينو عفو كول څو څو واره نه يوازې د دې لپاره چې د محكمو د فيصلو نهايي توب ته يې پاملرنه نه ده كړې بلكې ددې لپاره چې پراساسي حقوقو او د قانون پرحاكميت باندې يې هم تيری كړی دی، تر سختو نيوكو لاندې راغلی دی. په يوې ډيرې عامه خلكو ته څرګنده پيښه كې ولسمشر د تجاوز يو قرباني د دې لپاره عفو كړ ترڅو هغه له مرتكب سره واده وكړای شي.[۱۳۱] په يوې بلې پيښه كې پخپله قرباني باندې د ډله ييز تجاوز مرتكبين چې ويل كيږي له ولسمشر سره يې اړيكي لرل، عفو كړل.[۱۳۲]

---

۱۲۰ كمالی، "د افغانستان اساسی قانون لسم كلن شو: كومې ستونزې مطرحې دی؟"، (كابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد، ۲۰۱۴)؛ روبين "د افغانستان لپاره د يوه اساسی قانون جوړول" ۱۵.

۱۲۱ د كمالی، د افغانستان اساسی قانون لسم كلن شو؛ روبين "د افغانستان لپاره د يوه اساسی قانون جوړول" ۱۵، او د جان دمپسی او الكساندر تيپر، "د بحران حل كول، "۱، وګورئ.

۱۲۲ اهلر او نور، د افغانستان اساسي قانون، ۱۲۹.

۱۲۳ *د افغانستان اساسي قانون*، ۱۲۱ ماده.

۱۲۴ اهلر او نور، *د افغانستان اساسی قانون*، ۱۲۹.

۱۲۵ *د افغانستان اساسي قانون*، ۱۲۲ مه ماده.

۱۲۶ *د افغانستان اساسي قانون*، ۷۸ مه، ۶۹ مه او ۱۲۷ مه ماده.

۱۲۷ موسی محمودی (اجرائيه رئيس، د افغانستان د بشری حقونو خپلواک كميسيون) شخصي نظريه ۲ د ۲۰۱۴ كال اپريل.

۱۲۸ غزال حارس (د اساسی قانون مرستياله پروفيسوره، د افغانستان امريكايی پوهنتون، شخصي نظريه د ۲۰۱۴ كال نومبر.

۱۲۹ *د افغانستان اساسي قانون*، ۱۲۲ مه ماده.

۱۳۰ *د افغانستان اساسي قانون*، ماده ۱۲۹، ۲۴ (۱۸).

۱۳۱ د بريچمان، "حامد كرزی، د افغانستان ولسمشر، د تجاوز زنداني قرباني، عفو كوي" *ورلډ پوست*، د ۲۰۱۵ د جنوری ۱۲ مه، http://www.huffingtonpost.com/2011/12/01/hamid-karzai-afghanistan_n_1123656.html (لاسرسی د ۲۰۱۵ كال د جنوری ۱۰ مه).

۱۳۲ كيت كلارك، " افغان ولسمشر هغه نارينه مجرمين چی په ډله ييز، تجاوز تومتی وو، عفو كړل "انډيپيندنس. ۲۴ اګست ۲۰۰۸ http://www.independent.co.uk/news/world/asia/afghan-president-pardons-men-convicted-of-bayonet-gang-rape-907663.html (لاسرسی د ۲۰۱۵ كال د جنوری ۱۰ مه).

ددې ترځنګ، په دې اړه شک وجود لري چې قضايي بياکتنې چې د ۱۲۱ مادې پراساس د سترې محکمې له خوا کېږي مشورتي دي يا الزامي. اساسي قانون په دی هکله چوپ پاتې دی او ددې مسئلې د څرګندولو لپاره هيڅ قانون هم تصويب شوی نه ده. ډاکتر هاشم کمالي د اساسي قانون د بياکتنې د کميسيون غړی او د يوې مودې لپاره د ياد کميسيون مشر يادونه کوي چې پخپله محکمه په دې نظر ده چې د دوی فيصلې مشورتی بڼه لري. په هر حال، کمالي استدلال کوي چې ۱۲۲ مادې ته په پاملرني سره چې وايي "د اساسي قانون له نافذيدو سره ټول هغه قوانين چې له هغه سره تضاد ولري باطل او بی اعتباره دي"، ممکنه ده چې وويل شي د محکمې فيصلې الزامي دي.[۱۳۳]

د قضاييه قوې صلاحيت او واک نور هم په اساسي قانون کې د هغو موادو له لیارې محدودېږي چې د سترې محکمې واک د کښته محکمو د هغو قاضيانو په اړه تحديدوی چې د جنايې جرمونو په ارتکاب تورن شوي وي. کله چې د کښته محکمې قاضي په جرم تورن شي ستره محکمه کولای شي موضوع تر غور لاندې ونيسي؛ په هر حال، که قضيه رښتيا نه وي، ستره محکمه نشي کولای قاضي عزل کړي. ستره محکمه بايد موضوع ولسمشر ته وړاندې کړي، او ولسمشر هغه شخص ده چې د مجرم قاضي د عزل او سزا ورکولو واک لري.[۱۳۴] لکه چې په پورته کې وويل شو ستره محکمه قانوني صلاحيت نه لري چې ولسمشراو د کابينې وزيران محاکمه کړي، ځکه چې هغوی د ځانګړو محکمو له خوا محاکمه کيږي.[۱۳۵]

ځينې نورو ستونزو لکه د قاضيانو په مينځ کې د قضاوت د ظرفيتونو نه شتون پخپل وار د قضاييه قوې په وړتيا باندی چې د دولت د يوې خپلواکې څانګې په توګه عمل وکړي، اغيزه کړې ده. د قضاييه قوې له ۲۰ سلنې څخه ډېر قاضيان په نويو، معاصرو او د قانون په غير مذهبی ښوونځيوکې زده کړې نه لري، دهغه پر ځای ډيرو خپلې حقوقي زده کړې په دوديزو او اسلامي ښوونځيو کې ترسره کړي دي.[۱۳۶] په تيره بيا، سترې محکمې کې د قاضي شينواري ګومارنه ددې سبب شوه چې په کښته محکمو کی يو شمير له تحولاتو سره مخالف او محافظه کار قاضيان ګومارل شوي دي، چې نږدې هيڅ ډول حقوقي زده کړې، د اسلامي حقوقو په شمول زده کړي نه لري.[۱۳۷] يوه سروې چې د شفافيت څار له خوا شوي ده څرګندوي چې قضاييه قوې ته د لومړی دور ګومارنې د "ملاتړ شبکو "له خوا وشوي او د "قومي مشارکت"د اړتيا پر اساس يې صورت وموند.[۱۳۸]

ددې ترځنګ يو لړ تاريخي، سياسي عوامل او په تيره بيا د افغانستان جوړښتيز فرهنګ او دودونو د قضاييه قوې په وړتيا چې خپلې دندې د يوې خپلواکې اداري په توګه سر ته ورسوي، اغيزه درلودلای ده.[۱۳۹] په ۱۹۷۸ کال کې وروسته له هغه چې د شوروی پلوه سوسياليست ګوند له خوا کودتا وشوه، په ۱۹۸۰ کال کې په افغانستان کې يو لنډ مهال اساسي قانون نافذ شو. "دغه اساسي قانون د قضاييه قوې خپلواکۍ په قانوني او بالفعل توګه په پوره توګه له مينځه ويوړه. د سترې محکمې قاضيان د انقلابي شورا د رييسه هيئت له خوا وګومارل کيدل او له سترې محکمی څخه وغوښتل شو چې د خپلو کړنو په اړه انقلابی شورا ته ريپوټ ورکړي."[۱۴۰] نادر نادري، د بشری حقونو پخوانی کميشنر چې د جګړې جرمونه او د بشريت پرضد د کمونيست رژيم جرمونه يې څېړلي دي وايي، "د رژيم کړنې د راتلونکو لسو کلونو لپاره دا وي چې قضاييه قوه بايد د هغوی له ايديولوژي او د ښاريانو په مقابل کې د هغوی له ګټو څخه ملاتړ وکړي. موخه دا وه چې له انقلاب او سوسياليستی نظرياتو څخه چې دوی رامينځ ته کړي وي، ملاتړ وشي. په اوږد مهال کې هدف دا وو چې په قضاييه قوې کې داسې جوړښتيز فرهنګ بنسټيز کړي چې قضاييه قوه د خپلې څانګې د خپلواکۍ فکر او احساس يوې خوا ته کښيږدي. قاضيانو بايد د حاکم کمونيست ګوند له ګټو څخه ملاتړ، او د سياسي مخالفينو د ځپلو لپاره د رژيم د يوې وسيلې په توګه عمل وکړي."[۱۴۱]

په ۱۹۹۲ کال کې، کله چې مجاهدينو د ولسمشر نجيب الله حکومت راوپرزاوه، د قضاء سياسي کيدلو لا هم د قضاييه قوې خپلواکۍ کمزورې کړه. هرې ډلې چې د افغانستان په اسلامي دولت کې برخه درلوده خپل غړي په قضاء کې وګومارل، سره له دې چې ډيرو يې حقوقي زده کړې او حتی هيڅ ډول د کار مسلکي تجربه نه لرله. دغو نوو ګومارل شوو قاضيانو په دې اړه هيڅ کار ؤنه کړ چې مسلط حکومت څخه د قضاء د ملاتړ جوړښتيز فرهنګ ته بدلون ورکړي؛ د هغه پرځای دوی حالت لا ډير خراب کړ. د طالبانو حکومت د قضاييه قوې نهادي جوړښت لا ډير ويجاړ کړ، او د شريعت ټينګ قانون د قضاييه سيستم بنسټ جوړ کړ چې په پراخه توګه يې د حکميت کولو پريکړې د غير مسلکي او داسې قاضيانو له خوا کيدې چې يا يې ډيرې لږې يا هيڅ ډول حقوقي زده کړې نه درلودې. نادري يادونه کوي چې، "په ۲۰۰۲ کال کې جوړه شوې قضاء د يوې ويجاړ شوي قضاء په ايرو باندی ودانه شوه چې لا تراوسه داسې جوړښتيز فرهنګ لري چې د خپلواکې قضاييه قوې له مفهوم سره نږدې نه ښکاري".

۱۳۳ کمالي، "د افغانستان اساسی قانون لس کلن شو"، ۱۸

۱۳۴ د *افغانستان اساسي قانون*، ۱۳۴ مه ماده.

۱۳۵ د *افغانستان اساسي قانون*، ۲۹ مه ماده، ۷۸.

۱۳۶ د ليسګويس اوترابی، "د ملي بشپړتيا سيستم د سروی بيارغونه"، ۵۴؛ د نړيوال بحران ډله، "د افغانستان د ماتې شوې قضائيه قوې بيا سمونه، "۸.

۱۳۷ د نړيوال بحران ډله، "د افغانستان د ماتې شوې قضائيه قوې بيا سمونه"، ۸؛ ، د ICG ريپوټ ادعا کوي چې قاضي شينواری، د خپل کار د لومړي کال په جريان کې کښته محکمو ته ۱۳۷ قاضيان وګومارل.

۱۳۸ د ليسګويس اوترابی، "د ملی بشپړتيا د سروې د سيستم بيارغونه، "۵۴. سروې څرګنده کړه د ابتدائيه او ولايتی محکمو ډير مشران "د دې پرځای چې د زده کړو او وړتيا وو پربنسټ وګومارل شي، د خپلو شخصی، قومي او توکميز يا سياسي اړيکو پراساس ګومارل شوي دي".

۱۳۹ اليکسس ج تيير، "په افغانستان کې د قضائيه قوې د سيستم بيا جوړونه" (ستانفورد: د دموکراسۍ، پرمختيا او د قانون حاکميت لپاره مرکز (مرکزي ټکی، ۲۰۰۴)، ۱۰-۱۱.

۱۴۰ ماتيو تونديني، *دولت جوړونه او د قضاء سمون: په افغانستان کې تر جګړې وروسته بيا جوړونه* (نيويارک: راوليچ، ۲۰۱۰).

۱۴۱ نادر نادري (د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون پخوانی کميشنر)، شخصی نظريه، د ۲۰۱۴ کال د آګست ۲۰ مه).

په دې ډول یو لړ عوامل، د ګومارلو په جریان کې د ټینګو اصولو نه شتون په شمول؛ د جوړښتیزې ورتیا نه شتون او همدا راز په اساسي قانون کې ابهامونه او پیچلتیاوې او په قانون کې تشو ستره محکمه له خپلواکۍ څخه بې برخې کړه، او ځینې وختونه یې اجراییه قوې ته ځواب ورکوونکې وګڼله. په یو شمیر سختو حالاتو کې، قضاء د حکومت او ولسمشر خوا ونیوله. د بیلګې په توګه، د ۲۰۰۹ کال د ولسمشرۍ د ټاکنو په درشل کې، د ټاکنو خپلواک کمیسیون اعلان وکړ چې د ټاکنو دوم دور به د اساسي قانون د مهال ویش پرخلاف څلور میاشتې وروسته ترسره شي. د اریانتیا وړ نه وه، چې مخالفتونه راپورته شول او ولسمشر په دې تورن شو چې هڅه کوي د خپلې دندې دوره د اساسي قانون پرخلاف اوږده کړي. د دغې پاریدنې او شوراو زوړ د کرارولو لپاره ولسمشر موضوع سترې محکمې ته راجع کړه، سترې محکمې د ولسمشر په ګټه پریکړه وکړه. بله بیلګه دا چې د ۲۰۰۹ کال د پارلماني ټاکنو څخه وروسته چې د رایو لویه برخه له اختلافونو څخه ډکه وه، ولسمشر د ټاکنو ځانګړې محکمه جوړه کړه. سترې محکمې یو ځل بیا د ټولو شاملو خواوو له اعتراض سره سره، د یادې محکمې جوړیدل له اساسي قانون سره سم او د اعتباره وړ وګڼل. لکه چې کښنته به ولیدل شي، حتی د ډاکتر سپنتا په وړاندې د نه باور رای په پیښه کې، ولسمشر له ولسي جرګې سره د خپلې لویې جګړې لپاره[۱۴۲]، یو ځل بیا په سترې محکمې باندې تکیه وکړه او له هغې څخه یې غوښتنه وکړه چې د ولسمشر په ګټه پریکړه وکړي. د اریانتیا خبره نه ده، چې د ۲۰۱۴ کال د ولسمشرۍ د ټاکنو په جریان کې هیڅ نوماند محکمه د ټاکنو د اختلاف وړ ټکو د حل لپاره د یوې ادارې په توګه ؤنه پیژندله.

۱۴۲ کمالی، "د افغانستان اساسي قانون لس کلن شو، "۱۰.

# ۴. موضوعي مطالعه: د وزیر سپنتا پرضد د نه باور رایه

## لومړی جدول: د پیښو مهال ویش

| | |
|---|---|
| د ۲۰۰۷ کال د اپریل ۲۱ مه | ایران د افغان کډوالو او غیرقانوني کاریګرانو د ډله ییز بیرته را شړلو پریکړه کوي |
| د ۲۰۰۷ کال د مې د میاشتې ۱۰ | ولسي جرګه هڅه کوي د ډاکتر سپنتا د بهرنیو چارو وزیر او ښاغلي اکبر اکبر، د کډوالو او بیرته راستانه شوو وزارت وزیر ته د نه باور رایه ورکړي |
| د ۲۰۰۷ کال د مې د میاشتې ۱۲ | د وزیر سپنتا پرضد د نه باور د رایې دویم ځل هڅه کیږي |
| د ۲۰۰۷ کال د جون ۳ |ستره محکمه خپله پریکړه چې د ډاکتر سپنتا د نه باور رایه له اساسي قانون سره په تناقص کې وګڼله، تایید کړه |
| د ۲۰۰۸ کال د اګست ۳۱ مه | ته د اساسي قانون د تفسیر واک ورکوي (ICOIC) پارلمان پراساسي قانون باندې د څار خپلواک کمیسیون |
| د ۲۰۰۹ کال د اپریل ۱۵ مه | ستره محکمه خپله پریکړه په دې اړه چې پراساسي قانون باندې د څار خپلواک کمیسیون ته د څار قانوني صلاحیت ورکولو له اساسي قانون سره په ټکر کې ده |

## ۴.۱ د نه باور رایې لنډ تاریخ

د بهرنیو چارو پخوانی وزیر، د ولسمشر کرزي ډیر پخوانی ملګری او دوست وو. هغه ته د یو غیر مذهبی، او د کرزي د ادارې د دموکراتیزه کوونکي په سترګه کتل کیدل. په محلي کچه هغه یو شمیر سیاسي مخالفان لرل. ډاکتر سپنتا د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د انتقالي عدالت د نوښتونو په اړه د ولسمشر استازی وو او د افغانستان د ملي کړنو د پلان په اړه یې د سولې، مصالحې او عدالت د تامین لپاره خپل ژمنتوب ښودلای ده. په ۲۰۰۷ کال کې د افغانستان پارلمان تر ډیرې کچې له اغیزه لرونکو جهادي ډلو، د شمال د جبهې او د کمونیست رژیم له پخوانیو غړو څخه جوړ وو. دغه ډلې سره یوځای شوي او د کرزي د رژیم پرخلاف یې یوه "ملي جبهه"جوړه کړه. په دغه ائتلاف کې د نفوذ خاوند انفرادي اشخاصو وجود درلود چې له انتقالي (لیږد) نوښتونو څخه یې د سپنتا څرګند ملاتړ، او په تیره بیا د هغو کسانو عفو کول چې د بشري حقونو د نقض کولو سابقه لري د سپنتا له خوا تر پوښتنې لاندې راوستل یې نه خوښیدل.[۱۴۳]

دویم، ډاکتر سپنتا یوه بهرنۍ پالیسي تعقیب کړې ده چې د ګاونډیو هیوادونو رول او برخه یې په کورنیو چارو او په تیره بیا د افغانستان د کورني سیاست په خوځونکي قوي کې، محدود کوله[۱۴۴]، د بیلګې په توګه داسې ویل کیدل چې د شمال جبهه له مالي پلوه د ګاونډیو هیوادونو لخوا تمویل کیده.[۱۴۵] په مختلفو وختونو کې داسې څرګندیدله چې د شمال جبهې په فعالانه توګه هڅه کوله چې د سپنتا د هڅو مخنیوی وکړي چه داسې لاره یې پرمخ بیوله چې د بهرنۍ پالیسۍ خپلواکي وه. وزیر سپنتا د بهرنۍ پالیسۍ په څو مسئلو کې د یو مرکز په توګه پیژندل کیده چې دی یې نیغ په نیغه د ایرانیانو د ګټو په مقابل کې درولای وو. هغه په تیره بیا د اوبو پر سر له ایران سره د خبرو اترو او د افغان- متحده ایالتونو د امنیتي ګډون په لاسلیک کولو کې کلیدی شخصیت شمیرل کیده[۱۴۶].

د ۲۰۰۷ په اپریل کې، کله چې ایران د افغان کډوالو او غیر قانوني کاریګرانو ډله ییزه را ایستینه پیل کړه نو موضوعات را برسیره شول،[۱۴۷] د څو اونیو په جریان کې له ۵۰،۰۰۰ څخه ډیر افغانان په زور بیرته افغانستان ته راولیږل شول.[۱۴۸] د دغو کډوالو او کاریګرانو لویه برخه د کار له ځایونو څخه راټول شوي او یا د مسافرت په وخت کې له سرویسونو څخه لاس ته ورغلي وو. د بیرته رایستلو کډوالو په کتار کې داسې اشخاص هم وو چې له ۲۵ ډیرو کلونو کې یې په ایران کې ژوند کړې او د دې امکان یې پیدا کړې نه وو چې د نوې غوښتنو سره سم ځانونه ثبت کړي. افغان بیرته رالیږل شوي کډوال په نیمروز کې ځای پرځای شول او ډیر یې اړین وو چې په کیږدیو کی ژوند وکړي.[۱۴۹] په اریانتیا سره، چې پیښو کورنی او محلي زوږ رامینځ ته کړ چې د پارلمان له غوښتنی سره یوځای له حکومت څخه پوښتنه کیده چې ولی د افغان بیرته راستنیدونکو په ملاتړ کې پاتې راغلی دی.

۱۴۳ له فرید حمیدی سره د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د اجرائیه رئیس مرکه، د ۲۰۱۴ کال د اپریل ۲۰ مه؛ کرک سمپل، " یو سیاسي مقاومت د افغان مشران آزمایښت کوي "د *نیویارک تایمز*، د ۲۰۰۷ کال د سپتمبر ۲۵ مه http://www.nytimes.com/2007/09/25/world/asia/25iht-afghan.4.7633584.html?pagewanted=all&_r=00 (لاسرسی د ۲۰۱۴ کال د نومبر په ۱).

۱۴۴ هغه وخت په افغانستان کې د ایرانیانو د ډیریدونکی اغیز په اړه پراخو اندیښنو وجود درلود. له امنیتی پلوه داسې اندیښنې شتون درلود چې ایران په افغانستان کې وسله والو ډلو ته وسله ورکوي. ددې ترڅنګ په محلی سیاسي مخالفینو او رسینو کې د ایران د پانګې اچونې او ملاتړ په اړه هم اندیښنو شتون درلود. ویکی لیکس، "په کابل کې د متحده ایالاتو له سفارت څخه تلګراف: د ایرانیانو نفوذ د بهرنیو چارو وزارت ته هم وغزید. ",http://www.wikileaks.org/plusd/cables/07KABUL1724_a.html د ۲۰۰۷ کال د مې ۲۳ مه (لاسرسی د ۲۰۱۴ کال د اګست ۲۲).

۱۴۵ هماغه ځای.

۱۴۶ ویکی لیکس "د ایرانانو ډیریدونکې اغیزې؛ ډاکتر رنګین سپنتا سره د اروني جیاکودی مرکه، د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر ۲۰ مه.

۱۴۷ کارلوتاګال، "دافغانستان مقننه قوې د بهرنیو چارو وزیر ته د نه باور رایه ورکړه، " *نیویارک تایمز* .http://www.nytimes.com/2007/05/13/world/asia/13kabul.html?fta=y&_r=0 د ۲۰۰۷ کال د مې ۱۳ مه(لاسرسی د ۲۰۱۴ کال د اګست ۲۲).

۱۴۸ هماغه ځای.

۱۴۹ هماغه ځای.

د مي په ۹ مه د ۹۲ مې مادې د صلاحیت پر اساس، پارلمان ښاغلی محمد اکبر اکبر، د کډوالو او بیرته راستنیدونکو وزیر، او د بهرنیو چارو وزیر را وغوښتل او له دواړو څخه یې له ایران څخه د کډوالو د ډله ییز بیرته رالیږلو په اړه د هغوی د ونډې په هکله پوښتنې وکړې. په هغه وخت کې ځینو ناظرینو ولیدل چې حساسو پوښتنو ته په تیره بیا د وزیر سپنتا ځوابونو ښایي د پوښتنو نتیجه دا ډول کړې وي.[۱۵۰] په هرحال ډاکتر سپنتا پوښتنو ته د ځواب ورکولو په وخت کې له خپل دریځ څخه دفاع وکړه، او یادونه یې وکړه چې د خپلو ځوابونو د ملاتړ لپاره یې اړوند سندونه له ځان سره راوړي دي.[۱۵۱] په راتلونکې ورځ دواړه وزیران د نه باور رایې تابع وګڼل شول. په هر حال د رایو په کتار کې دوه "غلط شوې رای پاڼې" هم پیدا شوې چې وزیر اکبر د ۱۱ رایو په ډیروالي سره بایلوده.[۱۵۲] د وزیر سپنتا په وړاندې رایې بې نتیجې وې. کله چې رایې وشمیرل شوې، د نه باور رایه په حقیقت کې په یوه رای سره بریالی نه شوه. په هر حال، د رایو په کتار کې دوه "غلطې نښانې شوې رایې" هم شته وې چې مغشوش والی یې رامینځ ته کړ.[۱۵۳] پارلمان پریکړه وکړه چې دوه ورځې وروسته به بله د نه باور رایه استعمال شي. د مي په ۱۲ مه، وزیر سپنتا یوازې ۷۳ د باور رایې، خو ۱۴۱ د نه باور رایې لاس ته راوړې.[۱۵۴]

د ډاکتر سپنتا پرضد د رایو هڅولو لاملونه ډیر دي او سیاسي او شخصي سببونه لري. په سیاسي برخه کې، داسې ویل کیږي چې د هغه پرضد د نه باور رایه په ایران کې جوړه شوې وه، او په تیره بیا چې ایراني جاسوسانو د پارلمان مختلفو غړو ته ډیرې پیسې ورکړې وې چې د بهرنیو چارو وزیر ته د نه باور رایه ورکړي.[۱۵۵] پخپله سپنتا باور لري چې ایرانیانو د هغه پر اخه بهرنۍ پالیسي خوښه نه وه نو ځکه یې د هغه د ګوښه کیدو هڅې وکړې. ناظرینو هم د پارلمان هغو غړو ته اشاره کړې ده چې د انتقالي عدالت له نوښتونو څخه یې د سپنتا ملاتړ سره مخالفت درلود.[۱۵۶] له شخصي پلوه، د پارلمان ډیرو غړو وویل چې د هغو رایه د سپنتا له "کبرجنو او مغروره کړو وړو" له اغیزې څخه سرچینه اخیستې وه؛ هغه چې نه یې غوښتل له خپل جرمنی تابعیت څخه لاس واخلي؛ او د هغه تنې هڅې چې پارلمان ته معلومات ورکړي د نه باور رایه غوڅه او ټینګه کړه.[۱۵۷]

ولسمشر د وزیر اکبر پرضد پریکړه ؤمنله، خو د ډاکتر سپنتا په اړه یې د نه باور رایه رد کړه. دا موضع تر یوې کچې د اساسي قانون د پیچلتوب زیږنده ده، ځکه چې اساسي قانون په صراحت سره د نه باور رایې نتیجې څرګندې کړې نه دي.[۱۵۸] د اکبر پرضد پریکړې په منلو سره، ولسمشر څرګنده کړه چې په اصولو کې د نه باور له لارې د وزیرانو په عزل کولو کې د پارلمان واک او صلاحیت مني. خو په هرحال، د سپنتا په هکله د پریکړې رد کول، د ولسمشر له خوا ددې خبرې څرګندول وو چې هغه په دې اړه د پارلمان قانوني صلاحیت تر پوښتنې لاندې راولي. د یوې نه باور رایې منل او د بلې ردول په عین حال کې یو سیاسي خوځښت وو چې ولسمشر اعتراض کوي خو نه غواړي د ولسي جرګې د رییس په شمول، له خپلو عمده سیاسي مخالفینو سره نیغ په نیغه مخامخ شي. سپنتا پخپله اعتراف کوي چې وروسته له دویم رای ورکولو، هغه خپله استعفاء ولسمشر ته وړاندې کړه او وې ویل چې د پارلمان له باور پرته کار کول یوه لویه ستونزه ده.[۱۵۹]

په هر حال، ولسمشر د وزیر سپنتا استعفاء ؤنه منله. ولسمشر پخپله رسمي ویناکې وویل چې اکبر "صادق"، "وطندوست" وزیر وو او د کډوالو د بیرته راستنولو د ستونزې په اړه یې سختې هلې ځلې وکړې.[۱۶۰] له دې سره سره، هغه وویل چې دا ډول پریکړه "په مستقیمه توګه "د پارلمان د پریکړې د قبولولو سره "اړیکه" لري. ښایي ولسمشر دا شیبه هم ښه فرصت ګڼلې وي، چې له وزیر اکبر څخه ځان خلاص کړي، ځکه چې د هغه په اړه پراخه پیژندنه دا وه چې پخپلو دندو کې اغیزمن او مؤثر نه وو.[۱۶۱] له بلې خوا سپنتا ولسمشر ته نږدې وو او د ده د ډلې یو اغیزمن غړی ګڼل کیده. د دې کال د دوبي په وروستیو کې ولسمشر له دوه غټو سیمه ییزو او نړیوالو پیښو سره مخامخ وو چې وزیر سپنتا کولای شو په هغو کې لویه برخه واخلي. لومړی پیښه دا وه چې افغانستان باید په منطقه کې د سولې لویه جرګه جوړه کړې وای، دویمه پیښه په لنډ وخت کې متحده ایالاتو ته د ولسمشر سفر او په کمپ دیوید کې د متحده ایالاتو له ولسمشر سره کتنه وه.

---

۱۵۰ یو تحلیل وړاندیز کوي چې وزیر سپنتا "قهرجن "شو او د هغه ځوابونه د نه باور رایې لپاره یو "عامل" شمیرل کیږي. داسې ویل کیږي چې د پوښتنو په وروستۍ برخه کې هغه داسې وویل: "زه غواړم د پارلمان غړي په دې خبره وپوهیږي چې ( د بهرنیو چارو وزارت) له جګړې وروسته جوړ شو ، او نشي کولای د ټولنې ټول توقعات سرته ورسوي. مونږ (د بهرینو چارو وزارت) د ایران د ګاونډي په توګه له ډیر فشار سره مخامخ یو. له ایران څخه د افغان کډوالو اخراج یوازې د کډوالو اخراج نه ده. دا یوه سیاسي لوبه ده او مونږ ددې توان او واک نلرو چې د ایران حکومت (GOI) اړ کړو چې افغانان په ایران کې پاته شي. له ایران څخه د افغانانو ایستل هغه څه نه دي چې په سطحه کې معلومیږي. د ایران د حکومت د پریکړې تر شا نور سببونه شتون لري "د پوښتنو په وروستۍ برخه کې کله چې پرهغه د خاین تومت وارد شو ، نو سپنتا داسې غبرګون وښود "که تاسې له ما سره خوشال نه یاست، نو ما ته رایه مه راکوي، د داسې بهرنیو چارو وزیر په لټه کې شئ چې تاسې ټول خوشحاله وساتي، تاریخ به ثابته کړي که چیرې زه خاین یم "د ویکیلیکس ، په کابل کې د متحده ایالاتو تلګرام: د افغانستان پارلمان خپل عضلات تاووي: د بهرنیو چارو وزیر سپنتا د نه باور رایه ناکاموي، ستره محکمه په پریکړه بیاکتنه کوي، http://www.wikileaks.org/plusd/cables/07KABUL1605_a.html. د ۲۰۰۷ کال د مې ۱۴ مه (د ۲۰۱۴ کال د آګست ۲۲ مه (د ۲۰۱۴ کال د آګست په ۲۲ مه د لاس موندنې وړ).

۱۵۱ ډاکتر رنګین سپنتا ، له اروني جیاکودی سره مرکه، د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر ۲۰ مه.

۱۵۲ ویکی لیکس ، "افغان پارلمان خپل عضلات تاووي ".

۱۵۳ کمالي، "د افغانستان اساسي قانون لس کلن شو ، " ۱۰؛ محمد قاسم هاشمزی، " د قواوو جلاوالی او په افغانستان کې د اساسي قانون د تفسیر ستونزه "*اساسي قوانین په اسلامي هیوادونو کې د اوښتنې او دوام ترمینځ*، دینو ګروت، تیلمان رودر ، ۲۲۵-۲۸۱، ۲۷۹ (نیویارک: د آکسفورد د پوهنتون مطبعه، ۲۰۱۲ ).

۱۵۴ کارلو تاګال، "افغان مقننه قوې د بهرنیو چارو وزیر ته د نه باور رایه ورکړه ".

۱۵۵ ویکی لیکس، "د ایرانیانو نفوذ مخ په ډیریدو ده ".

۱۵۶ له فرید حمیدی سره )د افغانستان د بشري حقونو د اجرائیه رئیس ) موسی محمودي مرکه، د ۲۰۱۴ کال اپریل.

۱۵۷ یوه بله نظریه داسې وایي چې د پارلمان پښتانه غړي ښایي د توکمیزو ملاحظاتو پر اساس هڅول شوي وي چې سپنتا ته د نه باور رایه ورکړي ځکه چې سپنتا د ټوکم له پلوه تاجیک ده. ویکی لیکس، "د ایرانیانو ډیرې اغیزې د بهرینو چارو وزارت ته رسیدلې دي ".

۱۵۸ کمالي، "افغانستان اساسی قانون لس کلن شو ".

۱۵۹ سمپل، "یو سیاسي مقاومت "؛ ډاکتر رنګین سپنتا ، له اروني جایاکودی سره مرکه، د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر ۲۰ مه.

۱۶۰ ویکی لیکس، "افغان پارلمان خپل عضلات تاووي ".

۱۶۱ ویکی لیکس، "د ایرانیانو د تاثیر ډیریدل ".

د نه باور رايې څخه سياسي نتيجه د ټول پارلمان د ثبات لپاره ګواښ وو. کله چې د سترې محکمې نظر صادر شو، په پارلمان کې د ملي جبهې غړو د ډله ييزې استعفاء ګواښ رامخ ته کړ. که دا سې شوي وای، نو پارلمان نصاب له لاسه ورکاوه. په هغه وخت کې ناظرنو څرګنده کړه چې دغه سياسي بحران يوازې د يوې نوې دموکراسې د "ډيريدونکو دردونو" نښې دي. په هرحال، دا سياسي جګړه په چاره نه منونکې توګه د اساسي قانون بحران رامينځ ته کړ چې د افغانستان په اساسي قانون کې بې د قواوو د جلاوالی بنسټيز جوړښت تر سوال لاندې راوست.

## ۴.۲ د نه باور رايې په اړه د سترې محکمې پريکړه

سترې محکمې ته د وزير سپنتا په وړاندې د نه باور رايې د راجع کولو سره، ولسمشر د سترې محکمې مخ ته درې پوښتنې کيښودلې: لومړی، آيا د افغان کډوالو ډله ييز اخراج په وړاندې د وزير سپنتا له خوا په اقداماتو کې نه بريالی کيدل د اساسي قانون د ۹۲ (۳) مادې پر اساس کوم قانوني دليل کيدای شي؟؛ دويم، آيا د وزير سپنتا په وړاندې دويم وار رای اخيستنه "قانوني او د قانون پر اساس "ده؟ او دريم، آيا د هغو غړو رايه چې په لومړی ورځ حاضر نه وو د ۹۲ (۳) مادې پر اساس د شمير وړ ده؟[122]

### ۴.۲.۱ څرګند او قانع کوونکی دليلونه

سترې محکمې پخپله پريکړه کی څرګنده کړې ده چې پارلمان واک لري له وزير څخه پوښتنې وکړي، او که چيرې د وزير ځوابونه د قناعت وړ نه وي د نه باور رايه ورکړي. خو په هرحال، پارلمان اړ ده چې له وزير څخه "په مشخصه موضوع او د هغه پر دندو پورې تړلو" موضوعګانو کې پوښتنې وکړي.[123] سترې محکمې پخپله پريکړه کې دا هم ويلي دي چې د نه باور رايه بايد هرومرو "صريحه، مستقيمه او پرېکړه دلايلو" ولاړه وي. سترې محکمې ټينګار کړې چې دلايل بايد د وزير مسئوليت او د کار په اجراء يا نه اجراء کې د هغه ملامتي ته پام وکړي. د نه باور دلايل نشي کيدای د هغو کسانو يا ادارو په اجرااتو (کړنو) له پامه غورزونې، يا د کار اجرا کولو باندې ولاړ وي چې وزير پر هغو باندې کنټرول درلودای نشي.

سترې محکمې له بهرنيو چارو وزارت څخه هغه اړوند اسناد وغوښتل چې د شړل شوو افغان کډوالو د ستونزې په هکله له ايران سره د تماس نيولو ښکارندوی وي. سترې محکمې په دی اړه ۴۹ ليکونه وليدل، او دا معلومات يې ترلاسه کړل چې د بهرنيو چارو وزارت، له ايران څخه ددې غوښتنې په شمول چې د افغانستان د وضعې ترښه کيدو پورې د افغان کډوالو ته اجازه ورکړي په ايران کې ميشت وي، ډيپلوماتيکې هڅې کړې دي. سترې محکمې د خپلو دلايلو په وړاندې کولو سره يادونه کړې ده چې د افغانانو د راويستلو په اړه د ايران پريکړه د وزير سپنتا په کنټرول کې خبره نه ده. سترې محکمې په تيره بيا ويلي دي چې "له پريکړه کولو يا نه کولو څخه د ايران د دولت منع کول د بهرينو چارو کوم ځانګړی مسؤليت نه دی" سترې محکمې څرګنده کړې ده چې وزير سپنتا د ايران له حکومت سره په پرله پسې توګه په تماس کې وو، خو وروستی پريکړه يوازې د ايران د حکومت په لاس کې وه، او سپنتا ته د بهرنيو چارو د وزير په توګه کوم مسئوليت نه راجع کوي. د دغو دلايلو پر اساس سترې محکمې څرګنده کړه چې د بهرينو چارو وزير د نه باور رايې تابع کيدای نشي. وزير سپنتا کومه غلطي يا غفلت نه دی کړی، او په دې توګه د نه باور رايه پر پخو دلايلو ولاړ نه ده او "د قانون له احکامو سره په تناقص کی ده."[124]

### ۴.۲.۲ د مې د ۱۰ مې نيټی د رايې قانونيت

د سپنتا په وړاندې لومړی د نه باور رايې په اړه، سترې محکمې مالومات تر لاسه کړل چې د مې د لسمې نيټی په جريان کې پوره نصاب موجود وو. د سترې محکمې په باور د نړيوالو او اسلامي اصولو، او همدا ډول د ملي شورا د داخلي دندو د اصولو پر اساس کله چې د هو اونه رايې سره برابري دي نو د رايې نتايج باطلی ګڼل کيږي. په دې توګه د مې د ۱۰ مې نيټې رايه باطله ده ځکه چې کارول شوي رايې د هو او نه رايو ترمينځ ويشل شوې وې.[125] دغه حقيقت چې ولسي جرګې دويمه رايه ومنله، د دې ښکارندوی ده چې ملي شورا لومړی رايه باطله ګڼې.

### ۴.۲.۳ د مې د ۱۲ مې نيټی د رايې قانونيت

د دويمې رايې په اړه، ستره محکمه ټينګار کوي چې په دويم وار کې د نوو غړو حضور او ګډون دويم ځل رايه باطلوي. د ولسي جرګې د داخلی دندو د اصولو ۲۵ مه ماده وايي، کله چې د رايو نتيجه اعلان شي، نو بل وار بحث ته اجازه نه ورکول کيږي. هغه نور غړي چې په دويمه ورځ حاضر شوي وو، په غونډه کې د سوال او ځواب له متن څخه خبر نه وو او نه پوهيدل چې آيا "د موضوع په اړه دلايل او نظريې قانع کوونکې او د توجيه وړ وې" که څنګه؟

برسيره پردې، سترې محکمې ټينګار کړې ده چې د شته قانوني اصولو پر اساس "د جزايي قضاوت بيا کتنه (تعديل) يوازې د متهم پر ضد نه بلکې د هغه په ګټه تماميږي». په دې توګه، د مې د ۱۲ مې نيسټې رايه چې د نه باور رايه يې د دويم ځل لپاره اعلان کړه د شته قانوني اصولو سره سم کار نه دی.

۱۲۲ د سپنتا نظر، د افغانستان د اسلامی جمهوريت ستره محکمه ( د ۲۰۰۷ کال د مې ۱۳ مه).

۱۲۳ د سپنتا نظر.

۱۲۴ د سپنتا نظر.

۱۲۵ په زړه پورې ده، چې ستره محکمه نه غواړي په لومړي ورځې د رايو د پانو "غلط استعمال" ياد کړي.

د سترې محکمې د پريکړې په اړه يو شمير پوښتنې رامينځ ته کيږي. لومړی، آيا ولسمشر بايد موضوع سترې محکمې ته راجع کړې وای؟ آيا ولسمشر د دندې پراساس اړ وو چې د پارلمان پريکړه ؤمني؟ لکه چې پاس وويل شو، د اکبر پرضد د پريکړې منل په دې معنا ده چې ولسمشر په اصولو کې دا خبره منلې ده چې پارلمان د دې واک لري چې وزيران عزل کړي. داسې ادعاګانې هم شوې دي چې ولسمشر د دولت د مشر او د حکومت د مشر په توګه دنده لري چې له اساسي قانون او هغو ادارو څخه چې د قانون پراساس جوړې شوي وي ساتنه وکړي. په دې توګه، د ولسمشر له خوا د پارلمان د پريکړې ترپوښتنې لاندې راوستل د اساسي قانون پراساس د نومړي د دندو پرخلاف عمل دی. هغه بايد د دولت د ارګانو له قانونيت څخه ملاتړ کړای وای.[۱۲۶]

دويم، داسې پوښتنه کيږي چې آيا سترې محکمې دا قانوني صلاحيت درلود چې دغه قضيه واوري؟ له پوښتنې څخه جلاء، چې په راتلونکو کرښو کې ورباندې بحث شوی، د اساسي قانون ۱۲۱ مه ماده د سترې محکمې قانوني واک د "قوانينو، تقنيني فرمانونو، بين الدول معاهدو او بين المللی ميثاقونو "په بياکتنه او له اساسي قانون سره د هغو په انطباق پورې محدود کړې دی[۱۲۷]. د ۱۲۱ مادې له ساده لوستلو څخه معلوميږي چې "د مقننه قوې کړنې" او په تيره بيا "د نه باور رايه" د سترې محکمې له خوا د تر بياکتنې لاندې راتلای نشي. ستره محکمه د دې فرصت نه لري چې له حکم جوړولو څخه مخکې د پارلمان په اړه ادعا واوري. دا موضوع د اساسي قانون په جوړول کی يوه بله نيمګړتيا شميرل کيږي. د ۱۲۱ مادې پراساس ستره محکمه کولای شي يوازې هغه قضيې وڅيړي چې د حکومت يا محکمو له خوا يې غوښتنه شوې وي؛ نو په دې توګه پارلمان د دې صلاحيت نه لري چې قضيې سترې محکمې ته وړاندې کړي.

دريم او په دې اړه، داسې پوښتنې هم راولاړې شوې دي چې آيا داسې يوه سياسي پريکړه لکه د نه باور رايه بايد تر قضايې کتنې لاندې ونيول شي؟[۱۲۸] يو شمير نورو قانوني واکونو "د سياسي پوښتنو دکتورين "رامينځ ته کړ چې قضاييه قوه د دولت د نورو څانګو سياسي پريکړې ترکتنې لاندې نشي نيولای[۱۲۹]. په متحدو ايالتونو کې د دغې نظريې انطباق قضاء د محکمې د جريان او د محکمې د مجرمينو د متن له بيا کتنې څخه منع کړې ده.[۱۷۰] د يوې محکمې جريان او د نه باور رايه پوره جلا موضوعات دي. په هر حال، دواړه يو شان مکانيزمونه دي چې د دولت يوې څانګې ته د بلې څانګې د څار واک ورکوي. اوسنۍ ډيرې سياسي شوې قضاء ته په پاملرنې سره، آيا ياد شوی دکتورين د افغانستان لپاره مناسب ده، تر پوښتنې لاندې راځي. په تيره بيا، د قضاييه قوې پلويتوب ته په کتنتې سره چې په حساسو سياسي شيبو کې د اجراييه قوې ملاتړ کوي، د يوی "سياسي پوښتنې دکتورين "په کارول به له حده ډير هوسا ثابت شي.

۱۲۶ ډاکتر کمالي يادونه کوی چې "[ولسمشر] د قانون پراساس د دولت د ارګانونو تريمنځ ښې اړيکې وساتي". کمالي اضافه کوي چې د اسلامي اساسي قوانينو له تيوري سره سم مشرتوب درې اساسي څانګړتياوې لري: علم، عدالت او حکمت. د کمالی، "د افغانستان اساسی قانون لس کلن شو، کومې ستونزې مطرحې دي؟" وګورئ، ۱۳.

۱۲۷ *د افغانستان اساسي قانون*، ۱۲۱ مه ماده.

۱۲۸ اهلر او نور، *د افغانستان اساسی قانون*، ۸۸. کمالي د يو شمير مدنی ټولنو د ناظرينو او همدا ډول د وزارت د مشاور، اشرف رسولی، نظريې تر قضاوت او بحث لاندې نيسي: د "افغانستان اساسی قانون لس کلن شو، "وګورئ، ۱۰-۱۱.

۱۲۹ ماربری v ماديسن، **۵** متحده ايالات ۱۳۷ (۱۸۰۳)؛ بيکر v کار **۳۶۹** متحده ايالات ۱۸۶، وګورئ.

۱۷۰ جسی اچ چوپر، "د سياسي پوښتنی دکتورين: وړانديز شوي معيارونه"، ديوک لا ژورنال **۵۴** (**۲۰۰۵**): **۱۵۲۳-۱۴۵۷**، **۱۵۱۹**، همدا ډول نکسن v متحده ايالات ۱۱۳، **۷۳۲**، دوسي، چيری چې د فدرال ولسوالۍ قاضی له دندې څخه تر محکمې وروسته ليرې شوي دی او هغه د خپلې محکمې د جريان لپاره د ټولې سنا په وړاندې د پوره اوريدلو پرځای، د قضايي کتنی غوښتنه کړې ده. ستره محکمه ټينګار کوی چې پوښتنه د يو شمير دلايلو پراساس چې په هغو کې د "انډول او کنترول سيستم هم شامل ده چيرته چې محکمه د مقننه قوې له خوا قضائيه قوه تر کنترول لاندې راځی"؛ او دا به د وروستنی له موخې سره مخالفت وي چې د محکمې صلاحيت د دولت بلی څانګی ته ورکوي. په همدې ډول د ميخائيل جې ګرهات، "د نه عدالت بيا کشف کول: له نيکسن څخه وروسته د محاکمې قضايي بيا کتنه" هم وګورئ. *ديوک لا ژورنال* **۴۴**. شميره ۲ (۱۹۹۴): ۲۳۱- ۲۷۲، **۲۳۵**- ۲۳۲.

## ۵. د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون

لکه چې تمه کيده ولسي جرګې د سپينتا په اړه د سترې محکمې پريکړه رد کړه، او دا ادعا يې وکړه چې د سترې محکمې قانوني واک يوازې د "قوانينو، تقنيني فرمانونو او تړونونو" بيا کتنې ته محدود دی.ولسي جرګه يو قدم مخته ولاړه او د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون د جوړولو لپاره يې يو قانون جاري کړ، او نوموړې نوې ادارې ته يې د اساسي قانون د تفسير روښانه قانوني واک ورکړ. پارلمان د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون په اړه د خپل وړانديز شوي متن په هکله لږ بحث وکړ. په تيره بيا، په دې اړه چې د کميسيون او اړوند قانون اغيزه به د اساسي قانون په موجود نظم باندې څه وي، او په دوو سيالی کوونکو ادارو چې دواړه يې د اساسي قانون د تفسير صلاحيت لري څه تاثير واچوي، لږ او يا هيڅ بحث ونشو. ددې خبرې پرځاي په هغه وخت کې، موضوع فوری او ډله ايزه بدله او غبرګونو چې له اجراييه، او قضاييه قوې څخه واخيستل شوه.[۱۷۱]

د اساسي قانون **۱۵۷** ماده د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون جوړيدل د قانون له حکم سره سم غواړي.[۱۷۲] د وزير سپينتا په وړاندې د نه باور د رايې په وخت کې ياد کميسيون لاجوړ شوي نه وو. نه پارلمان او نه ولسمشر د **۲۰۰۷** کال تر وروستيو پورې د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون د جوړيدلو پلان نه درلود. د نوموړې خپلواک کميسيون قانون د عدليې وزارت له خوا تسويد او د کابينې له خوا تاييد شوي وو. کابينې ياد شوی قانون د پارلماني چارو د وزارت له لياري پارلمان ته واستاوه. ولسي جرګې ياد قانون له ځينو تعديلاتو سره د **۲۰۰۷** کال د اپريل په **۴** مه تصويب کړ. تعديل شوي قانون ولسمشر ته ليږل شوی وو؛ خو ولسمشر د قانون له توشيح څخه ډډه وکړه.

ولسمشر د قانون په **۸** مې مادې اعتراض درلود چې د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون ته يې د ولسمشر، ملي شورا، سترې محکمې او اجراييه قوې په غوښتنه د اساسي قانون د تفسير قانوني واک ورکړي وو. ولسمشر استدلال کاوه چې ددغه قانون **۸** مه ماده د اساسي قانون له **۱۲۱** مې، **۱۲۲** مې او **۱۵۷** مې مادو سره تناقص لري. دا موضوع په يوه ليک کې چې د پارلماني چارو د وزير له خوا د پارلمان رييس ته ليږل شوی وو په ځرګنده توګه بيان شوې وه. په ياد ليک کې ويل شوي وو چې اساسي قانون نوموړي خپلواک کميسيون ته يوازې د اساسي قانون د تطبيق د څار دنده سپارلې ده او د اساسي قانون پربنسټ د اساسي قانون او هر بل قانون د تفسير واک نه لري.[۱۷۳] د ولسمشر او پارلمان ترمينځ د سپينتا د عزل په اړه د سياسي جګړې په جريان کې، د **۲۰۰۸** کال د آګست په اتلسمه ولسي جرګې له فرصت څخه استفاده وکړه، او يادشوی قانون يې په دوه دريېمې اکثريت سره د اساسي قانون د **۹۴** مې مادې پراساس تصويب کړ.

د **۲۰۰۹** کال د مارچ د مياشتې په غبرګون کې، ولسمشر د نوموړی کميسيون قانون سترې محکمې ته واستاوه او له هغې څخه يې وغوښتل چې د اساسي قانون پراساس پر هغه باندې بيا کتنه وکړي. هم هغه ډول چې تمه وه، سترې محکمې ياد قانون د اساسي قانون پر ضد وګاڼه. سترې محکمې استدلال وکړ چې د اساسي قانون **۱۵۷** مه ماده چې د "څارنې" اصول برابروي د تفسير واک نه ورکوي.[۱۷۴] په تيره بيا، د قانون **۸(۱)** ماده چې د تفسير واک ورکوي د اساسي قانون د **۱۲۱** مادې سره په تضاد کې ده. سترې محکمې استدلال کاوه چې د اساسي قانون **۱۲۱** مه ماده وايي چې يوازېستره محکمه د اساسي قانون د تفسير واک لري. ستره محکمه ادامه ورکوي چې د اساسي قانون تفسير د الزام لرونکی قضاوت د صادرولو د واک ايجاب کوي او داسې واک يوازې ستره محکمه درلودلای شي.[۱۷۵]

ستره محکمه ټينګار کوي چې په قانون کې د ګومارنې او عزل مکانيزم له اساسي قانون سره په تضاد کې ده. د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې د خپلواک کميسيون د قانون **۷** مه ماده وايي چې د کميسيون د پنځو غړو په وړانديز او د ولسي جرګې په تاييد، خپلواک کميسيون کولای شي خپل غړي عزل کړي. سترې محکمې ټينګار کاوه چې خپلواک کميسيون يوه "سوداګريزه شرکت" نه ده چې خپل غړي له کار څخه رخصت کړي. دا يوه اجرايېوی اداره ده او د اساسي قانون د **۶۴** مې مادې پراساس د وزيرانو او نورو حکومتي مامورينو د عزل موضوع يوازې د ولسمشر واک ده.

ستره محکمه ادامه ورکوي او وايي چې د خپلواک کميسيون د قانون څو نورې مادې هم له اساسي قانون سره تناقض لري. د قانون د **۵(۱)** مادې پربنسټ يوازې د افغاني تابعيت لرونکي د کميسيون غړيتوب درلودلای شي. ستره محکمه ټينګار کوي چې افغاني تابعيت د اتباعو د حقوقو او مکلفيتونو سره تړاو لري، چې کيدای شي د اساسي قانون له لارې، نه دعادی قوانينو له لارې، تنظيم شي. برسيره پردې د قانون **۱۱** ماده داسې وايي چې " د کميسيون هيڅ غړی د رييس له رضايت پرته توقيف، بندي يا تعقيب کيدای نشي؛ مشهود جرم استثناء ده" د سترې محکمې په نظر دغه امتياز بايد يوازې ولسمشر، د ملي شورا غړو او قاضيانو ته د اساسي قانون سره سم ورکړل شي. د عادي قوانينو پراساس عادي مامورينو ته ددې امتياز ورکول د توجيه وړ نه دي.

۱۷۱ نادر نادري، شخصي نظريه د **۲۰۱۵** کال د جنوری ۱۰ مه.

۱۷۲ *د افغانستان اساسي قانون*، **۱۵۷** مه ماده.

۱۷۳ د حکومت لوړ پوړې چارواکي، شخصي نظريه، د ۲۰۱۴ کال د اپريل ۱۰ مه؛ همدا ډول د جان د ميسی او الکساندر تيير، "د بحران حل"، **۵** هم ووينئ.

۱۷۴ قضايي حکم شميره ۵، د ۱۳۸۸ کال د وری **۲۵** مه.

۱۷۵ هماغه ځای

سترې محکمې د خپلې پريکړې د صادرولو سره يو ځاي ياد قانون په داسي ډول چاپ کړ چې ټول هغه احکام يې له قانون څخه ايستلی وو چې د محکمې له نظره د اساسي قانون له حکمونو سره په تضاد کې وو. په دې توګه، د نظر خاوندان استدلال کوي چې سترې محکمې په هغه قانون کې د تعديل د راوستلو له لارې چې د پارلمان له خوا تصويب شوي وو، اساسي قانون نقض کړ.[176] خبره لا هم خرابه شوه، کله چې د عدليې وزارت ياد شوی قانون په داسې بڼه چاپ کړ چې تعديل شوې برخې يې حذف کړې وې، او د توضيح لپاره يې لمن ليکونه (پاورقۍ) زيات کړي وو.[177]

سره له دې چې پارلمان نوموړی قانون تصويب او سترې محکمې خپل نظر پکې ځای کړي وو، خو قانون بيا هم نارونه پاتې وو. پارلمان د سترې محکمې پريکړه ؤ نه منله، او ادعا يې وکړه چې ستره محکمه په دې پريکړه کې د ګټو له تضاد سره مخامخ شوې ده. حکومت يوازې د ۲۰۱۰ کال د جون په مياشت کې د اساسي قانون پرتطبيق باندې د څارنې خپلواک کميسيون جوړ کړ.[178] حکومت د اساسي قانون پرتطبيق باندې د څارنې خپلواک کميسيون د جوړېدو لپاره ۷ نوماندان وټاکل، خو پارلمان يوازې پنځه نوماندان تاييد کړل.[179] کميسيون له جوړېدو وروسته، سره له دې چې سترې محکمې پريکړه کړې وه چې د اساسي قانون د تفسير واک نه لري، په اساسي قانون پورې اړوند د عمده پوښتنو په هکله خپل نظريات څرګند کړي دي. د ياد شوو نظرياتو موقف لاتر اوسه مالوم نه دی.[180] خپلواک کميسيون نه يوازې ادعا کوي چې د اساي قانون د تفسير واک لري، بلکې وايي چې "د سترې محکمې په شمول د حکومت او غير حکومتي فعالينو له خوا د اساسي قانون د رعايت او تطبيق د څارنې " واک هم لري.[181] دغه حکم په دې اړه چې خپلواک کميسيون د قانون د رعايت او تطبيق لپاره کولای شي د يوه مقام په څير په باالقوه توګه عمل وکړي، چې د سترې محکمې پريکړې هم هغې ته راجع شي، لا ډېر ابهام رامينځ ته کوي[182]

176 غزال حارس، (د اساسي قانون په اړه د پروفيسور مرستياله، په افغانستان کې امريکايي پوهنتون)، شخصي نظريه، د ۲۰۱۴ کال د جون ۲۲ مه.

177 هماغه ځای.

178 د ۲۰۱۰ کال ترمې مياشتې پورې ولسي جرګې "د پټې خولې غونډې" جوړولې چې په هغو کې هيڅ ډول مهمو موضوعګانو باندې بحث نه کيده. ولسی جرګې په دې ډول خپل اعتراض د يو شمير لانجو په اړه چې په هغو کې د ولسمشر له خوا د ټاکنو د قانون په لاس کی نيول او د نړيوالې ټولنې پرضد څرګندونې هم شاملې وې، ښکاراوه. ولسې جرګې د حکومت په وړاندې خو واري وروستي اعتراضونه وړاندې کړل چې په هغو کې د لسو ورځو په جريان کې د اساسی قانون پرتطبيق باندې د څارنې د کميسيون په بېړه جوړول هم شامل وو. د نوموړو مخالفتونو او اعتراضونو په نتيجه کې حکومت شپږ نوماندان وټاکل چې بايد د خپلواک کميسيون لپاره تاکل شوي وای. د مارتينا وان بليرت "د پارلمان او کرزي ترمنځ د شخړې دوام" د افغانستان د شننونکو شبکه ، وګورئ/ /http://www.afghanistan-analysts.org/continuing-tug-of-war-between-the-parliament-and-karzaiد ۲۰۱۰ کال د جون ۲۰ مه (د ۲۰۱۴ کال د نومبر له لومړۍ نيټې د لاس موندنې وړ).

179 يوه نوماند له خپلې کانديدی څخه لاس واخيست. نور ۵ کانديدان قاضی ګلرحمان، سيد عمر منيب، محمد امين احمدی، عبدالقادر عدالتخواه، محبوبه حقوقمل (يوازی ښځينه کانديده) وو؛ پنځه واړه کانديدان په حقوقي مسئلو کې پيژندل شوي شخصيتونه دي چې علمی پوهه لري او په حکومت کې د مسلکي تجربو خاوندان ګڼل کيږي. د ساري کوو، "د اساسی قانون کميسيون شپږ کاله وروسته جوړ شو؛ خو آيا ولسمشر او پارلمان به وپاروي"وګورئ. د افغانستان د شننونکو شبکه. -https://www.afghanistan-analysts.org/six-years-late-the /constitutional-commission-is-formed-but-will-it-take-on-president-and-parliamentد ۲۰۱۰ کال د جولای ۳ مه. (د ۲۰۱۴ کال د نومبر له لومړی نيټی د لاس موندنې وړ).

180 د دمپسی او تيبر، "د بحران حل "۴-۵. وګورئ.

181 تام ګينبرګ، "کابل‌نن‌ورځ: د اساسي قانون په اړه ګډوډتيا دوام لري" http://www.iconnectblog.com/2011/09/kabul-update-constitutional-confusion- continues د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر ۲۵ مه (د ۲۰۱۴ کال د نومبر په لومړۍ د لاسرسی وړ).

182 هماغه ځای.

## ۲. د اساسي قانون د تفسير واک

د اساسي قانون په تطبيق د څارنې د خپلواک کميسيون شتون يو اساسي پوښتنه په دې اړه رامينځ ته کړې ده چې څوک د اساسي قانون د تفسير واک لري؟ آيا دا مرجع ستره محکمه، خپلواک کميسيون يا دواړه دي؟ مهمه ده وويل شي چې د خپلواک کميسيون له جوړېدلو څخه پخوا، سترې محکمې په عمل کې د اساسي قانون د تفسير دنده په غاړه درلوده، او د دې کار د واک په درلودلو کې سترې محکمې کوم سيال هم نه درلود. په حقيقت کې، تر ۲۰۰۷ کال پورې کله چې د خپلواک کميسيون قانون نافذ شو، سترې محکمې په څوڅو ځانګړو مهمو مواردو کې د اساسي قانون په تفسير کې نظريې ورکړې وې. لومړی ځل، په ۲۰۰۵ کال کې کله چې د دې پوښتنه پيدا شوه چې د ولسواليو د شوراګانو د ټاکنو په نه شتون کې به مشرانو جرګه څه رنګه جوړه او دايره شي، سترې محکمې پريکړه وکړه چې هره ولايتی شورا کولای شي دوه غړي مشرانو جرګې ته وليږي.[183] دويم ځل، هغه وخت چې دا پوښتنه رامينځ ته شوه چې حکومت د وزيرانو د تاييد لپاره په پارلمان کې "اکثريت" کوم دی، سترې محکمې پريکړه وکړه چې د پوښتنې لاندې اکثريت د حاضرو غړو د اکثريت په معنا ده.

د ۱۲۱ مادې د صحيح تفسير په اړه درې برخې نظريات شتون لري. ټول توافق لري ستره محکمه ددې واک لري چې تقنيني فرمانونه، قوانين او نړيوال تړونونه تربياکتنې لاندې ونيسی او تفسيرېې کړي. لمړی برخه استدلال کوي چې ستره محکمه په حقيقت کې ددې واک لري چې اساسي قانون تفسير کړي. د ولسمشر دويم مرستيال جلالتمآب سرور دانش، چې د اساسي قانون د بياکتنې کميسيون غړی هم وو، استدلال کوي چې "د حقوقی او (پاليسی) له نظره، د اساسي قانون د تفسير واک يوې ادارې ته ورکول او د بياکتنې او له اساسي قانون سره د عادی قوانينو د انطباق د څېړلو واک بلې ادارې ته ورکول غلط کار ده، او داسې کول د نړۍ په هيڅ هيواد کې وجود نه لري». برسيره پردې، هغه زياتوي چې د اساسي قانون د تسويد کميټې، چې ده پخپله په هغې کې غړيتوب درلود، پوهه دا وه چې د اساسي قانون د تفسير واک په سترې محکمې پوری اړه لري.[184]

ښاغلی اشرف رسولی، د اساسي قانون د بيا کتنې د کميسيون غړی، د عدليې د وزارت پخوانی مرستيال او د ولسمشر حقوقي او عدلی مشاور باور لري چې ستره محکمه د اساسي قانون د تفسير واک نه لري. هغه استدلال کوي چې "ځيني کسان عقيده لري چې ستره محکمه د اساسي قانون د تفسير واک هم لري. په هر حال، د اساسي قانون ۱۲۱ ماده په خاصه توګه څرګنده او روښانه ده چې هغه له اساسي قانون سره د قوانينو، تقنيني فرمانونو او نړيوالو تړونونو او ميثاقونود انطباق بيا کتنه ګڼل کيږي. کله چې نوموړې ماده د تفسير په اړه خبرې کوي، منظور ياد څلور حقوقی اوقانوني سندونه دي، ځکه چې د حقوقی سندونو بيا کتنه د اساسي قانون له حکمونو سره د هغوی د انطباق موضوع ده، او دلته منظور له نورو قانوني سندونو څخه نه ده. په دې توګه د تفسير کولو موضوع يوازې د پورتنيو يادو شوو سندونو څخه ده نه له اساسي قانون څخه.[185]

د اساسي قانون د بيا کتنې د کميسيون دريیم غړی، داکتر هاشم کمالی، بيا د دواړو ډلو ترمينځ تو پير موضوع ته په نږدې کيدلو کې ګوري. داکتر کمالی چې له د ولسمشر جلالتمآب دويم مرستيال سره په دې اړه توافق کوي چې ستره محکمه د اساسي قانون د تفسير واک لري، استدلال کوي چې د "هو ويونکي" لارښوونه د نوموړې مادې د عمومي معنا او منظور پراساس کيږي، په داسې حال کې چې "نه ويوونکي" د ۱۲۱ مادې په خپل تفسير کې په ګرامري تحليل باندې تکيه کوي.[۱۸۲] ډاکتر کمالی توضيح ورکوي چې که څوک غواړي د ۱۲۱ مادی "بشپړې معنا او منظور" ته پام وکړي منطقی او صحيح خبره داده چې دی نتيجې ته ورسيږي چې ستره محکمه د اساسي قانون د تفسير واک لري. کمالی وايي کله چې دري متن ولوستل شي نو دريځ به يې دا وي چې د "هغوی (آنها)" ضمير اساسي قانون ته هم اشاره ده. په دې توګه کمالی له هغو کسانو سره چې "نه ويونکو "سره توافق لري چې د "هغوی (آنها)" ضمير د اساسي قانون په شمول نه ده. په هر حال، کمالي وړاندېز کوي که څوک غواړي نوموړی متن په پوره معنا او موخه وپيژني صحيح نظر داده چې د اساسي قانون تفسير د سترې محکمې په صلاحيت کې ده.[187]

که مونږ وغواړو ۱۵۷ مه ماده په دقت وګورو، دا ماده په هيڅ ډول داسې افاده نه کوي چې د اساسي قانون تفسير د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون په واک کې ده. داکترکمالی يادونه کوي چې د مسودې د ليکونکو مقصد دا وو چې کميسيون ته د نوي اساسي قانون پر تطبيق باندې او همدا ډول د بن د پروسی په عملي کولو باندې يو ډول نظارتی ونډه ورکړي. په ځانګړې توګه، داسې سوچ شوي وو چې د اساسي قانون پر تطبيق د څارنی کميسيون کولای شي د ليږد په موده کې يو مهم څارنيز رول ولوبوی، چيرې چې اساسي قانون انتقالي حکومت ته د تقنيني فرمانونو ډير زيات واکونه ورکړي وو.[188] ۱۵۷ مه ماده او دولسم فصل چې "انتقالی حکمونه "پکې يو ځای شوي دي لا ډير څرګندوي چې خپلواک کميسيون ته د اساسي قانون د تفسير واک ورکول شوی نه ده.[189] ددې ترڅنګ، د اساسي قانون ۲۴ مه ماده چې ولسمشر ته "د اساسي قانون پر تطبيق باندې د څارنې" واک ورکوي د ۱۵۷ مې

---

۱۸۳ د جان دمپسی او الکساندر تيير، "د بحران حل" هم وګورئ.

۱۸۴ سرور دانش، *د افغانستان اساسی قانون*

۱۸۵ اشرف رسولي، *د افغانستان د اساسي قانون تحليل او نيوکه* (کابل: د سعيد مطبعه، ۱۳۸۹)

۱۸۲ کمالی، "د افغانستان اساسي قانون لس کلن شو، "۱۲. په عين حال کې د ليکنی ۴۵ لمن ليک (پاورقی) هم وګورئ چيرته چې کمالی په کابل کې د ۲۰۰۸ کال د آګست د مياشتی د اساسي قانون ورکشاپ ته اشاره کوي. په دغه ورکشاپ کې درې واړه حاضروو او د حبيب الله غالب په شمول څلور واړو له ۱۲۱ مادې څخه خپل مختلف دريځونه او دلايل تر بحث لاندې ونيول. په ورکشاپ کې، محمد قاسم هاشمزي په ځانګړی توګه وويل چې "د ۱۲۱ مادې د تسويد کوونکو، چې ټول ژوندي دي، منظور دا وو چې د اساسي قانون تفسير د يادې مادی پراساس د سترې محکمې قانوني صلاحيت دی".

۱۸۷ هماغه ځای

۱۸۸ کمالی، "د افغانستان اساسي قانون لس کلن شو، "۱۳.

۱۸۹ هماغه ځای.

مادې پر تناسب روښانه ژبه په کاروي.[۱۹۰] که چیرې د خپلواک کمیسیون نظارتي واک داسې تعبیریږي چې د (اساسي قانون) تفسیر ده، نو په هغه صورت کې دا هم ممکنه ده چې د ولسمشر د څارنې او نظارت واک د اساسي قانون د تفسیر واک وګڼل شي. په هر حال، مسوده لیکونکي هیڅ وخت له داسې دندې سره مخامخ شوي نه وو، او کیدای شي په اساسي قانون کې یې د قواوو جلاوالی ته پوره پاملرنه نه وي کړې او هغه یې کمزوري کړې وي.

یو بل عامل چې د خپلواک کمیسیون له خوا د تفسیر واک درلودل غلط ګڼي دا حقیقت ده چې کمیسیون ته د خپل تاسیس له ورځې دا واک ورکړل شو چې تقنیني مسوده وروسته له هغه چې کابینه یې تایید کړي او مخکې له دې چې پارلمان ته واستول شي د بیا کتنې لپاره خپلواک کمیسیون ته ورکول کیږي. په دې توګه کمیسیون د ګټو له تضاد سره مخامخ کیږي لکه چې کمیسیون څخه دا غوښتل شوي وي چې د تقنیني سندونو د اساسي قانونولی په اړه پریکړه وکړي چې هغه پخپله د هغو په تسوید کې مرسته کړې وه.

د خپلواک کمیسیون له تاسیس څخه را په دې خوا، دواړو، ستری محکمې او کمیسیون، د اساسي قانون تفسیر ته دوام ورکړی ده چې مختلفې نظریې یې، کله کله په عین وخت او عین موضوع کې، ورکړې دي. د بیلګې په توګه د ۲۰۱۰ کال د پارلماني ټاکنو په نتیجې کې ولسمشر د اساسي قانون په اساس د ټاکنو ځانګړې محکمې په هکله د سترې محکمې نظریه وغوښته. د تعجب وړ نه وه چې سترې محکمې د یادې محکمې قانونیت تایید کړ. په عین حال کې، د اساسي قانون د تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون خپله نظریه وړاندې کړه چې په هغې کې یې د سترې محکمې ټول دلایل د ټاکنو د ځانګړې محکمې د قانونیت په اړه رد کړي وو او هغه یې غیر قانوني ګڼلې وه.[۱۹۱] د ټاکنو په اړه اختلاف ادامه وکړه او د اساسي قانون او سیاسي بحران سبب شوه، تر هغه چې موضوع د سیاسي روغې جوړې پر اساس حل شوه.

خپلواک کمیسیون څو څو واري نه یوازې په اساسي قانون پورې تړلي موضوعات بلکې هغه مسئلې چې د افغانستان د دریځ په تفسیر پورې یې اړه لرله هم حل کړي دي. دا د سترې محکمې په قانون واک باندې څرګند تیری ګڼل کیږي. لکه چې پورته یادونه وشوه د ۱۲۱ مادې پر بنسټ، ستره محکمه په څرګند ډول واک لري چې محلی قوانین له اساسي قانون سره د تطابق لپاره تفسیر کړي.[۱۹۲] اوس اوس د خپلواک کمیسیون نافذ قانون، کمیسیون ته اجازه ورکوي چې د جمهور رییس، ملي شورا، سترې محکمې، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د اداري اصلاحاتو او ملکی خدمتونو کمیسیون څخه پوښتنې وکړي. د حکومت یو شمیر ادارو په داخلی دریځ پورې تړلو یو لړ مسئلو کې له خپلواک کمیسیون څخه نظر غوښتی ده.[۱۹۳] د بیلګې په توګه د کابینې دارالانشاء د خپلواک کمیسیون نظر په تاجیکستان کې د افغان بندیانو په اړه چې له شل کلونو ډیر بندي شوي دي (د افغانستان د قانون پر اساس د بندی کیدلو ډیر تر ډیره سزا ۲۰ کاله ده) [۱۹۴] غوښتی ده. د پارلماني چارو کې د دولت وزیر هم له خپلواک کمیسیون څخه د فساد پر ضد د مبارزې د اداري او پولیسو په اړه پوښتنه کړې ده.[۱۹۵] د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون له متحده آیالاتو سره د افغانستان د تفاهم یاددښت سره سم په بګرام او څرخي پله کې د بندیانو د قانوني دریځ په اړه له خپلواک کمیسیون څخه نظر غوښتی وو.[۱۹۲]

تراوسه پورې په دې اړه چې کومه مرجع د اساسي قانون د تفسیر واک لري، قانوني او سیاسي اتفاق وجود نه لري. له یوې خوا، که چیرې د اجراییه قوې په وړاندې د مقننه قوی نرمي او ملایمت ته وګورو، د سترې محکمې په ګټه د پوښتنې حل بې اتباره بریښي. له بلې خوا، هغه واک چې خپلواک کمیسیون ته ورکړل شوی ده د اساسي قانون د ساده لوستلو سره په مخالفت کې ده او برسیره پردې، د خپلواک کمیسیون څو واره قوي او غښتلي نظرونه داسې څرګندوي چې خپلواک کمیسیون ددې پرځای چې خالص حقوقی دلایل طرحه شي، د اجراییه قوې په وړاندې د مشخص مقاومت له لارې له سیاسي اړخه هڅول شوي دي.[۱۹۷] په دې اړه دایمي حل دا ده چې اساسي قانون تعدیل شي او دا موضوع روښانه شي چې کومه اداره د تفسیر واک لري. په اساسي قانون کې تعدیل ددې ایجاب کوي چې لویه جرګه راوغوښتل شي چې په غړو کې یې هرو مرو د ملي شورا، ولایتی شوراګانې او د ولسوالیو شوراګانې شاملې دي. لکه چې وویل شو د ولسوالیو د شوراګانو ټاکنې تر اوسه ترسره شوي نه دي. د لویې جرګې نصاب د لویې جرګې د غړو لږ تر لږه ۵۰ سلنه ده، او د ولسوالۍ د شوراګانو له غړو پرته نوموړې نصاب نه پوره کیږي.[۱۹۸]

یوه بله د حل لاره، چې د طرز العمل پر اساس لږ ستونزه لري، دا ده چې یو قانون جوړ شي چې د دواړو ادارو قانوني واک روښانه شي. د اساسي قانون ۱۲۱ مه ماده وایي چې د ځلورو موضوعاتو تفسیر به د "قانون پر اساس" وشي. په همدې ډول، ۱۵۷ ماده صراحت لري چې خپلواک کمیسیون باید د اساسي قانون څارنه وکړي او "د قانون له حکمونو سره سم" به تاسیس شي. په دې توګه له اوسني ستونزمن حالت څخه د وتلو لار داده چې یو قانون جوړ شي ترڅو د هرې

[۱۹۰] اهلر او نور، *د افغانستان اساسي قانون*، ۱۷۲.

[۱۹۱] په دې اړه د تفصیل لپاره د غزال حارس، "ټاکنیزو شکایتونو ته رسېدنه، " وګورئ، ۲۲-۲۵.

[۱۹۲] *د افغانستان اساسي قانون*، ۱۲۱ مه ماده.

[۱۹۳] کمالي، "د افغانستان اساسي قانون لس کلن ش "و، ۳۷، یادونه ۱۴۲.

[۱۹۴] هماغه ځای

[۱۹۵] د اساسی قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون (ICOIC) له اساسی قانون سره د اداري فساد پر ضد قانون د انطباق په اړه حقوقی نظر. ۷، ۲۰۱۲ (۱۳۹۱).

[۱۹۲] کمالی، "د افغانستان اساسي قانون لس کلن شو، " ۳۷، ۱۴۲ یادونه.

[۱۹۷] غزال حارس، "ټاکنیزو شکایتونو ته رسېدنه، " ۲۹.

[۱۹۸] تراوسه له ۷۸۹ غړو څخه یوازی ۳۸۵ کسانو په کار پیل کړی دی. د تام ګینسبرګ، "د اساسي قوانینو د مقایسوی کتنه، " وګورئ. http://www.usip.org/sites/default/files/ROL/TG_Memo_on_Constitutional_Review%20for%202011_v4.pdf(د ۲۰۱۴ کال د نومبر په لومړۍ نیټه د لاس موندنې وړ) ګینسبرګ داسې وړاندیز کوي چې د اختلافونو د حل کولو لپاره ۵۰ سلنې نصاب داسې تفسیر شي چې د ټولو ټاکل شوو غړو ۵۰ سلنه په نظر کې ونیول شي؛ ددې کار د کولو معنا داده چې په اساسي قانون کې د تعدیل موضوع تر هغه ترسره کیدای نشی ترڅو شخړې او اختلافونه حل نه شي.

اداري ونډه او نقش معلوم کړي. موسی محمودي په دې هکله داسې یادونه کوي "د قواوو د درې څانګو په مېنځ کې مقاومت او د اساسي قانون د تفسیر د واک په اړه د هغوی مختلف نظرونه څرګندوي چې د داسې نوي قانون له جوړېدلو سره به توافق ؤ نه کړي چې د تفسیر په اړه طرزالعمل روښانه کړي او د نوموړې مادې پر سر اختلافونه حل کړي"[199].

ولسمشر هڅه وکړه د ولسمشریز تقنیني فرمان له لارې چې د څپلواک کمیسیون ونډه او صلاحیت یې د قوانینو د مسودو د بیا کتنې په اړه چې وروسته د کابینې له تایېد او مخکې له دې چې قانون ملي شورا ته ولیږل شي ترسره کیدله، محدود کړي.[200] ؛په عمل کې یاد تقنیني فرمان د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې د څپلواک کمیسیون په تفسیري کار، نه یوازې په اساسي قانون بلکې د نورو محلي قوانینو په اړه، محدود نه شو. د نظر خاوندان وایې چې چې لومړی ، مخکې له دې چې قانوني حل پیدا شي، باید د اړوندو ادارو ترمینځ روغه جوړه وشي.[201] په تیره بیا ، د دولت درې څانګې باید هرو مرو په دې هکله چې کوم ارګان د اساسي قانون د تفسیر واک لري، او دا چې د درې څانګو د پریکړې منل د هرې خوا لپاره الزامی دې، موافقه وکړي.

په دې هکله چې د اساسي قانون پر تطبیق باندې د څارنې څپلواک کمیسیون ته مناسب (وړ) رول ورکړل شي نظریې مختلفې دي. ځینې موافقت لري چې څپلواک کمیسیون باید په دې اړه چې د قوانینو مسودې له اساسي قانون سره انطباق لري څپل کار ته دوام ورکړي.[202] په تیره بیا ، څپلواک کمیسیون باید د اساسي قانون پراساس او اصولو برابر څپله ونډه په دی اړه سر ته رسوی چې اساسي قانون نه یوازې د اجراییه قوی بلکې "په هیواد کې د ټولو ادارو "له خوا په صحیح توګه تطبیقیږي.[203] په عین حال کې د څپلواک کمیسیون ونډه دا هم ده چې د څانګو ترمینځ د داخلی اختلافونو په اړه مشورتي نظریې ورکړي چې له اساسي قانون سره د تقنیني او اجرایېوي څانګو "کړنې" مطابقت لري، په تیره بیا چې وروستۍ (اجراییه قوه) د قضاییه قوې د قانون صلاحیت لاندې رانشي.[204] څپلواک کمیسیون همدا راز کولای شي د هغو قوانینو انطباق له اساسي قانون سره وڅیړي، چې له **۲۰۰۴** کال څخه تر مخه نافذ شوي دي.[205]

۱۹۹ محمودي، موسی. *اساسی قانون* "(د ۲۰۱۴ کال د اپریل۲ مه).

۲۰۰ د ولسمشر تقنیني فرمان (شمیره ۱۳۷۱، د نومبر ۱۴ مه، کابل ۲۰۱۰).

۲۰۱ کمالي، "د افغانستان اساسي قانون لس کلن شو، "۳۷؛ دمپسی او تیپر، "د بحران حل کول"، ۹.

۲۰۲ کمالي، "د افغانستان اساسي قانون لس کلن شو، "۳۷؛ دمپسی او تیپر، "د بحران حل کول"،۷-۸.

۲۰۳ غزال حارس، "تاکنیزو شکایتونو ته رسېدنه، "۳۳.

۲۰۴ دمپسی او تیپر، "د بحران حل، "۷-۸.

**۲۰۵** هماغه ځای.

## ۷. د نه باور رایې صادرول

د سپنتا له پېښې وروسته، پارلمان پیل وکړ چې له خپلو صلاحیتونو څخه د ډېرو وزیرانو د راغوښتلو څخه ګټه "پورته کړي. پراخو سیاسي شرایطو پارلمان د خپلو نظارتی دندو سرته رسولو لپاره لیوال کړ. تر یوې کچې د ۲۰۱۰ کال له پارلماني ټاکنو وروسته، چې ولمسشر هڅه وکړه له اساسي قانون څخه بهر د ټاکنو د ځانګړې محکمې د جوړولو له لارې د ټاکنو نتایج له سره مهندسي کړي، د نویو ټاکل شوو وکیلانو او اجراییه قوې ترمینځ اړیکی لا دیر ساړه شول. د مقننه او اجراییه قوې د وتلو شخصیتونو ترمینځ تاوتریخوالی لا ډیر شو. برسیره پر دې په یوه ټوټې ټوټې شوي پارلمان کې د وزیرانو احضارول او د هغوی د عزل کولو هڅې د وکیلانو د اتحاد لپاره، له ولسمشر څخه غچ اخیستل، او همدا ډول په دې اړه اعتراض چې په هیواد څرنګه حکومت کېږي، یوازنۍ لار وه. د جمهوري ریاست غبرګون د نه باور د رایو په اړه مختلف وو. څو څو واری د ولسمشر د نه باور رایې ؤمنلي او وزیرانو ته اجازه ورکړل شوه چې څوکۍ خوشي کړي؛ خو په نورو مواردو کې، داسي څرګندیدله چې د نه باور رایې منل شوي، ولسمشر وزیرانو ته اجازه ورکړه چې په حکومت کې خپل کار ته دوام ورکړي، په ځینو نورو مواردو کې یې وزیر یو بل ډیر نږدې مقام ته ګومارلی ده. پارلمان هڅه وکړه د یو قانون په تصویبولو سره چې د "سرپرست وزیر" د سرپرستی موده دوو میاشتو ته راټیټه کړي او د ولسمشر دا ډول کړنو مخنیوی وکړي.[۲۰۶] خو په هر حال په عمل کې ځیني وزیران له دوو میاشتو څخه خورا ډیر د سرپرستو وزیرانو په توګه کار ته دوام ورکړ.

په ۲۰۱۱ کال کې، د ځانګړې ټاکنیزې محکمې پر سر له کلک اعتراض او شور ماشور وروسته، پارلمان هڅه وکړه د لوی څارنوال الکو، او شپږ نور د ستړې محکمی قاضان د نه باور رایې پر اساس له دندې ګوښه کړي. الکو، د نوو ټاکل شوو وکیلانو د تقلب د ادعاګانو په هکله د تحقیق په جریان کې ستر رول ولوباوه، او د ستړې محکمې قاضانو د ټاکنو د ځانګړي محکمی له قانوني اعتبار څخه ملاتړ وښود. د نه باور رایې څخه وروسته له نوموړو کسانو څخه هیچا خپله دنده خوشي نه کړه. د لوي څارنوال او د ستري محکمې د غړیو محکمه په ډیر ښه حالت کې ریږدیدونکي ښکاریده. ولسي جرګه د لوي څارنوال ګومارل تایېدوی؛ خو په اساسي قانون کې داسې وضاحت نشته چې ولسي جرګې ته یې د لوی څارنوال د عزل واک ورکړي وي.[۲۰۷] د اساسي قانون د ۱۲۷ مې مادې پر اساس، ولسي جرګه کولای شي د ستړې محکمې قاضي کله چې د ولسي جرګې دوه دریېمه برخه وغواړی قاضي د ځانګړي "جرم چې د دندې په اجراء پورې تړلی وې یا د بل جرم د مرتکب کیدو "په صورت کې محاکمه او عزل کړي.[۲۰۸] په هر حال، که څه هم د ولسي جرګې دوه دریېمه برخه غړو په بریالیتوب سره د ستړې محکمې قاضان عزل کړل، خو داسي جرم چې د دندې په سرته رسولو کې واقع شوي وي پیدا نشو. کله چې پورته وویل شو د ستړې محکمې غبرګون د شوي محاکمې د هڅو په وړاندې خورا څرګند وو. ستړې محکمې پخپله فصلنامه کې ولیکل چې یوازې ولسمشر واک لري چې د ستړې محکمې قاضیان عزل کړي او پارلمان دا واک نه لري.[۲۰۹] د اړوندو حکمونو یوځای لوستل په روښانه ډول څرګندوی چې ولسمشر دا واک لري چې د ابتداییه او لوړو محکمو قاضیان مقرر کړي، تقاعد ته یې سوق کړي او د هغوی استعفاء ومني. په هر حال، د ستړې محکمې د قاضیانو په اړه باید وویل شي چې د هغوی د کار موده تضمین شوي ده مګر دا چې ولسي جرګه وغواړي د ۱۲۷ مادې د طرزالعمل په رڼا کې هغوی له دندې څخه ګوښه کړي.

د ۲۰۱۲ کال د آګست په میاشت کې عبدالرحیم وردګ، د دفاع وزیر او بسم الله خان محمدی د کورنیو چارو وزیر د پارلمان له خوا استجواب شول، او دواړو ؤنشو کړای چې د نه باور رایې څخه بچ شي. دا چې ولي دوی د استیضاح لپاره پارلمان ته راوغوښتل شو او د نه باور رایه ورکړل شوه دا وه چې افغانستان د پاکستان له خوا په کنر کې د راکټ اورولو په وړاندې روښانه غبرګون نه درلود. د نظر خاوندان یادونه کوي چې وزیر هم د عامه څرګندو تومتو په اړه چې دواړو له خپل موقف څخه د شخصي ګټو لپاره غلطه استفاده کړې وه، تر پوښتنې لاندې راغلل. وزیر وردک تورن وو چې د ناټو له قراردادونو څخه چې یوې خصوصي امنیتي کمپنۍ ته ورکول شوي وو، او کمپنۍ هم د نوموړي د زوی، حامد وردک وه، مالي ګټه پورته کړې ده.[۲۱۰] په همدې ډول بسم الله خان تورن وو چې حکومتي ګومارنې یې د لیاقت پر اساس نه، بلکې د "شخصي او ګوندي علاقې" پر اساس کړې دي.[۲۱۱] ارګ په رسمي توګه د نه باور رایې ومنلې او اعلان یې کړه چې دواړه وزیران به د سرپرستو وزیرانو په توګه یوازې تر هغه خپلو دندو ته دوام ورکړي چې ځای ناست یې د ولسمشر له خوا وټاکل شي. یوازې یوه میاشت وروسته، بسم الله خان د ولسمشر له خوا د وردګ په ځای دفاع د وزیر په توګه وټاکل شوه په خورا تعجب سره ولسي جرګې د دفاع د وزیر په حیث د هغه ټاکل په لوي اکثریت تایېد کړل. په حقیقت کې، په ولسي جرګې کې د هغه د تایېد په غونډه کې، د ولسي جرګې هغو غړو چې پخوا یې د کورنیو چارو د وزیر په توګه د هغه پر ضد رایه ورکړې وه، یوه پوښتنه هم ؤنه کړ چې ولي اوس هغه بل اړوند او نږدې وزارت ته مناسب ؤګڼل شو.[۲۱۲]

۲۰۶ *د سرپرستو وزیرانو لپاره قانون (رسمي جریده* ۱۰۵۱ شمیره)، ۲۰۱۱ (۱۳۹۰ لمریز کال).

۲۰۷ سکارت واردن، "په افغانستان کې محکمی ته د احضارولو لاربښوونکی کتاب"، *بهرنۍ پالیسی* د ۲۰۰۱ کال د جولای ۱۵ http://southasia.foreignpolicy.com/posts/2011/07/15/a_guide_to_afghan_impeachment (د ۲۰۱۴ کال د نومبر په لومړی نیټه د لاس موندنی وړ).

۲۰۸ *د افغانستان اساسی قانون*، ۱۲۷ مه ماده.

۲۰۹ غزال حارس، "ټاکنیزو شکایتونو ته رسېدنه"، ۲۷

۲۱۰ فبریزیو فاسچینی، "پارلمان کلیدی وزیران ګوښه کړل: دوه مرغان په یوه تیږه؟" د افغانستان د شننونکو شبکه. https://www.afghanistan-analysts.org/parliament-sacks-key-ministers-two-birds-with-one-stone/ د ۲۰۱۲ کال د آګست ۶ مه (د ۲۰۱۴ کال د نومبر په لومړی نیټه د لاس موندنې وړ).

۲۱۱ هماغه ځای.

۲۱۲ فبریویو فاسچیني، "د وزیرانو د ځای ډکول (۳): درې امنیتی وزیران وټاکل شول" د افغانستان د شننونکو شبکه https://www.afghanistan-analysts.org/filling-the-power-ministries-3-three-security-bosses-voted-in/ د ۲۰۱۲ کال سپتمبر ۱۵ (لاس موندنه د ۲۰۱۴ کال د نومبر ۱)

په **۲۰۱۳** کال کې په کورنیو چارو وزارت کې د بسم الله خان ځای ناست، مجتبی پتنګ، په ولسي جرګې کې استجواب او د نه باور رایې له لارې په داسې حال کې عزل شو چې لا یو کال یې هم د وزیر په توګه کار نه وو کړی. په ظاهر کې د پتنګ ګوښه کېدل د شورشیانو د مخ په ډېرېدلو حملو په نتیجه کې د ملکي کسانو د ټپي کېدو او مړه کېدلو په سبب وو.[۲۱۳] ارګ د غبرګون په توګه اعلان کړه چې موضوع به سترې محکمې ته راجع شي چې په دې اړه پرېکړه وکړي چې آیا د نه باور رایه د "قانون پر اساس" ورکړل شوې ده.[۲۱۴] په هر حال، مخکې له دې چې ستره محکمه وروستۍ پرېکړه وکړي، ولسمشر محمد عمر داوود زی د نوي کورنیو چارو د وزیر په توګه معرفي کړ.[۲۱۵] پتنګ پخپله د نه باور رایې په وړاندې اعتراض وکړ او ادعایې وکړه چې نوموړی د پارلمان له خوا **۱۷۲** ځلې غوښتل شوی "چې په دې حساب هغه یوازې یوه اونۍ د خلکو لپاره کار کړی ده».[۲۱۶]

په یو شمیر نورو مواردو کې پارلمان غوښتي دي وزیران په داسې شرایطو کې استجواب کړي چې په ښکاره توګه سیاسي هڅونه څرګندېږي.[۲۱۷] د **۲۰۱۳** په اپریل کې پارلمان **۱۱** وزیران ددې لپاره استجواب کړل چې د انکشافي بودجې په لګښت کې پاتې راغلي وو. ټولو **۱۱** وزیرانو وکړای شو چې د نه باور رایې څخه روغ خلاص شي. د **۲۰۱۳** کال په جولای کی پارلمان د مالیې وزیر عمر زاخیلوال ته هغه وخت د نه باور رایه ورکړه چې عمر زاخیلوال د پارلمان شپږ غړي په اداري فساد تورن کړل او لوی څارنوال د پارلمان له اړونده غړو څخه تحقیق پیل کړ.[۲۱۸] د نه باور رایې صادرولو پخپل واړ د اداري فساد یو فرهنګ رامینځ ته کړي چې پر اساس یې وزیران په منظمه توګه وکیلانو ته رشوت ورکوي، هغوی ته مرسته برابروی او د هغوی خپلوان ګوماري ترڅو د خپل ګوښه کېدو مخنیوی وکړي.[۲۱۹]

له یوې خوا، د پارلمان هڅې چې غواړي اجراییه قوه حساب ورکوونکې کړي ددې ښکارندوی ده چې د قواوو جلاوالی په عمل کې کار کوي. د وزیرانو استجواب او د هغوي د ګوښه کولو په لار کې هڅې د قدرت د څانګو له خوا د یو بل د کنټرول او انډول بیلګه ده.[۲۲۰] خو په هر حال د پارلمان لالهانده او نا معقول روش او د اجراییه قوي راز راز غبرګونونه نه په اساسي قانون ولاړ حکومت او نه سیاسي ثبات رامینځ ته کوي. پارلمان اړ ده چې د وزیرانو راغوښتل د اصولو په اساس ودروي، چیرې چې د هغوی هڅی په خاص ډول ددې لپاره نه وي چې د ولسمشر تقنیني کړنلاره ګډوډه کړي یا د شخصي ټکرونو د غچ اخیستنی لپاره وي. په همدې ډول، کله چې پارلمان د نه باور رایه صادره کړي اجراییه قوې ته لازمه ده چې باثباته غبرګون وښیي او هغه قبوله کړي.

۲۱۳ مارګاریتا شانکتی او حبیب خان طوطا خیل، "د افغان قانون جوړونکو رایه د کورنیو چارو د ګوښه کولو په هکله له مقاومت سره مخامخ شوه" *وال ستریت ژورنال*، http://online.wsj.com/news/articles/SB10001424127887323829104578621361368850572?mod=_newsreel_5 د ۲۰۱۳ کال د جولای ۲۲ مه (لاسرسی د ۲۰۱۴ کال د نومبر ۱)

۲۱۴ الجزیره، "کرزی د خپل وزیر د عزل په وړاندې مجادله کوي، "http://www.aljazeera.com/news/middleeast/2013/07/201372214513133381.html د ۲۰۱۳ کال د جولای ۲۲ مه (لاسرسی د ۲۰۱۴ کال د اپریل ۳ مه).

۲۱۵ د افغان حکومت مامور، شخصي نظر، د ۲۰۱۴ کال د اپریل ۳۰ مه.

۲۱۶ سین کاربری، "یو افغان وزیر د اتهام او محاکمې په وړاندې غبرګون ښیي، " -http://www.npr.org/blogs/parallels/2013/07/23/204766731/an-afghan-minister-fires-back-at-impeachment-attempt ، NPR د ۲۰۱۳ کال د جولای ۲۳ مه (لاسرسی د ۲۰۱۴ کال د نومبر ۱)

۲۱۷ د ګران هیواد او توماس روتیګ، "د وزیرانو احضارول، پارلمان خپل تصور ویجاړوي" د افغانستان د شننونکو شبکه -http://www.afghanistan-analysts.org/summoning-the-ministers-parliament-damages-its-own-image/ د ۲۰۱۳ کال (لاسرسی د ۲۰۱۴ کال د نومبر ۱)

۲۱۸ ګران هیواد، توماس روتیګ او کلا دیو فرانکو، "بالمثل عمل- او ډیربد: د پارلمان او حکومت تر منځ اوږد دښمني، " د افغانستان د شننونکو شبکه -https://www.afghanistan-analysts.org/tit-for-tat-and-worse-the-long-history-of-enmity-between-parliament-and-government/23 د ۲۰۱۳ کال د جولای ۲۳ مه، (لاسرسی د ۲۰۱۴ کال د نومبر ۱).

۲۱۹ ګران هیواد، "د وزیرانو احضارول".

۲۲۰ ګینز برګ تام، او حق عزیز، "اساسي قوانین به د افغان په قضیې کې څه وکړي؟" *د دموکراسی ژورنال* ۲۴: ۱۱۲ (۲۰۱۴): ۱۳۰-۱۱۲.

# ۸. پایله

د تاریخي او عملي سببونو پراساس، په ۲۰۰۴ کال اساسي قانون کې په پوهاوي سره پریکړه وشوه، چې قدرت مرکزي شي او یوه واکمنه اجرائیه قوه رامینځ ته شي چې ټول حکومت په کار واچوي. اجرائیه قوه د اساسي قانون پراساس پراخ واک لري چې قوانین جوړ کړي، او د ټولې قضائیه قوې په ګومارلو باندې پوره کنټرول لري. دې موضوع د دولت په دریو واړو څانګو کې د قواوو پر جلاوالي او انډول باندې د لید وړ تاثیر اچولی ده. وروسته قدمونه چې د اساسي قانون د تطبیق لپاره پورته شوی، لکه د واحد او نه لیږدیدونکې رایې سیستم (SNTV) پلې کیدل، یو ویشل شوی پارلمان رامینځ ته کړی ده چې ددې وړتیا نه لري چې سیاسي اتحادونه جوړ کړي. په همدې ډول، قضائیه قوې هڅه کړې ده چې د یوې خپلواکې څانګې په توګه ایجاد شي. د یادونې وړ ده چې قضائیه قوه له یوې خوا د اساسي قانون د کمزوري جوړښت له کبله او همدا دول له بلې خوا د تاریخي جوړښتیز ظرفیت په نه لرلو سره، پوره خپلواکي نه لري. په پای کې د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون پراساس هم مقننه او هم قضائیه قوې هڅه کړې چې د نظارت له واک څخه په اغیزمنه توګه ګټه پورته کړي او اجرائیه قوه حساب ورکوونکې کړي.

د سپنتا پیښې د اساسي قانون په چوکاټ کې تشې او د دولت د هرې څانګې کمزوري رابرسیره کړې. د بحران په جریان کې اجرائیه قوې خپله پاینښت لرونکې اراده وښوده چې لیوالتیا لري له اساسي قانون څخه پورته کړنې ولري. دا موضوع یوازې ددې له کبله نه وه چې اجرائیه قوې خراب نیت درلود، بلکې له اساسي قانون څخه لوړې کړنې په دې سبب هم وې چې په اوسنی اساسي قانون کې ابهامات او تشې شتون لري. پارلمان چې ویشل شوی، او د اجرائیه قوې له نه اعتماد سره مخامخ وو، هڅه وکړه له څو غبرګونونو څخه له یوه غبرګون (که څه هم یوازنۍ وسیله نه وه) څخه ګټه پورته کړي او د انفرادي وزیرانو په مقابل کې، غږ واخلي. ستره محکمه چې د اجرائیه قوې په وړاندې یې یو ډول احسان مندي درلوده، دې خبرې ته ادامه ورکړه چې قضایي کتنې په داسې ډول ترسره کړي چې د حکومت رضایت لاس ته راوړي. راتلونکې سیاسي بحران په جدیت سره د اساسي قانون اوسنۍ چوکاټ تر آزماینښت لاندې ونیو، او څرګنده شوه چې په ډیرو سختو شیبو کې د دولت هره قوه د اساسي قانون پراساس د بلې قوې واکونه او دندې نه مني.

داسې ویل کیږي چې د اساسي قانون دغه زور وهل مازې د یوې نوې دموکراسۍ "مخ په ودې دردونه" دي. په حقیقت کې د اجرائیه او مقننه قواوو ترمینځ اختلاف ددې ښکارندوی ده چې د قواوو ترمینځ کنټرول عملي کیږي، د افغانستان په شرایطو کې داسې ادعاګانې په څیر کتنې ته ضرورت لري. له یوې خوا په داسې وخت کې چې د اعتماد ضرورت ډیر لیدل کیږي، دغه سیاسي او د اساسي قانون شخړې د حکومت په ادارو باندې د خلکو باور له مینځه وړې. ماتیدونکې امنیتي چاپیریال ته په کتنې سره، تل دا پوښتنه رابرسیره کیږي چې آیا افغانستان هومره ماتیدونکی ده چې د دا ډول اساسي قانونیت بې علاقې کیدلو په وړاندې ټینګار وکړي؟

له لس کلونو بحث څخه وروسته چې آیا د صدراعظم یا اجرائیه رییس مقام د افغانستان د اساسي قانون پراساس رامینځ ته شي که څنګه، د ۲۰۱۴ کال د جون ۱۴ مې نیټې د ولسمشرۍ ټاکنو په اړه د اختلافونو په مینځ کې موافقه وشوه چې د ملي یووالی حکومت جوړ شي. په خواشینۍ سره باید وویل شي چې د حکومت د سیستم د بدلون په هکله بحث او د عظمی صدارت یا اجرائیه ریاست مقام جوړول د دولت د ادارو ترمینځ د کنټرول او انډول لپاره نه وو، بلکې په دې اړه بیړه د یوې تودې مناقشې څخه ډکې ټاکنې د سیاسي حل د پیدا کولو لپاره وې.

د ملي یووالی د حکومت په شرایطو کې، د قواوو د جلاوالي په اړه پوښتنې ځانګړې اهمیت پیدا کوي. په داسې حال کې چې د ملي یووالی حکومت هڅه کوي نوې نوماند وزیران وټاکي، د ولسي جرګې نیت په دې اړه چې نوماند وزیران به په وخت سره تایید کړي او وزیران وکړای شي، په وخت خپل موقفونه ترلاسه کړي، ډاډمن نه ښکاري. په ځانګړې توګه د وزیرانو په وړاندې د نه باور رایې امکانات به وضعیت لاپیچلی کړي. دې خبرې ته په پاملرنې سره چې نوماند وزیران د اجرائیه رییس او ولسمشر ترمینځ ویشل شوي دي، او د "اجرائیه رییس د نوماندانو" او "د ولسمشر د نوماندانو" په وړاندې د ولسي جرګې، سترې محکمې، او حتی د اساسي قانون پر تطبیق باندې د څارنې خپلواک کمیسیون له خوا توپیري چال چلند به غټ سیاسي خصومت او بې باوري د دولت د مختلفو څانګو ترمینځ او په همدې ډول د اجرائیه قوې ترمینځ راپیدا کړي. د بېلګې په توګه، که چیرې ولسمشر وغواړي د خپل نوماند په هکله د نه باور رایه رد کړي او د اجرائیه رییس د نوماند په اړه د نه باور رایه ؤمني، نو پایله به یې یو مهم سیاسي انشعاب او په پای کې به د ملي یووالی د حکومت موافقت لیک کمزوری کړي. ددې ترڅنګ، ښایي پارلمان له دې تاوتریخوالی څخه ګټه پورته کړي او هغه وزیران خپل هدف وګرځوي چې د اجرائیه رییس او ولسمشر ترمینځ ښه نیت تر آزماینښت لاندې راولي.

په دې هکله ابهام چې کومه اداره د اساسي قانون د تفسیر واک لري، او کولای شي د اساسي قانون په اړه د اختلافونو فیصله وکړي، او د تفسیر پوښتنې ته یو لړ ځوابونه ورکړي چې د ملي یووالی د حکومت ترمینځ به بالقوه اختلافونه رامینځ ته کړي. د ملي یووالی په حکومت کې اختلاف یا د اساسي قانون د تفسیر پوښتنه محکمو یا خپلواک کمیسیون ته د استولو مخنیوی نه کوي. د موافقت لیک د عملي کیدلو لپاره د تقنیني فرمانونو تصویب کیدای شي د محکمې په وړاندې د اختلاف ټکی شي او یا د اساسي قانون د تفسیر د غوښتلو سبب شي. که داسې وګڼل شي چې خپلواک کمیسیون د اساسي قانون د تفسیر په اړه د پراخو مراجعو له خوا لکه د ولسمشر، ملي شورا، سترې محکمې، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، د ټاکنو خپلواک کمیسیون، او اداری اصلاحاتو او ملکی خدمتونو خپلواک کمیسیون، له خوا د پوښتنو د اوریدلو قضایي صلاحیت لري نو هر یو کولای شي د موافقت لیک د عملي کولو لپاره له خپلواک کمیسیون څخه وغواړي چې د اساسي قانون په رڼا کې پوښتنو ته ځواب ووایي.

په پای کې، د اساسي قانون په اړه پوښتنو ته چې د قواوو په جلاوالي پورې اړه ولري باید هرو مرو د افغانو له خوا ځواب درکړ شي. باید د دولت درې واړه څانګې یوه سیاسي او همدا ډول یوه قانوني د حل لاره پیدا کړي. په ځانګړې توګه، باید د دولت درې ځواکونه د اساسي قانون په اړه د هرې څانګې ونډه په دقت سره معلومه کړي او هرو مرو یوې سیاسي موافقې ته سره ورسیږي. دا خبره ډېره ضروري ده چې د حل هره لار چې پر هغې توافق شوی وي د اساسي قانون له اوسني چوکاټ سره تطابق ولري. په اوسنیو شرایطو کې، په آجنداء کې د اساسي قانون د تعدیل شاملول د ټولو د ملاتړ څخه برخمن ده، هڅونکې پریکړه دا ده چې ددې پوښتنو ځوابونه د یوې رسمي پروسې تر پیل کیدو پورې وځنډول شي. په هر حال، ځیني اختلافونه لکه کومه اداره د اساسي قانون د تفسیر واک لري، کیدای شي د قانون جوړونی له لارې چې د خپلواک کمیسیون او سترې محکمې ونډه ټاکي، حل شي. د پارلمان او اجراییه قوې ونډه، او دا چې ولسمشر به د قضایې بیا کتنې له لارې او یا د لویې جرګې د جوړولو له لارې تقنینه قوې نقش او ونډه څرګندوي، کیدای شي د سیاسي حل لارو په ذریعه حل شي.

# ۹. وړاندیزونه

اجراییه قوه

- د تقنینه فرمانونوله لارې له قانون څخه د ګټې اخستنې محدودول. اجراییه قوه اړینه ده چې د اساسي قانون د ۷۹ مې مادې غوښتنې ته پاملرنه وکړي، او تقنیني فرمانونه یوازې او یوازې د واقعي "بیړنیو ضرورتونو" پراساس نافذ او عملي کړي. په ځانګړې توګه، په هغو شرایطو کې چې تقنیني فرمانونه د ۷۹ مې مادې پراساس صادریږي، نو دا ډول فرمانونه باید هرو مرو د پارلمان د کار په بیا پیل کې د ۳۰ ورځو په جریان کې د اساسي قانون پر بنسټ د پارلمان مخ ته کینبودل شي.
- باید د نه باور رایو په وړاندې یوه پاینټ لرونکې داخلي پالیسي جوړه شي. په تیره بیا، اجراییه قوه باید اوسني قانون ته چې د سرپرستو وزیرانو د کار موده دوه میاشتې ښیي غاړه کنږدي.
- د قضاییه قوې د تقویې او غښتلی کیدو لپاره باید فوري قدمونه واخیستل شي. په دې هکله لومړنی اقدام د سترې محکمې خالی څوکیو ته د قاضیانو ګومارل دي. نورې مهمې مسئلې لکه د اساسي قانون د اصولو او شرایطو تطبیقول، د قاضیانو د معاش اصلاح کول، او قضاییه قوې ته د خپلې بودجې په جوړولو کې اختیار ورکول باید حل شي. په تیره بیا، اجراییه قوه باید له بودجې څخه په قضاییه قوې باندې د فشار په توګه کار اخیستلو څخه ډډه وکړي.
- اجراییه قوه باید له پارلمان، سترې محکمې، د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون او نورو شریکانو سره د سلا له لارې، داسې یو قانون وړاندېز کړي چې په څرګند او روښانه ډول د خپلواک کمیسیون او سترې محکمې قضایې واک ترسیم کړي او دغه قانون باید د پارلمان له خوا تصویب شي.
- د پارلمان د غړو، سیاسي ګوندونو، ټاکنیزو ادارو او مدني ټولنې سره په مشوره او سلا، باید د ټاکنو سیستم سیاسي ګوندونو ته واوړي.
- داسې قانون باید نافذ شي چې د محکمو د قضایې کتنې دنده روښانه کړي، او د هغو فعالینو لړی، چې قضایې بیا کتنه وکړي، پراخه کړي.

قضاییه قوه

- ددې لپاره چې د وړ روزل شوو مسلکي حقوقي کارکوونکو، کښته محکمو د قاضیانو په شمول، لړوالی له مینځه ولاړ شي، قضاییه قوه باید له نورو شریکانو سره په مشوره کې، د قاضیانو د ظرفیت او لیاقت د لوړوالي لپاره جدي سمونې رامینځ ته کړي.
- کښته محکمود قاضیانود ګومارلو لپاره باید قضاییه قوه د ګومارلو د تنظیم لپاره لارښودونکی طرزالعملونه جوړ کړي ترڅو په کښته محکمو کې د وړتیا پراساس د مقررولو جریان ډاډمن شي
- قضاییه قوه اړینه ده چې د قضاییه قوې د قضایي خپلواکۍ د فرهنګ د رواجولو لپاره، لکه چې د ۲۰۰۴ کال په اساسي قانون کې ویل شوي دي، هڅه وکړي. د پیل د ټکی لپاره لازمه ده چې اداري او قضایي دندې په داسې ښه ترسره شي چې د یادې قوې خپلواکۍ ته زیان ونه رسیږي.

پارلمان

- له خپل تحقیقي واک څخه داسې ګټه پورته کړي چې د حکومت د کړو وړو نظارت په ښه توګه عملي شي. په تیره بیا، د ۸۹ مادې پراساس له خپل واک څخه د ځانګړیو کمیسیونونو په جوړولو کې داسې ګټه پورته کړي چې د حکومت د کړنو په اړه تحقیق ترسره کړي.
- پارلمان اړین دی چې د خپل تقنیني واک د عملي کولو د سمون لپاره ډیرې هڅې ترسره کړي. د بیلګې په توګه، ضرورت لیدل کیږي چې پارلمان د تسوید شوو او جوړ شوو قوانینو د کتنې لپاره خپل ظرفیت لوړ کړي.

د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون (ICOIC)

- خپلواک کمیسیون باید د دولت د نورو څانګو د نظارت لپاره خپله ونډه زیاته کړي، او په تیره بیا د ټولو فعالینو له خوا د اساسي قانون د تطبیق پلټنه ترسره کړي.
- لازمه ده چې د پوهاوي او پوهیدلو د زده کړې اهمیت، د پارلمان د غړو په شمول، د دولت د ټولو فعالینو له خوا درک شي. خپلواک کمیسیون باید د دولت د مامورینو په مینځ کې د اساسي قانون په اړه د پوهاوي او پوهې کچه لوړه کړي.
- خپلواک کمیسیون باید د سترې محکمې او خپلواک کمیسیون د مناسبې ونډې د روښانه کولو لپاره له اجراییه قوې، پارلمان او سترې محکمې سره توافق ته ورسیږي. د داسې موافقت لیک پراساس، باید خپلواک کمیسیون له داسې قانون څخه ملاتړ وکړي چې د دوو ادارو ونډه روښانه کړي.

## مدني ټولنې

- په دې اړه چې د دولت درې قواوې په عمل کې څنګه کار کوي، د لویې څېړنې سرته رسول ضروري کڼل کیږي، د بیلګې په توګه، اړینه ده چې مدني ټولنې هم د پارلمان او هم د قضاییه قوې ډیره څارنه وکړي. هغوی باید په دې هکله چې د پارلمان غړي څنګه رایه ورکوي، پارلماني کمیسیونونو څنګه کار کوي، پارلمان په څه ډول له خپل څارنیز واک څخه د بودجې په جریان کې ګټه اخلي او په همدې ډول د قضاییه قوې د نظریاتو په باره کې څه ډول کره کتنه کوي، د عامه خلکو پوهاوي لوړه کړي.

## نړیواله ټولنه

- نړیواله ټولنه د افغانستان د اساسي قانون ډیر احترام او عزت کوي. سیاسي حل لارې او نورې پرمختیایي مرستې، باید د شته اساسي قانون چوکاټ ټینګ او غښتلی کړي. د مثال په توګه، نړیواله ټولنه کولای شي کلیدي ګډون کوونکي وهڅوي چې د سترې محکمې او د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون د دقیق نقش او ونډې په اړه د هغوی ترمینځ د موافقې لپاره آسانتیاوې برابرې کړي.
- له ملي شورا سره مرسته وکړي چې د قوانینو تسوید او بیا کتنه په ښه ډول ترسره کړي. په تیره بیا پارلماني کمیټو ته د قوانینو په تسوید او بیا کتنه کې تخنیکی مرستې برابری کړي.

# ماخذ

Afghan Voices. "The implications of Donor Conditionalities on the Afghan Budget Process." http://www.afghanvoice.org.uk/avfm1/mypanel/pdfeng/Donor-condionalities-paper-20130705-204625.pdf (accessed 1 November 2014).

Al Jazeera. "Karzai Contests Firing of Afghan Minister." http://www.aljazeera.com/news/middleeast/2013/07/201372214513133381 html 22 July 2013 (accessed 3 April 2014).

Ali, Obaid. "Budget Through, Impeachments Pending: Wolesi Jirga went into Winter Recess." Kabul: Afghanistan Analysts Network, 2013. https://www.afghanistan-analysts.org/budget-through-impeachments-pending-wolesi-jirga-went-into-winter-recess/ (1 November 2014).

Ayub, Fatima, Antonella Deledda and Patricia Gossman. "Vetting Lessons for the 2009-10 Elections in Afghanistan." New York: International Centre for Transitional Justice, 2009.

*Baker v. Carr.* 369 U.S. 186.

Bellamy, Richard. "The Political Form of a Constitution: The Separation of Powers, Rights and Representative Democracy." In *The Rule of Law and Separation of Powers*, edited by Richard Bellamy, 253-274, London: Asghate, 2005.

Buchholz, Benjamin. "The Nation's Voice? Afghanistan's Loya Jirgas in the Historical Context." Kabul: Afghanistan Analysts Network, 2013. https://www.afghanistan-analysts.org/the-nations-voice-afghanistans-loya-jirgas-in-thehistorical-context/ (accessed 1 November 2014).

Carberry, Sean. "An Afghan Minister Fires Back at Impeachment Attempt." NPR, 23 July 2013. http://www.npr.org/blogs/parallels/2013/07/23/204766731/an-afghan-minister-fires-back-at-impeachment-attempt (accessed 1 November 2014).

Center on International Cooperation. "Afghanistan: Towards a New Constitution." New York: New York University, 2013.

Choper, Jesse. "The Political Question Doctrine: Suggested Criteria." *Duke Law Journal* 54, 6 (2005):1457-1523.

Clark, Kate. "Afghan President Pardons Men Convicted of Bayonet Gang Rape." The *Independent*, 24 August 2008. http://www.independent.co.uk/news/world/asia/afghan-President-pardons-men-convicted-of-bayonet-gang-rape-907663.html (accessed 10 January 2015).

Clark, Kate. "Traditional Loya Jirga 4: Lackluster Political Theatre (amended)." Kabul: Afghanistan Analysts Network, 2011. https://www.afghanistan-analysts.org/traditional-loyajirga-4-lacklustrepolitical-theatre-amended/ (accessed 1 November 2014).

Coburn, Noah. "Political Economy of the Wolesi Jirga: Sources of Finance and their Impact on Representation in Afghanistan's Parliament." Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit, 2011, 7-8.

*Constitution of Afghanistan*, 2004 (SY 1382).

Delesgues, Lorenzo and Yama Torabi. "Reconstruction National Integrity System Survey." Kabul: Integrity Watch Afghanistan, 2007.

Dempsey, John and J. Alexander Thier. "Resolving the Crisis over Constitutional Interpretation in Afghanistan." USIP Peace Briefing. Washington, DC: United States Institute of Peace, 2009. http://www.usip.org/sites/default/files/USIP_0309_2.PDF.

Dycus, Stephen, Arthur Berney, William C. Banks, and Peter Raven-Hansen. *National Security Law.* Wolters Kleur, 2007.

Ehler, Rose, Elizabeth Espinosa, Jane Farrington, Gabe Ledeen, and Daniel Lewis. *An Introduction to the Constitutional Law of Afghanistan*. Stanford: Afghanistan Legal Education Project, 2013.

Foschini, Fabrizio. "Parliament Sacks Key Ministers: Two Birds with One Stone?" Kabul: Afghanistan Analysts Network, 2012. https://www.afghanistan-analysts.org/parliament-sacks-key-ministers-twobirds-with-one-stone/ (accessed 25 October 2014).

Foschini, Fabrizio. "Filling the Power Ministries (3): Three Security Bosses Voted In." Kabul: Afghanistan Analysts Network, 2012. https://www.afghanistan-analysts.org/filling-the-power-ministries-3-threesecurity-bosses-voted-in/ (accessed 1 November 2014).

Gall, Carlotta. "Afghan Legislators Vote Out Foreign Minister." *New York Times*, 13 May 2007. http://www.nytimes.com/2007/05/13/world/asia/13kabul.html?fta=y&_r=0 (accessed 22 August 2014).

Gerhardt, Michael. "Rediscovering Nonjusticiability: Judicial Review of Impeachments After Nixon." *Duke Law Journal* 44, no. 2 (1994): 231-276.

Ginsburg, Tom. "Comparative Constitutional Review." Kabul: Comparative Constitutions Project, 2008. http://comparativeconstitutionsproject.org/files/constitutional_review.pdf (accessed 8 March 2015).

Ginsburg, Tom and Aziz Huq. "What Can Constitutions Do?: The Afghan Case." *Journal of Democracy* 25, no. 3 (2014): 116-130.

Ginsburg, Tom and Aziz Huq. "Afghanistan's Constitution at Ten." *Foreign Policy*, 4 March 2014. http://foreignpolicy.com/2014/03/04/afghanistans-constitution-at-ten/ (accessed 1 November 2014).

Ginsburg, Tom. "Kabul Update: Constitutional Confusion Continues." Iconnectblog.com, 25 September 2011. http://www.iconnectblog.com/2011/09/kabul-update-constitutional-confusion-continues/ (accessed 1 November 2014).

Grote, Rainer. "Separation of Powers in the New Afghan Constitution," *ZaoRV* 64 (2004): 897 (2004).

Haress, Ghizaal. "Did Politics Compromise Afghanistan's Constitution?" *Foreign Policy,* 23 October 2014. http://southasia.foreignpolicy.com/posts/2014/10/23/did_politics_compromise_afghanistans_constitution (accessed 1 November 2014).

Haress, Ghizaal. "Adjudicating Electoral Disputes: The Perils of Unconstitutionalism." Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit, 2014.

Hashimzai, Mohammad Qasim. "The Separation of Powers and the Problem of Constitutional Interpretation in Afghanistan." In *Constitutionalism in Islamic Countries: Between Upheaval and Continuity*, edited by Rainer Grote and Tilmann Roder, 665-81. New York: Oxford University Press, 2012.

Hewad, Gran and Thomas Ruttig. "Summoning the Ministers: Parliament Damages its Own Image." Kabul: Afghan Analysts Network, 2013. http://www.afghanistan-analysts.org/summoning-the-ministers-parliament-damages-its-own-image/ (accessed 1 November 2014).

Hewad, Gran, Thomas Ruttig and Claudio Franco. "Tit for Tat - and Worse: The Long History of Enmity between Parliament and Government." Kabul: Afghanistan Analysts Network, 2013. https://www.afghanistan-analysts.org/tit-for-tat-and-worse-the-long-history-of-enmity-between-parliamentand-government/ (accessed 1 November 2014).

Independent Commission for Overseeing the Implementation of the Constitution (ICOIC). "Independent Commission for Overseeing the Implementation of Constitution Yearbook." Discussing better ways of controlling and overseeing the implementation and developing detailed description of Constitution, 312-313, 2012 (SY 1391).

Independent Commission for Overseeing the Implementation of Constitution (ICOIC). "Independent Commission for Overseeing the Implementation of Constitution Yearbook." ICOIC opinion on acting members of supreme court and delay on introduction and designation of ministers, members of supreme court and high attorney, 36-37, 2011 (SY 1390).

Independent Commission for Overseeing the Implementation of Constitution (ICOIC). Legal opinion regarding formation of district and villages councils through non election, no. 5, 2012 (SY 1391).

Independent Commission for Overseeing the Implementation of Constitution (ICOIC). Legal opinion regarding compliance of anticorruption law design with the constitution, no. 7, 2012 (SY 1391).

Independent Commission for Overseeing the Implementation of Constitution (ICOIC). Legal opinion regarding final draft of the procedures for establishing temporary district council, no. 8, 2012 (SY 1391).

International Crisis Group. "Reforming Afghanistan's Broken Judiciary." Kabul: Asia Report No. 195, 2010. http://www.crisisgroup.org/en/regions/asia/south-asia/afghanistan/195-reforming-afghanistans-broken-judiciary.aspx.

International Crisis Group. "Afghanistan's Election Stalemate - Update Briefing." Kabul: Asia Briefing No. 117, 2011. http://www.crisisgroup.org~/media/Files/asia/south-asia/afghanistan/B11720Afghanistans%20Elections%20Stalemate.pdf (accessed 1 November 2014).

International Crisis Group. "Afghanistan: The Long, Hard Road to the 2014 Transition." Kabul: Asia Report No. 236, 2012. http://www.crisisgroup.org/en/regions/asia/south-asia/afghanistan/236-afghanistan-the-long-hard-road-to-the-2014-transition.aspx.

Ipp, Oren. "Parliamentary Oversight of the Security Sector in Afghanistan." In *Afghanistan's Security Sector Governance Challenges,* edited by Geneva Centre for the Democratic Control of Armed Forces Afghanistan Group, 89-106. Geneva: Geneva Centre for the Democratic Control of Armed Forces, 2010. http://www.dcaf.ch/Publications/Afghanistan-s-Security-Sector-Governance-Challenges.Armed Forces, 2010.

Jayakody, Aruni. "Constitutional Implications of a National Unity Government." Afghanistan Research and Evaluation Unit Blog, 28 September 2014. http://www.areu.org.af/Blog.aspx?contentid=1000 (accessed 1 November 2014).

Judicial Verdict no. 5, 25 Hamal 1388.

Kamali, Hashim. "Afghanistan's Constitution Ten Years On: What are the Issues?" Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit, 2014.

Kouvo, Sari. "Six Years Late, the Constitutional Commission is Formed; but Will it Take on President and Parliament." Kabul: Afghanistan Analysts Network, 2010. https://www.afghanistan-analysts.org/six-years-late-the-constitutional-commission-is-formed-but-will-it-take-on-president-and-parliament/ (accessed 1 November 2014).

Lau, Martin. "The Independence of Judges Under Islamic Law, International Law, and the New Afghan Constitution." *ZaoRV* 64 (2004): 917, 924.

Larson, Anna. "The Wolesi Jirga in Flux, 2010: Elections and Instability I." Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit, 2010. http://www.areu.org.af/Uploads/EditionPdfs/1030-The%20Wolesi%20Jirga%20in%20Flux%202010%20DP%20Web.pdf.

*Law for Acting Minister* (*Official Gazette* no. 1051), 2011 ( SY 1390).

*Law of Independent Commission for Overseeing the Implementation of the Constitution* (*Official Gazette* no. 986), 2009 (SY 1388).

Mahmodi, Musa. "Constitution." 02 April 2014.

*Marbury v. Madison*, 5 U.S. 137 (1803).

Montesquieu, Baron de (Charles Louis de Secondat). *The Spirit of Laws.* Vol. 1*, The Complete Works of M. de Montesquieu.* 1748, 6:199. http://oll.libertyfund.org/titles/837 (accessed 1 November 2014).

Moschtaghi, Ramin. *Max Planck Manual on the Organisation and Jurisdiction of Afghan Courts*. 2nd ed. Heidelberg and Kabul: 2009.

*Nixon v. United States* 113 S. Ct. 732.

Presidential Decree (No. 11371) 14 November 2010.

Rasooli, Ashraf. "Analysis and Critic to Afghanistan Constitution." Kabul: Saeed Press, 1389.

Riechmann, Deb. "Hamid Karzai, Afghanistan President, Pardons Imprisoned Rape Victim." *World Post*, 12 January 2011. http://www.huffingtonpost.com/2011/12/01/hamid-karzaiafghanistan_n_1123656.html (accessed 10 January 2015).

Reynolds, Andrew and John Carey. "Fixing Afghanistan's Electoral System Argument and Options for Reform." Kabul: Afghanistan Research and Evaluation Unit, 2012.

Roehrs, Christine and Sari Kouvo. "On a Knife's Edge: The Looming Parliamentary Debate About the Elimination of Violence Against Women Law." Kabul: Afghanistan Analysts Network, 2013. https://www.afghanistan-analysts.org/on-a-knifes-edge-the-looming-parliamentary-debate-about-theelimination-of-violence-against-women-law/ (accessed 1 November 2014).

Rubin, Barnett. "Crafting a Constitution for Afghanistan." *Journal of Democracy* 15, no. 3 (2004): 5-19.

Rubin, Barnett. "Is the Afghan National Unity Government a Roadmap for Negotiations with the Taliban?" *Foreign Policy,* 20 October 2014. http://southasia.foreignpolicy.com/posts/2014/10/20/is_the_afghan_unity_government_a_roadmap_for_negotiations_with_the_taliban (accessed 1 November 2014).

Semple, Kirk. "A Political Standoff Tests Afghan Leaders." *New York Times*, 25 September 2007. http://www.nytimes.com/2007/09/25/world/asia/25iht-afghan.4.7633584.html?pagewanted=all&_r=0 (accessed 1 November 2014).

Semple, Kirk. "In Afghanistan, Anger in Parliament Grows as President Defies Majority's Wishes." *New York Times,* 26 September 2007. http://www.nytimes.com/2007/09/26/world/asia/26afghan.html?_r=0 (accessed 25 October 2014).

Spanta Opinion. The Supreme Court of the Islamic Republic of Afghanistan, 13 May 2007.

Stancati, Margherita and Habib Khan Totakhil. "Afghan Lawmakers' Vote to Oust Interior Minister Runs into Resistance." *Wall Street Journal,* 22 July 2013. http://online.wsj.com/news/articles/SB10001424127887323829104578621361368850572?mod=_newsreel_5 (accessed 1 November 2014).

Thier, J. Alexander. "Re-establishing the Judicial System in Afghanistan." Stanford: Center on Democracy, Development and the Rule of Law, 2004. http://fsi.stanford.edu/publications/reestablishing_the_judicial_system_in_afghanistan, 10-11.

Tondini, Matteo. *Statebuilding and Justice Reform: Post-Conflict Reconstruction in Afghanistan.* New York: Routledge, 2010.

Van Biljert, Martine. "Continuing Tug of War between the Parliament and Karzai." Kabul: Afghanistan Analysts Network, 2010. http://www.afghanistan-analysts.org/continuing-tug-of-war-between-the-parliament-and-karzai/ (accessed 1 November 2014).

Wang, Carol. "Rule of Law in Afghanistan: Enabling a Constitutional Framework for Local Accountability." *Harvard International Law Journal* 55, no. 1 (2014): 211-249, 229.

Weinbaum, Marvin G. "Towards a More Effective Parliament?" In *Snapshots of an Intervention: The Unlearned Lessons of Afghanistan's Decade of Assistance,* edited by Martine Van Biljert and Sari Kouvo. Kabul: Afghanistan Analysts Network, 2012.

Wikileaks. "Cable from the US Embassy in Kabul: Afghan Parliament Flexes its Muscles: FM Spanta Loses No-Confidence Vote, Supreme Court to Review Decision." 14 May 2007, http://www.wikileaks.org/plusd/cables/07KABUL1605_a.html (accessed 22 August 2014).

Wikileaks. "Cable from the US Embassy in Kabul: Stepped up Iranian Influence Reaches Foreign Ministry." 23 May 2007. http://www.wikileaks.org/plusd/cables/07KABUL1724_a.html (accessed 22 August 2014).

Women Peace and Security Institute. "An Assessment Report: Functions and Transparency of the Lower House and its Concurrence with the Laws of Afghanistan, 2010-2013." Kabul: 2014. http://www.riwps-afghanistan.org/site_files/13783111101.pdf (accessed 10 January 2015).

Worden, Scott and Sylvana Sinha. "Constitutional Interpretation and the Continuing Crisis in Afghanistan." USIP Peace Briefing. Washington DC: United States Institute of Peace, 2011. http://www.usip.org/publications/constitutional-interpretation-and-the-continuing-crisis-in-afghanistan.

Worden, Scott. "A Guide to Afghan Impeachment." *Foreign Policy*, 15 July 2011. http://southasia.foreignpolicy.com/posts/2011/07/15/a_guide_to_afghan_impeachment (accessed 25 October 2014).

Zada, Jawed Hasan. "Qazi: Qanun shakni dar Afghanistan ba yek farhang mobadal shadeh ast." [Judge: Lawlessness in Afghanistan has become a culture]. Radio Azadi, 12 December 2013. http://da.azadiradio.org/content/article/25227511.html (accessed 22 April 2014).

## د څرګندونو لپاره ستاسي غوښتنې

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد ډېره علاقه لري چې ستاسو څخه اوري. په هر صورت که تاسی د دی واحد خپرونو لوستونکی یاست، یا مو د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد کې په لکچر یا ورکشاپ کې ګډون کړی وی، یا مو له کتابونو څخه استفاده کړی وی، یا مو د ادارې له کارونو او څېړنو سره آشنایی پیدا کړی وی، ستاسي څرګندونې او غوښتنې زمونږ لپاره ډېر د ارزښت وړ دی، ستاسی وړاندیزونه له مونږ سره مرسته کوی ترڅو خپل هدف په ښه توګه تعقیب او د خپلو کارونو لاسته راوړنې په ښه ځیر د خپلو خبرونو له لوستونکو سره شریکې کړو.

ترټولو اسانه لار د څرګندونو لپاره ستاسي غوښتنې د برښنا لیک له لاری areu@areu.org.af همدا رنګه تاسي کولای چې له مونږ سره په اړیکه کې شي ۰۷۹۹۲۰۸۵۴۸ (۰) ۹۳+

- تاسي په خپلواکه توګه نظر ورکولای شی، اما ستاسی ځوابونه او معلومات په دی اړه زمونږ لپاره ډیر ارزښناک تمامیږی
- له دی ادارې او د دی اداری له څېړنو سره څنګه اشنا شوی (د خپرونو له لاری، یا د دی اداری په غونډو یا مجلسونو کې ګډون له لاری)
- د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې له څېړنو د څه لپاره استفاده کوی
- د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې څیړنې څنګه ترلاسه کوی
- آیا له خپرونونه په برښنایي یا چاپي ځیر استفاده کوی
- د خپرونو معلوماتتاسو ته څه دول وړاندی شی
- ستاسو وړاندیزنه د دی اداری د څیړنو په اړه څه شی دی
- د افغانستان د څیرنی او ارزونی د اداری کومه خپرونه یا پیښه تاسوته په زړه پوری ده؟
- ستاسي په باور په کومو موارد و کې زمونږ کارونه ګټور تمامیږی
- علاقه، د دندی ساحه او یا ستاسی د مطالعی ځای

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې د واحد ورستنې خپرونې

| نیټه | د خپرونې نوم | لیکوال | پښتو | دری | دڅېړنې موضوع | د څېړنې دول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| اپریل ۲۰۱۵ | په افغانستان کې د قواوو جلاوالی:تیوری او عمل | اروني جیاکودی | ✔ | ✔ | حکومتداری | پالیسی پاڼه |
| اپریل ۲۰۱۵ | په افغانستان کې د اساسي حقونو تدریجي تکامل: ۱۹۲۴- ۲۰۰۴ | اروني جیاکودی | ✔ | ✔ | حکومتداری | پالیسی پاڼه |
| اپریل ۲۰۱۵ | د افغانستان د څېړنو خبر پاڼه - ۳۱ ګڼه | د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد | | | | څېړنیز خبرپاڼه |
| مارچ ۲۰۱۵ | د الف څخه تر یا د افغانستان لپاره مرستندوی لارښود دیارلسمه ګڼه ۲۰۱۵ | د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد | ✔ | ✔ | | کتاب |
| فبروری ۲۰۱۵ | په افغانستان کې ولایتي سیاست او حکومتولي: دننګرهار ولایت بېلګه | اشلی جکسن | | | پایښت لرونکی معیشت | پالیسی پاڼه |
| فبروری ۲۰۱۵ | د کار بازار، ټولنیزه نابرابری او په کابل کې ګډونکي | ریچارد مالت او ادم پين | | | پایښت لرونکی معیشت | پالیسی پاڼه |
| جنوری ۲۰۱۵ | د پیاز ټولنیز اهمیت: د افغانستان په ننګرهار کې د پیازو د بازار غیر رسمي قواعد او مقررات | جولیا مینویا، ادم پين او ومیق الله ممتاز | | | پایښت لرونکی معیشت | پالیسی پاڼه |
| دسمبر ۲۰۱۴ | کوچنیان ولی یوازی سفر کوی؟ د کوچنیانو، کورنیو او له افغانستان څخه د استوونکو ټولنو له نظره اروپا او نورو صنعتی هیوادونو ته د تګ انګیزې | چونا آر. اچاویز جنیفربګاپورو<br>لیحه ویلفر داری شکریه آزادمنش | ✔ | ✔ | کډوالي او نړیوالې شبکې | تحلیلی څېړنه |
| نوامبر ۲۰۱۴ | په افغانستان کې د ښځو او رهبریت: درسونه او وړاندیزونه | آریه نجات | ✔ | ✔ | حکومتداری | پالیسی پاڼه |
| نوامبر ۲۰۱۴ | د خلکو بنسټیزو حقونو ته یو ځغلنده کتنه: ننګوتی او فرصتونه | داکتر رنګین دادفر سپنتا | ✔ | ✔ | حکومتداری | موضوعي څېړنه |
| آګست ۲۰۱۴ | د افغانستان اساسي قانون لس کلن شوکومې ستونزې مطرحی دي؟ | داکتر محمد هاشم کمالی | ✔ | ✔ | حکومتداری | تحلیلی څېړنه |
| آګست ۲۰۱۴ | د افغانستان د ټاکنیزو ښخړودحل لپاره د میکانیزمونو وضعیت | اروني جیاکودی | ✔ | ✔ | حکومتداری | پالیسی پاڼه |
| آګست ۲۰۱۴ | ناهیلیتوب یا امیدواري؟ له ۱۳۹۳م (۲۰۱۴) کال څخه وروسته په افغانستان کې د کوکنار کښت | پاول فیشستین او دیوید منسفیلد | ✔ | ✔ | د طبیعی سرچینو مدیریت | پالیسی پاڼه |
| جون ۲۰۱۴ | په افغانستان کې ولایتي سیاست او حکومتولي: دننګرهار ولایت بېلګه | اشلی جکسن | ✔ | ✔ | پایښت لرونکی معیشت | موضوعي څېړنه |
| جون ۲۰۱۴ | د ګردی میز بحث: دافغانستان د ټولټاکنو تجربې | د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد | | | حکومتداری | د ګردی میز د بحث جریان |
| جون ۲۰۱۴ | له بدو یې بد تر کړ» د نښتو په ولایتونو هلمند او ننګرهار کې د کوکنارو کر ته پام | دیوید منسفیلد | ✔ | ✔ | د طبیعی سرچینو مدیریت | موضوعي څېړنه |
| می ۲۰۱۴ | افغانستان: د کلیو د جلاکولو او ارزوني لپاره د یوې طریقې جوړول | آدم پين | | | پایښت لرونکی معیشت | کاري قاعده |
| می ۲۰۱۴ | افغان ملی پوځ له مالي اړخونو ها خوا د پایښت پروړاندی پرتې ننګونې | انتونیو جیستازی او پیتر کوینتن | ✔ | ✔ | حکومتداری | تحلیلی څېړنه |
| اپریل ۲۰۱۴ | ټولنیز ملاتړ او د کار پروګرامونه څنګه په ټولنیزیوځایوالي کې ونډه اخلي؟ د افغانستان، بنګله دیش، هند او نیپال څخه شواهد | بابکن بابا جانیان، جسیکا هاګن-زانکر او ربیکا هولمز | ✔ | ✔ | جندر | ترکیبی څېړنه |
| اپریل ۲۰۱۴ | په افغانستان کی د برک ) BRAC ( د ژوندانه د مهارتونو د زده کړواو کاري مهارتونو د روزنې ونډه په تولنیز مشارکت کی | چونا اچاوز ،بابکن بابه جانین ،جسیکا هیګن زنکر | ✔ | ✔ | جندر | پالیسی پاڼه |
| اپریل ۲۰۱۴ | د کار او اشتغال موندنی کړنلاری څرنګه په افغانستان کې له ټولنیز ادغام سره مرسته کوی؟ د BRAC )برک( د ژوند د روزنیزو مهارتونو او د ځوانو ښځو د معیشت لپاره د زده کړې بیلګی | چونا آر. ایچاویز، بابکن بابا جانیان، جسیکا هاګن-زانکر، شاهین اکتر، او جنیفرباګوپورا | ✔ | ✔ | جندر | موضوعي څېړنه |
| اپریل ۲۰۱۴ | د خاورې ارزونه: په ۲۰۱۳ کال کې د بلخ او بدخشان په ولایتونو کې د کوکنارو کرکیله | پاول فیشستین | ✔ | ✔ | د طبیعی سرچینو مدیریت | موضوعي څېړنه |
| مارچ ۲۰۱۴ | د افغانستان د ټاکنیزو شکایتونو په اړه قضاوت او د قانون د نه مراعاتولو خطرونه | غزال حارث | ✔ | ✔ | حکومتداری | موضوعي څېړنه |
| مارچ ۲۰۱۴ | په افغانستان کې حکومتولي: یو پېژند | آریا نجات | | | حکومتداری | تحلیلی څېړنه |
| مارچ ۲۰۱۴ | په افغانستان کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو ( پانګونو ) پرمختګ او سیمه ییزه سوداګري | مجیب مشعل | | ✔ | سیاسی اقتصاد | کاري لیکنه |

ثـــيړنې د ښه
افغانســـتان
لپاره

ټولی خپرونې په دغه پاڼه کې د راښکته
کولو لپاره www.areu.org.af لاس ته
راوړی شی.

په کابل کې ددغه ادارې په دفتر کې چاپ
شوی کاپیانې هم موجودی دی.


**افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره**

دحاجي يعقوب له څلور لاری څخه د شهید د
څلورلارې په لور، کین اړخ ته دریمه کوڅه، ۱۴۴
کور، نوی ښار، کابل، افغانستان
تیلفون: ۵۴۸ ۲۰۸ ۷۹۹(۰)۹۳+
بریښنالیک:publications@areu.org.af
ویب پاڼه:www.areu.org.af


۱۳ کاله
باکیفیته څیړنه